# د نړۍ له ګوټ ګوټ نه

# د ماشـــو مــا نو د پا ره لنـډې کیـسې

راټولونکئ او ژباړونکئ: رڼاګل اریوبزی

المان د کسل ښار ۲۰۲۲م کال

# سریزه

وایي چې کیسه په حقیقت کې یوه لیږه اوخیالي تاریخچه، نکل، سانه یا افسانه اویا بیان دی چې په کې طبیعي قوانین لغوه شوي دي او تاریخي واقعیتونه ځای نه لري. مانا داچې په کیسوکې واقعي تیرې شوې پیښې نه بیانیږي او له سره خیالي دي. ځنې کیسې دبشر په تاریخ کې د ډیرو پخوانیو زمانو راهسې په شفاهي ډول له یوه نسل څخه وبل نسل ته سپارل شوې دي او ډیر اوږد تاریخ لري، خو- په پښتو ژبه کې د لنډ یو په شان- یې د ویلود قیقه نیټه، ځای او ویونکئ او یا بیا نووکئ مالوم نه دی. دا کیسې دولسي کیسو په نامه یادیږي. ولسي کیسې د کتاب د چاپ ( ټیپ ) هنر نه پخوانی تاریخ لري ۱۸م پیړۍ کې دځینو اروپایي هیوادو لیکوالانو او شاعرانو دخپلو هیوادونوولسي کیسې راټولې کړې، ویې لیکلې اود کتابونو په ډول یې خپرې کړي او د همدې ولسي کیسو نه په تقلید یې په خپله هم د کیسو په ایجادولواولیکلولاس پورې کړ. وایي چې داله سره لیکل شوې کیسې د هنري اوایجادي کیسو په نوم یادیږي. دایجادي کیسو ویونکي یا لیکونکي، دلیکلو نیټه او حتی ځای مالوم وی.
زموږ په هیواد کې دعلومو اکاډمۍ پخوا نۍ علمي غړې خدای بخښلې کبرا مظهري په ۱۹۸۰یمو کلونو کې په ننګرهار ولایت کې دهغه ځای دنکل ویونکو له خولې ننګرهارۍ کیسې لومړی په ټیپ ثبت کړې، بیایې په خپل قلم ولیکلې او د ( ننګرهارنکلونه ) ترعنوان لاندې یې دعلومو اکاډمۍ له لارې خپرې کړې. داچې په دې برخه کې دهیواد په نورو برخو کې څه نور کار شوی دی او که نه دی شوی، کوم مالومات نه لرم، خو باوري یم چې دهیواد ځوان او تکړه ادیبان او لیکوالان به د مو ضوع ارزښت له پامه نه باسي. په لومړي سرکې خو خلک یوازې د کیسو په خوند او ښکلا مین و چې په اوریدو یې په تیره بیا ماشومان له سره نه مړېد ل اوورته په رنګینو خیالونو کې ډوبید ل. ور پسې د تاریخ په اوږدو کې د کیسوروزنیز ارزښت راښکاره شو. داړوند پوهنیزو ښانګو ماهرانو، د پیدا ګوژۍ او اروا پو هنې استادانووښوده چې کیسې د ماشومانو داستعدادونو په وده اوروزنه کې ارزښتناک رول لوبوي. دکیسو په اوریدو او لوستو د ماشومانود لغتو زیرمه پراخیږي اود لوستو مهارت یې وچتیږې یانې د متن دلوستلو او په هغه باندې د پوهیدلو قابلیت یې لوړیږي. په ژبه کې ښه مهارت د ښوونځي دزده کړو په بیلابیلوښانګو کې دښه پرمختګ له پاره بنسټیز شرط دی.

د ښانګې ماهران کیسې دربښتینولۍ، نیک عمل، په سوله کې ژوند، مینې او عدم تشد د پیغام رسونکې ګڼي. دا پینځه ارزښتونه په حقیت کې اخلاقي ارزښتونه دي. کوچنیانو او ځوان نسل ته د دې ارزښتونو په انتقال کې کیسی ترخوږو مشورو اوځواکمنو نسیتونو اغیزناک او بریلی رول لوبوي یانې هغه څه چې دماشومانو داخلاقي روزنې په برخه کې دکیسو داوریدلو او لوستلو له لارې تر لاسه کیدلی شي دنسیتونو، مشورو اوممانعتونوپه واسطه نه شي تر لاسه کیدلی. په څه ناڅه ټولو کیسو کې د نیکو اوبدویا د نیکیو اوبد یو تر منځ لانجې او مقابلې نغښتې وي. دکیسې قهرمان مهربان، مینه ناک، زړور، صادق، اوهوښیاروې او د دې صفتونو په مرسته په پا ی کې په بدو بری ترلاسه کوي او بد یا بدو ته ماته ور کوي. ماشومان د دې قهرمان سره مینه ښیي او په خپلو خیالونو او فکرونو کې دهغه د اخلاقي صفتونو د خپلولو هڅې کوي. او داچې دکیسې قهرمان یو دم او په اسانۍ خپلې موخې ته نه رسیږي بلکې په دې لار کې د ډ ول ډ ول لانجو اوربړو سره مخامخ کیږي چې ورڅخه دراوتو له پاره بیلا بیلې لارې چارې لټوي او بیلا بیل میتودونه کاروي. دا هلې ځلې د ماشوم ذهني اومعنوي ځواکونه راویښوي، مشغولوي، اوفعالوي. کار پوهان په دې باوردي چې دماشوم د ذهني اوعقلي ځواکونوبیدارول، مشغولول اوفعالول دهغه عقلي ابتکار او فکري ځیرکتیا

پرمختګ چټکوي، ځيرکتيااوابتکاري ځواک يې پياوړی کوي، په ځان يې باور زياتيږي، د ډار اود بې وسۍ په احساس برى مومي او وجدان يې غښتلی کيږي. نو ځکه تصادفي نه دی چې د کيسو اوريدل او لوستل دښوونځي په زده کړو هم ژورې اغيزې لري. په دې برخه کې د يروعلمي څيړنوهم دا حقيقت څر ګند کړی دی چې کومو کوچنيا نو چې ډيرې کيسې اوريد لې او لوستلي وي، هغه کوچنيان دښوونځي په درسونو کې هم د نورو پر تله غښتلي وي. وينو چې د بشريت په ژوند کې د کيسوارزښت يوازې دهغوی په ښکلا او خوند نه ايساريږي بلکې د ماشومانو اود ځوان نسل د ښوونې او روزنې اغيزناکه وسيله او ارزښتناک ميتود هم ګڼل کيږي. نو ځکه مومسؤليت يوازې دکيسو په ليکلو او ژباړلو پای ته نه رسيږي، بايد د لوستلو، اورولو اواوريد لوکلتوريې هم پراخ شي تر څود ايستلي دزيار اوزحمت نه عملي ګټه هم تر لاسه شي.

کيسې د نړۍ دهر ولس د کلتور يوه برخه جوړوي يانې هر ولس ځانته کيسې لري چې تريوه حده پورې دهغه ولس دکلتور اوعقيدې ترجماني هم کوي، خو داچې دا ننی بشريت هم له سره دبابا آدم اولاد ګڼل کيږي يانې د پيدايښت يوه سرچينه لري، نو په کيسو کې يې هم د يوڅه توپيرونو ترڅنګ ورته والی هم ليدل کيږي اودا هم تر دې چې که توپيرونه د ورته والې سره پر تله شي نو د تلې د ورته والې پله راته درنه ښکاره کيږي. پاچاهان، شهزاد ګۍ او شهزاد ګان، د يوان، جادوګران، قصرونه، ځګلونه، دريابونه اوداسې نور څه ناڅه د ټولوولسونو په ډيرو کيسو کې ليدل کيږي. په دې کيسو کې چې د لته مارا ټولې کړي او له الماني ژبې نه په پښتو ژباړلي دي يوازې يوه يې افغاني ده، نورې ټولې بهرنۍ دي او ډيرې يې المانۍ دي. په ژباړنه کې مې تر وسه هڅه کړې ده چې ژباړنه داصل سره پوره سمون ولري. يوازې مې په ځينو کيسو کې د لوبغاړو دهغه نومونو په ځای دپښتو نومونه ځای په ځای کړي دي چې ويل يې په پښتو کې جنجالي راته ښکاريده او هم مې دهغه خوراکونو اوڅيښا کونو د نومونو دليکلو نه ډ ډه کړې ده چې داسلام په مبين دين کې حرام دي او دهغه په ځای مې د حلال خوراک او روا څيښاک نومونه ځای په ځای کړي دي.

| شمیر | د کیسي نوم | مخونه |
|---|---|---|
| ۱ | داړو انا | ۲-۱ |
| ۲ | لیوه اوګیدړ | ۳ |
| ۳ | ټولپوه ډاکټر | ۴ |
| ۴ | بزګر اوشیطان | ۵ |
| ۵ | د موشنګ په دانه ویده شهزادګۍ | ۶ |
| ۶ | درې لټان | ۷ |
| ۷ | آبي څراغ | ۱۰-۸ |
| ۸ | زوړ نیکه اودهغه لمسی | ۱۱ |
| ۹ | زوړسلطان | ۱۲ |
| ۱۰ | څلور هنرمند وروڼه | ۱۵-۱۳ |
| ۱۱ | چنډ ښ شا او پولادي پور دل خان | ۱۷-۱۶ |
| ۱۲ | دویاړې دروازه | ۱۸ |
| ۱۳ | په درواغو میینه شهزاد ګۍ | ۱۹ |
| ۱۴ | دچمن دوه موږکان | ۲۰ |
| ۱۵ | دوولس و روڼه | ۲۳-۲۱ |
| ۱۶ | بې عقله بختمل | ۲۴ |
| ۱۷ | تیربه ( مولی ) | ۲۶-۲۵ |
| ۱۸ | جانو، دجادو استاد | ۲۷ |
| ۱۹ | چینډ خان | ۲۸ |
| ۲۰ | خوږه حلوا | ۲۹ |
| ۲۱ | د کرستال ګلوله | ۳۱-۳۰ |
| ۲۲ | دهوښیارې کونګې کیسه | ۳۲ |
| ۲۳ | داغزیو ګلاب | ۳۴-۳۳ |
| ۲۴ | د بریمن څلور ښاري سازنده | ۳۶-۳۵ |
| ۲۵ | دبزګر هوښیاره لور | ۳۸-۳۷ |
| ۲۶ | درې وروڼه | ۳۹ |
| ۲۷ | دژوند اوبه | ۴۲-۴۰ |
| ۲۸ | دوولس ښکاریان | ۴۴-۴۳ |
| ۲۹ | رښتینی ملکری | ۴۵ |
| ۳۰ | زړور کنډونکۍ | ۴۷-۴۶ |
| ۳۱ | سپین او تور پیکۍ | ۵۲-۴۸ |
| ۳۲ | سپین مار | ۵۵-۵۳ |
| ۳۳ | سور خولۍ | ۵۷-۵۶ |
| ۳۴ | شهزادګۍ د موږک په جامه کې | ۵۸ |
| ۳۵ | شیطان او دهغه نیا | ۶۰-۵۹ |
| ۳۷ | غرڅنی او بړیخ | ۶۲-۶۱ |
| ۳۸ | ګیدړ او آس | ۶۳ |
| ۳۹ | دمزرې تحفه | ۶۵-۶۴ |
| ۴۱ | دشاتو مچیو ملکه | ۶۷-۶۶ |

| | | |
|---|---|---|
| ۴۲ | ځلور ملګري | ۶۸ |
| ۴۳ | ګیدړ او پشه | ۶۹ |
| ۴۴ | وړوکی ګیدړ | ۷۰ |
| ۴۵ | مزری او ګیدړ | ۷۱ |
| ۴۶ | هغه پش چې موزې یې په پښو وې | ۷۴-۷۲ |
| ۴۷ | هوښیارخان دبخت په ځپو کې | ۷۷-۷۵ |
| ۴۸ | په لوګیو تورد شیطان ورور | ۷۹-۷۸ |
| ۴۹ | تمساخ ( کرو کوډیل)او بیزو | ۸۰ |
| ۵۰ | بزګر او سلطان محمود | ۸۱ |

# داړو انا

یو وخت یوې کونډې دوې لوراني لرلې. یوه یې ډیره ښکلې او زیار ایستونکې وه او دا بله بې ډوله او تنبله وه. په کونډې دا بې ډوله او تنبله ډیره ګرانه وه، ځکه چې سکه لور یې وه اودا بله مجبوره وه چې د کور ټولې خچنې او چټلې پاکې کړي. دا غریبه هره ورځ د لویې لارې ترڅنګ د یوې چینې په غاړه کیناسته او دومره ډیره اوبدنه یې کوله چې د ګوتو نه یې وینې وڅڅیدې.

اخر خبره دې ته ورسیده چې سپرخی هم په وینو سور شو. دا چینې ته ورکږه شوه، ترڅوچې سپرخی ومینځې، خو له لاسه یې ختا شو او چینې ته ورولوید. جلی په ژړا میرې مور ته ورغله او داپیښه یې ورته بیان کړه. میره یې چې بې رحمه ښځه وه، په ډیره غوسه ورته و ویل چې:« سپرخی تا چینې ته غورځولی دی او ته به یې را باسې.» جلکوټې بیرته چینې ته لاړه او نه پوهیده چې څه وکړي. په ډیر ډار یې چینې ته ور ټوپ کړ، غوښتل یې چې سپرخی پیدا کړې او دځان سره یې راوباسي. دا بې هوشه شوه او کله چې بیرته رابیدارشوه، که ګوري چې په یوه ښکلي چمن کې پرته ده، لمر ځلیږي او هره خوا په زرګونو ګلان ولاړ دي. دا په دې چمن کې روانه شوه او د ډوډۍ پخولو یوه داش ته ورسیده چې د ډوډۍ نه ډک و. ډوډې چیغې وهلې چې:« آخ ! له دې ځایه مو وباسی، له دې ځایه مو وباسی او که نه نو سوزو، موږ لا د مخه پخې شوې یو.» جلۍ د ډوډۍ راباسلو لرګي ته لاس کړ او یوه په بله پسې یې ټولې ډوډۍ ګانې د داش نه را باسلې. تر دې وروسته بیا روانه شوه اویوې ونې ته راورسیده. دا ونه د سرو منو نه ډکه وه اوجلکوټې ته یې نار ی کړې چې:« ومو څنډه، ومو څنډه، موږ ټولې منې پخې یو.» دې منه وڅنډ له، او منې دباران په شان را تویېدلې، بیایې هم وڅنډ له اوورپسې یې بیا هم ترهغه پورې وڅنډ له، تر څو چې په ونه کې یوه منه هم پاتې نه شوه، منې یې را ټولې کړې او یو امبار یې ترې جوړ کړ. له دې ځایه بیا روانه شوه اویوه وړوکې کورګې ته ورسیده. په کورګي کې یوه زړه ښځه ناسته وه او د باندې یې کتل. دې ښځې ډیر لوی غاښونه درلودل، نوځکه جلکۍ ترې وډارشوه اوغوښتل یې چې وتښتي. بوډۍ په دې وخت کې ورناره کړه چې:« ګرانې بچۍ چیرته منډې وهې؟ دلته زما سره پاتې شه، که په کور مې ټول کارونه په ښه او منظم ډول وکړې، نوښه ژوند به ولرې. یوه ټکې ته باید ډیر پام وکړې او هغه دا چې زما بستره به ښه منظمه جوړوې او هر وخت به یې داسې څنډې چې بڼکې یې دواورې څپولو په شان په هوا شي ، زه میرمن داړو یم.» جلکۍ چې د داړو انا خوږې خبرې واوریدلې، په زړه یې ښې ولګید لې، ویې منلې او دهغې خد مت یې پیل کړه. دې د داړو انا د خوشالولو او خوشاله ساتلو له پاره ډیرې هڅې کولې، دهغې بستره یې په دومره قوت څنډله چې بڼکۍ یې د واورې دڅپولو په شان هرې خوا ته خپرید لې. ورسره د دې ژوند هم ډیر ښه و، پخې شوې او کباب شوې غوښې یې خورا ک و او یوه بده خبره یې هم نه ورته کوله. جلکوټۍ د داړو انا سره ډیر وخت تیر کړ، خو ورو په ورو خپه کیده او دا هم نه پوهیده چې ولې خپه ده. اخر په دې پوه شوه چې خپل ټا ټو بی یې یادیږی، که څه هم د لته یې ژوند تر خپل هیواد په زرګونو ځله ښه تیریده، خو بیا یې هم په خپل هیواد پسې زړه خوږیده. آخر یې داړو انا ته وویل چې:« خپل وطن مې یاد یږي او غواړم چې بیرته خپل ټاټوبې ته لاړه شم.» داړو انا ورته وویل چې:« دا خو ډیر ښه کار دی چې خپل ټا ټو بی دې یاد یږي، تا په پوره امانت زما ښه خدمت وکړه، نو ځکه غواړم چې په

خپله دې پاس خپل ټا ټو بې ته بوزم.» داړو انا جلۍ دلاس نه ونیوله او دیوې لویې دروازې په لور یې روانه کړه. دروازه خلاصه شوه اوکله چې جلۍ د دروازې لاندې ودریده، د سرو زرو یو زورور بارا ن پیل شواو دا ټوله طلا د هغې په بدن پورې ونښته او ټوله په سرو زرو کې پټه شوه. داړو انا ورته و ویل چې:« دا ستا برخه ده، ځکه چې تا ډ یر زیار وایست.» بیایې هغه سپرخی هم ور کړ چې په چینې کې ترې لویدلی و. په دې شیبې کې دروازه وتړل شوه او ورسره سم جلۍ هم په دې د نیا کې د مور کورته نږدې وه. کله چې انګړ ته ورسیده، دچینې په غاړه یو چرګ ولاړ واوناره یې چې:

« ککیغیغو،

زمونږ طلایې پیغله بیرته را سنته شوه.»

جلکې د مور کور ته ور ننوته اودا چې په سرو زرو پټه وه ، مور اوخور یې ښه هر کلی وکړ. دې چې په دې سفر کې څه لیدلي کتلي وو، دا ټول یې مور ته بیان کړل. مور یې چې پوه شوه چې دې په کومه لار دا دومره شتمنې تر لاسه کړه، نو خپلې ټنبلې لور ته یې هم دا بخت غوښته. دا یې هم داوبدلو له پاره د چینې غاړې ته واستوله. د دې له پاره چې سپرخی یې په وینو سور شي، په ګوتو یې ازغی چوخ کړ، سپرخۍ یې چینې ته وغورځاوه او په خپله یې هم چینی ته ور ټوپ کړ. دا هم دبلې په شان ښکلي چمن ته ورسیده او دهغې په لار روانه شوه، ترخوچې د ډوډۍ پخولو داش ته ورسیده. هلته بیا هم ډوډۍ چیغې وهلې چې.« ما له دې خایه وباسی، ما له دې ځایه وباسی او که نه سوزم، زه لا پخوا پخه شوې یم.» ټنبلې جلۍ و وی چې:« زه نه غواړم چې په تاسې ځان چټل کړم.» او په خپله لار روانه وه، ترخوچې دمڼې ونې ته راورسیده. ونې هم نارې کړې چې:« اخ ! ومې څنډی، ومې څنډی، موږ ټولې مڼې پخې یو.» ټنبلکې ورته و ویل چې:« که ومو څنډم، نو کیدای ښې چې کومه یوه مڼه مې په سر ولویږي.» دې خپل تګ ته دوام ورکړ او کله چې د داړو انا کورته ورسیده، نو هیڅ نه ډاریده، ځکه خبره وه چې هغه اوږده غا ښونه لري او په لومړۍ ورځ یې ځان دهغې نوکر کړ. په لومړۍ ورځ یې ډیر زیار وایست او سم کار یې وکړ، د بوډۍ خبرو ته یې غوږ نیو او هغه یې منلې، ځکه چې د هغه سرو زرو په فکر کې وه چې داړو انا به یې ورکړي.

په دوهمه ورځ یې ټنبلي پیل کړه، په دریمه ورځ نوره هم زیاته شوه او اخر خبره دې ته ورسیده چې نور نو سهار د بسترې نه هم نه پورته کیده. دې د داړو انا بستره هم نه جوړوله او نه یې داسې څنډله چې بڼکې یې په هوا کې خورې ورې شي. ډاړو انا هم ورو ورو ترې ستړې شوه او د نوکرۍ نه یې وباسله. ټنبلکه خوشاله شوه او په دې تمه وه چې اوس به د سرو زرو باران په و وریږي. داړو انا داهم دروازې ته بوتله او کله چې د دروازې لاندې و دریده د سرو زرو په ځای یې د بد بختۍ نه ډ ک تشت یې په سر را چپه شو او داړو انا ورته و ویل چې:« دا ستا د خدمتونو بیه ده.» او دروازه یې پسې وتړله. دا کور ته راغله، خو د طلا په ځای په بد بختیو پټه وه او کله چې دچینې په غاړه ولاړچرګ ولیده، ناره یې کړه چې:

« ککیغیغو،

زمونږ چټله پیغله بیرته راستنه شوه. »

بد بختې په دې جلۍ پورې داسې کلکه نښتې وه، چې تر مرګ پورې ترې جدا نه شوه.

[Liste von Märchen – Grimms Märchen – Grimmstories.co](Liste von Märchen – Grimms Märchen – Grimmstories.co)

## لیوه اوګید ړ

لیوه یو ګیدړ له ځان سره نیولی وه. لیوه به چې څه ویل، ګیدړ په له مجبوریته منل، ځکه چې لیوه په ګیدړ زورور و او ګیدړ په دې ارمان کې و چې ځان ترې خلاص کړي. یوه ورځ داسې پیښه شوه چې دواړه ځنګل ته لاړل. لیوه ګیدړ ته و ویل چې:« ګیدړ جانه دخوراک له پاره یو څه را پیدا کړه او کنه نو بیا تا خورم.» ګیدړ ورته و ویل چې:« هلته ماته د بزګر یو انګړ مالوم دی، چې یو څو تنکي وري هم پکې شته، که زړه دې غواړي وربه شو یو څه به ترې راوړو.» په لیوه داخبره ښه ولګیده، دواړه د بزګر دانګړ په لور روان شول. ګیدړ وری غلا کړ او لیوه ته یې ورکړ. لیوه وری وخوړ، خو ورته بس نه شو او غوښتل یې چې یو بل هم غلا کړي، نو ورپسی ورغی. لیوه د ګیدړ په څیرچالاک نه و او د وري مور په پوه شوه، وبغیده او شور ماشور یې جوړ کړه. بزګر خبر شو په بیړه یې ورمنډه کړه او هلته یې لیوه ولید او دومره یې و واهه چې ګوډ شو او په ژړا بیرته ګیدړ ته ورغی. لیوه ګیدړ ته و ویل چې:« زه ستا په مشوره بیا لاړم او غوښتل مې چې یوبل وری هم راونیسم، خو بزګر راغی، زښت ډیر یې و وهلم.» ګیدړ ورته و ویل چې.« ته ولې هبڅ نه مړیږی.»

بله ورځ بیا دواړه یو ځای په چکر و وتل او لیوه بیا ګیدړ ته و ویل چې:« ګیدړه ! ماته دخوړلو له پاره یو څه را پیدا کړه او کنه نو تا خورم.» ګیدړ په ځواب کې ورته ورته وویل چې:« زه دیوه بز ګر کور پیژنم، هلته د بزګرمیر من نن ماښام دهګیو پیرکي پخوي، ور به شو هغه په ترې راوړو.» دواړه روان شول. ګیدړ په پټه کور ته ور وښوییده، ایخوا او د یخوایې په پوره غور تر هغو وکتل ترڅو چې یې د پیرکیو شکور ولید، شپږ پیره کي یې ترې واخیستل، لیوه ته یې راوړل او ورته ویې ویل چې:« واخله، دا ستا خواړه دي.» او نور په خپله لار لاړ. لیوه دا شپږ پیرکي په یو ځل له مرئ تیر کړل او ویې ویل چې :« داخو ډ یر ښه خوند کوي.» بیا ور پسې روان شو او غوښتل یې چې په یو وار دا ټول شکور را واخلي. شکور ترې چپه شو، اواز د بزګر میرمنې واورید، پسې را و وته، چې ګوري لیوه دی. خلکو ته یې نارې کړې، خلک راټول شول ، لیوه یې را ګیرکړ او دومره یې و واهه چې دوې پښې یې ور ماتې کړې او په ژړا ځنګل کې ګیدړ ته ورغی او ورته ویې ویل چې:« زه دې په څه بده لار ور برابر کړم، بزګران را پسې راغلل او په وهلو وهلو یې زما پوست وایست.» ګیدړ بیا ورته وویل چې:« ته ولې هیڅ نه مړیږې:» په دوهمه ورځ، کله چې دوی دواړه بیا یو خای و وتل او لیوه ډیر په ستونځه ګوډ ګوډ راون و، بیایې ګیدړ ته وویل چې:« ګیدړه! ما ته خواړه پیدا کړه او که نه، تا خورم.» ګیدړ ورته و ویل چې:« زه یو سړی پیژنم چې حلاله یې کړې ده، په غوښه یې مالګه شیند لی، په تکاوئ کې یې ایښې ده او دا به راوړو.» لیوه و ویل چې.« دا ځل له تا سره یو ځای ځم، ځکه که چیرې بیا ګیرشم، ته به مرسته راسره وکړې.» ګیدړ ورته و ویل چې:« ښه ده، چې ته غواړې، نوراځه.» لارې ګودرې یې ور ښودلې، ترڅو چې ځانونه یې په تکاوې کې غوښې ته ورسول. غوښه پریمانه پرته وه. لیوه ور منډه کړه ، په خوړلو یې پیل وکړاو له ځان سره یې و ویل چې:« تر بس کولو پورې وخت ډیر دی.» ګید ړ هم غوښه خوړه، خو هرې خوا ته یې کتل او دهغه سوري په لور یې ډیرې منډې وهلې را وهلې، په کوم چې تکاوې ته راننوتلي وو. ده ځان ازمویه، تر څو د ومره چاغ نشي، چې بیا دتیښتې په وخت کې په سوري نه شي ننوتلی. لیوه ترې وپوښتل چې:« ګرانه ګیدړه، ولې دېخوا اوابخواته ته منډې وهې او په سوري اوزې او ننوزې؟» چالاک ګیدړ ور ته و ویل چې:« زه ګورم چې څوک را نشي. دومره ډیر مه نغره.» لیوه و ویل چې:« تر څو چې دا ټوله غوښه و نه خورم، له دې ځایه چبرته نه ځم.» په دې شیبه کې، بزګر د ګیدړ دټوپونو اواز وارید او تکا وې ته را کوز شو. ګیدړ چې بزګر ولید په یوه منډه د سور له لار ې و وت. لیوه هم دا لار ونیوه، خو هغه ډیره غوښه خوړلې وه او داسې چاغ شوی و چې په سوری کې نه ځاییده. د بزګر سره غټ د بی و او په هغه یې لیوه تر هغو وهه چې مړ شو. ګیدړ ځنګل ته وتښتید او په دې ډیر خوښ و چې دلیوه نه خلاص شو.

Liste von Märchen – Grimms Märchen – Grimmstories.com

## ټولپوه ډاکټر

په تیرو وختو کې او لرې لرې پخوانیو زمانو کې یو غریب او بې وزله بزګر اوسیده، دی چنګا ښ نومیده. چنګاښ دوه غوایان د رلودل، یوه ورځ یې دواړه په لرګیو بار او د ښار په لور روان کړل او د دواړو غوایانو بار یې په د وه ټنګو په یوه ډاکټر وپلورل. ډاکټر بزګر ته د لرګیو پیسې په داسې حال کې ور کړې، چې ښکلې میز ته په چوکې ناست و، ښه او خوندور شیان یې په مزه مزه خوړل او چېکل او بز ګر چې دا هرڅه ولیدل، نو په سر کې یې دا هیلې او ار مانونه را وپاریدل، چې کاشکې دی هم یو ډاکټر وی. چنګاښ خان یوه شیبه چپ ودرید، بیا په خبرو سر شواو وغږید. د ډاکټر نه یې وپوښتل چې ایا دی هم ډاکټر کیدای شي. ډاکټر ور ته و ویل چې:« هو! ډ یر ژرډاکټر کیدی شي.» بزګر ترې وپوښتل چې:« نو څه باید وکړم؟» ډاکټر ور ته و ویل چې لومړی د الفبا داسې یو کتاب را ونیسه چې کولنګي چرګ پکې وي؛ دوهم دا چې دواړه غوایان او کراچۍ دې وپلوره اوپه پیسو یې ځان ته د ډاکترۍ کالي او نور اړین سامان واخله او دریم یوه داسې لوحه را ونیسه چې په لیکل شوي وي:« زه ټولپوه ډاکتریم.» اوبیا دا لوحه دخپل کور د دروازې په سر ځوړند کړه.» څه چې ډاکتر ورته و ویل، هغه بزګر وکړل. ده یو څه ډاکتري وکړه، خو لا ډ یر وخت نه و تیر شوی چې د یوه ډیرشتمن نواب نه چا پیسې غلا کړې. یو چا نواب په دې خبر کړ چې دلته په دې کلي کې یو ټولپوه ډاکتراوسیږي او دی به ضرور په دې پوهیږي چې دا پیسې چا غلا کړي دي. نواب خپله ګاډۍ په آس پسې وتړله او د کلي په لور روان شو. د ډاکتر ځای ته ورغی او ویې پوښتل چې ایا دی هغه ټولپوه  ډاکټردی. ډاکتر ورته و ویل چې هو!همدا زه یم. اوس نو ډاکتر باید د نواب سره لاړ شي او د پیسو پته مالومه کړي. په دې ځای کې ډاکتر و ویل چې میر من یې هم باید ور سره لاړه شي. نواب صاحب د ټولپوه ډاکټردا غوښتنه ومنله، دواړه یې په ګاډۍ کې کینول او ټول یو ځای روان شول. کله چې د نواب انګړ ته را ورسیدل، د ډوډۍ میز تیارو. نواب و ویل چې لومړی به ډوډۍ وخورو. ټولپوه ډاکټر و ویل چې هو!، خو زما میر من به هم راسره وي. او س نو ټول د ډوډۍ په میز راټول شول او کله چې لومړی نوکر د ښو خوړو ډک غوري سره راښکاره شو، بزګر خپلې میرمنې ته و ویل چې:« ښځې! دایې لومړی و.»د ده مقصد دا و چې ګوندې دا لومړی نوکر دي چې ډوډۍ یې راوړه، خو نوکر د بزګر په خبره داسې پوه شو چې ګوندې دی لومړی غل دی. دا چې دی په رښتیا لومړی غل و، نو سخت وډار شواو دباندې یې خپلو اندیوالانو ته و ویل چې.« دا ټولپوه ډاکتر په هرڅه خبر دی، دا به زموږ له پاره ښه پایله ونه لري. ده و ویل چې زه لومړی وم.» د وهم نوکر هیڅ زړه نه شو کولی چې ورشي، خو مجبوررو. کله چې دی د غوري سره ورننوت، بزګر بیا خپله میرمن وچوخوله او ورته ویې ویل چې:« ښځې ګوره! دا دوهم دی.» دا دوهم نوکر هم سخت وډار شو او په بیړه و وت. دریم نوکر له همدې برخلیک سره مخامخ شو اوبزګر بیا خپلې میرمنې ته و ویل چې:« ښځې! دا دریم و.» څلورم نو کر ته ویل شوې و چې دي به په یوه سرپوښه لوښي کې خواړه راوړي. په لوښي کې چنګاښان وو. کله چې دا څلورم نوکر را ننوت، نواب ډاکتر ته و ویل چې اوس دې خپل هنر اوکمال ښکاره کړه او و وایه چې په دې سرپوښه لوښي کې څه ډول خواړه دي. بزګر لوښي ته په ځیر وکتل، خو نه پوهیده چې په لوښي کې به څه وي. لار ترې ورکه شوه او چیغه یې کړه چې :« اخ زه بې وزله چنګاښ!» نواب چې د چنګاښ نوم واورید، نو غږ یې کړ چې:« ډاکتر چې په دې راز پوه شو، نو په دې هم پوهیږي چې زما پیسې به د چا سره وي.» نوکران سخت وډار شول او یو یې ډاکترته اشاره وکړه چې یو ځل د باندې راشه. ډاکتر ورغی او دوی ټولو ومنله چې پیسې یې پټې کړې دي. نوکرانو ډاکتر ته و ویل چې موږ دا پیسې درکوو او سربیره پر دې تا ته هم ښې ډیرې پیسې در کوو، خو ته به موږ نواب ته دغلو په توګه نه په ګوته کوې او کنه هغه به موږ په دار کړي. بیا یې له ځان سره هغه ځای ته بوتله چې پیسې یې پکې پټې کړې وې. ډاکتر په دې خوښ شو، ورسره ویې منله، بیر ته را ننوت، میز ته کیناست او نواب ته یې و ویل چې.« ښاغلیه! اوس غواړم چې په خپل کتاب کې دپیسو پته مالومه کړم چې چیرته دي.» په دي وخت کې پنځم نوکرپه پټه بخارۍ ته ور وښوئید او هلته یې ځان پټ کړ. ده غوښتل ځان ته مالومه کړي چې ډاکتر په نورو کومو څیزونو پو هیږي. ډاکتر میز ته ناست دی او خپل د الفبا کتاب پاڼې اړوي او راړوي او غواړي چې کولنګي چرګ پکې پیدا کړي، خوداچې زر یې پیدا نه شو کړی، نو ویې ویل چې.« دلته خو یې او باید را ووزې.» په بخارۍ کې پټ نوکر ګمان وکړ چې ګوندې دی ښیي، په ډار او بیړه د بخارۍ نه را و وت اوناره یې کړه چې:« دا سړی په هر څه خبر دی.» اوس نو ټولپوه ډاکتر نواب ته هغه ځای ور وښود چیرته چې پیسې وې، خو دا یې ورته ونه ویل چې چا غلا کړې وې. په دې توګه یې د کار په بد ل د دواړو خوا وو نه ښې ډیرې پیسې ترلاسه کړې.

## بزګر اوشیطان

یو وخت یو هوښیار اوچالاک بزګر په خپله ځمکه کار او ژوند کاوه. د دې بزګر دکړو وړو په هکله ډېرې کيسې شته، خو تر ټولو په زړه پورې کيسه يې داده چې څنګه يې شيطان وغولاوه او يو احمق شی يې ترې جوړکړ.

کيسه داسې ده چې بزګر يو ځل بشپړه ورځ په خپله مځکه کې کار وکړ او مازديګر د لمر لويدو په وخت کې يې کور ته د تګ تياری ونيو، ويې ليدل چې په مځکه يې داور سکروټو يو امبار جوړ شوی دی. دی ورته حيران او ور روان شواو چې ګوري دسرو سکروټو په امبار يو تور وړوکی شيطان ناست دی. بزګر شيطان ته وويل چې:« ته لکه چې په کومه خزانه ناست وې.» شيطان ور ته وويل چې:« هو! زه د سرو اوسپينو زرو په دومره لويه خزانه ناست يم چې تا به په خپل ټول عمر کې هم نه وي ليدلي.» بزګر ورته دو ويل:« چې خزانه زما په مځکه کې پرته ده، نو خکه دا خزانه زما ده.» شيطان و ويل چې:« خزانه به هغه وخت ستاشي چې ته دوه کاله سر په سر دخپلې مځکې حاصل نيمايي برخه ما ته راکړې. زه پيسې ډېرې لرم، زما يوازې غلې او ميوې په کار دي.» بزګر د دې ماملې سره موافقه وکړه او دومره يې ورته و ويل چې:« د دې له پاره چې زما او ستا ترمنځ بيا کوم جنجال پيښ نه شي، نو سر له اوسه داسې ويش کوو چې دحاصل هغه برخه چې دمځکې په سر وي، ستا ده او هغه برخه چې د مځکې لاندې ده، زما ده.» دا ويش د شيطان خوښ شو او هوکړه يې ورسره وکړه. دې چالاک بزګر داځل په مځکه باندې ګجرې وکرلې. کله چې د حاصلاتو وخت راغی، شيطان هم رابنکاره شو تر څو خپله برخه تر لاسه کړي، خو چې ګوري د مځکې په سر نور څه نشته يوازې د ګجرو شنې او ځنې ژيړې شوې پاڼې پرتې دي او بزګر دخوشالې نه ډ ک په بيړه بيړه د مځکې نه ګجرې راباسي. شيطان بز ګرته و ويل چې:« داځل تا ګټه وکړه، خوبل وار دا ويش نه درسره منم. بل ځل به هغه څه ستا برخه وي چې د مځکې په سروې او څه چې تر مځکې لاندې وي زما برخه ده.» بزګر ورته و ويل چې:« سمه ده » دا ځل چې دکرنې وخت راورسيد، بزګر په مځکه ګجرې ونه کرلې، بلکې غنم يې وکرل. دغنمود لو وخت راورسيد، بزګر غنم ټيټ دمځکې په سر وريبل او کور ته يې يوړل او کله چې شيطان مځکې ته راغی، په ځمکې يې يوازې دغنمو وچې دروزې او ولی وليدې او نور هيڅ نه وو، نوله ډيرې غوسې دپرخو په تنګې سر شو او پرخې سره ټکر شو. بزګر دځان سره و ويل چې:« شيطان بايد داسې وغولول شي.» بيا په خزانې پسې ور غی، را ويې باسله او دځان سره يې کورته يوړه.

## د مو شنګ په دانه ویده شهزادګۍ

یو وخت یوه شهزاده غوښتل چې د یوې شهزادګۍ سره واده وکړي. باید هغه په رښتیا شهزادګۍ وي. په دې نیت له کوره ووت او په ټوله نړۍ وګرځید، تر څو چې داسې شهزادګۍ پیداکړي، خو نه پیدا کیده. شهزادګۍ خوډ یرې وې، خو هغه چې ده غوښته نه پیدا کیده. په هره یوه کې یې دغه یا هغه نیمګړتیا لیده اوهیڅ یوه هم ورته سمه شهزادګۍ نه ښکاریده. په خپګان او ناهیلۍ بیرته کورته را وګرځیده، ځکه چې ده یوه رښتینې شهزادګۍ غوښته، خو ویې نه مینده. یو ما ښام اسمان له تورو ډاروونکو وریځو ډک شو، غوریدا او بریښنا سر واخیست او دترې په شان باران اوریده، یو ډاروونکۍ حالت و. په دې وخت کې د ښار دروازه وټکول شوه، بوډا پاچا ور روان شو، ترڅو دروازه خلاسه کړي. که ګوري یوه شهزادګۍ ده چې دباندې د دروازې په وړاندې ولاړه ده. په دې باران او په دې خرابه هوا کې په ډیر بد حالت لیدل کیده. اوبه یې دسر له ویښتو په جامو بهید لې ، له جامو بیا بوټونو ته ور ننوتلې او له پوندو یې بیرته راوتلې. دې وویل چې زه په رښتیا شهزادګۍ یم. زړې ملکې د ځان سره و ویل چې دا به اوس مالومه کړو. دې ته یې څه ونه ویل، دخوب کوټې ته ننوتل او د بسترې په ځای یې دموشنګ یوه دانه کیښوده. بیا یې په هغې شل توشکونه یو په بل باندې واچول او په هغوی یې بیا دالوتونکو دبڼکو ډیر پاسته شل نور توشکونه هم واچول. دا دشهزادګۍ دخوب بستره شوه او ټوله شپه پکې ویده وه. په سهار ترې وپوښتل شو چې خوب یې څنګه و. هغې ورته وویل چې:« خوب مې ډیر خراب و، توله شپه مې سترګه پټه نه شوه، خدای خبر دی چې زما په بسترې کې څه شی و، په یوه کلک شي پرته وم، ټول بدن مې سور شین دی، به بد حال یم.»

له دې ښکاري چې هغه په رښتیا یوه شهزادګۍ وه، ځکه چې د شلو توشکونو او دالوتونکو د بڼکو دشلو نورو توشکونو لاندې یې هم دموشنګو دانه احساس کړه. بې له شهزادګۍ هیڅوک هم دومره حساس اوناځک کیدای نه شي.

شهزاده له هغې سره واده وکړ، ځکه پوه شو چې رښتنې شهزادګۍ یې بیامونده او دموشنګ دانه یې دهنرونو په خزانه کې کیښوده، کیدای شي چې هلته یې و وینو، خو په دې شرط، که چا غلا کړي نه وي.

ګوره، دا یوه رښتینې کیسه وه.

*Hans Christian Andersen*
*Quelle: projekt.gutenberg.de*

دري لټان

يو پاچا درې زامن د رلودل، درى واړه يو شان په ګران وو او نه پو هيد چې دمرګ وروسته کوم يوه ته خپله پا چاهي وروسپاري. کله چې د مرګ وخت يې راورسيد او په بستر کې پروت و، درې واړه يې راوغوښتل او ورته ويې ويل چې:« ګرانو زامنو! ما دځان سره څه فکر وکړ او غواړم چې درته ويې وايم او هغه هم دا چې هر يو چې په تاسي کې تر نورو زيات لټ وي، هغه بايد زما تر مرګ وروسته پاچا شي.» مشر زوى يې و ويل چې:« که داسي وي نو پاچاهي زما حق دى، ځکه زه دومره لټ يم چې، که دويده کيدو په وخت مې په ستر ګو کې څاڅکي راوڅاخي، نه يې پاکوم او غواړم چې ويده شم.» دوهم زوى يې پورته شو او ويې ويل چې:« پلاره دا پاچاهي زما حق دى، ځکه زه دومره لټه يم چې که اور ته کښينم، نو که پونده مې هم وسوزي، پښه نه شم راټولوم.» هلته يې دريم زوى نيغ را وچت شو او ويې ويل چې:« نه پلاره! دا پاچاهي زما حق دى، ځکه زه تر هغه بريد پورې لټه يم چې که د دار پرى مې په غاړه پروت وي، څوک يوه تيره چاړه په لاس کې راکړي او د پړي دغوڅولو اجازه هم ولرم، په دار خوښ يم خو د پړي دغوڅولو وس نه لرم.» کله چې پلار د وروستي زوى خبرې واوريدې، نو ويې ويل چې:« ته تر نورو وړاندې يې او بايد پاچاشې.»

[Liste von Märchen – Grimms Märchen – Grimmstories.com]

## آ بي څراغ

يو وخت يوه سرباز د ير كالونه د پاچا خدمت وكړ، خوكله چي جنګ پاى ته ورسيد او دې سرتيرى په همدې جنګ كي د4 ډير ځله ټپيي كيدو له امله نور خدمت نه شو كولى، نو پاچا ورته و ويل چي:« ور ځه كور ته لاړ شه، زه تا ته نوره اړ تيا نه لرم، تنخوا هم نه دركوم، ځكه تنخوا هغه چا ته وركول كيږي چي په بدل كي يي زما خد مت كوي.» سر تيرى اوس هيڅ نه پوهيده، چي په څه به ژوند كوي. دى غمجن روان شو، ټوله ورځ يي مزل وكړ اوماښام يوه ځنګل ته ورسيد. كله چي تياره شوه، د څراغ رڼا يي وليده، څراغ ته ور نژ دې شو او يوه كورته وررسيد او په دې كور كي يوه شيشكه اوسيده.

سرباز ورته و ويل چي:« ماته د شپي تيرولو له پاره يوځاى اويو څه خوراک او څيښاک راكړه او كه نه د لوږې او تندې نه مرم.» شيشكي ورته و ويل چي:« اوهو! څوک به هغه سرباز ته يو څه وركړي چي بي لارې شوى وي؟ خو زه به رحم در باندې وكړم او ځاى به در كړم، خو په دې شرط چي زه څه در ته وايم، ته به يي مني» سرباز ترې وپوښتل چي ته له ما څه غواړې؟» شيشكي ورته و ويل چي:« ته به سبا زما باغ واړوې.» سربازورسره ومنله ا و په سباورځ يي په خپل ټول ځواک كاروكړه، خوتر ماښامه يي پاى ته و نه رساوه. شيشكي ورته وويل چي:« دا سي راته ښكاري چي نن نور كار نه شي كولى. زه غواړم چي  يوه بله شپه هم راسره پاتي شي، خو په بدل كي يي بايد يو بار لرګي راته واره كړې.» سرتيري د دې لرګيو په ماتولو ټوله ورځ تيره كړه او ماښام شيشكي بيا ورته و ويل چي يوه شپه نور هم پاتي شي اوزيا ته يي كړه چي:« سبا به زما له پاره لږ كار وكړي، د لته زما د كور تر شا يو زوړ او وچ شوى څا دى، په دې څا كي را نه څراغ لويدلى دى، څراغ آبي رڼا كوي او نه خاموشيږي ، دا څراغ بايد د څانه راته را وباسي.» په بله ورځ يي له ځان سره روان كړ، څا يي وروښود او په يوې ټوكرى كي يي ور كته كړ. ده څراغ بيا موند او شيشكي ته يي اشاره وكړه چي دڅا نه يي راپورته كړي. شيشكي هغه د څا نه پورته راكش كړ او كله چي دڅا څنډو ته را ورسيد، شيشكي لاس ور اوږد كړ،  ترڅوڅراغ ترې واخلي، خوسرتيرى د هغې په شوم نيت پوه شو اورته ويي ويل چي:« نه! څراغ به هغه وخت دركړم چي په دواړو پښو د مځكي په سر ودريږم.» شيشكه ډيره په غوسه شوه، هغه يي پريښود چي بيرته څا ته ولويږي او ترې لاړه. بې وزله سرتيرى بيرته د څا په نمجنه مځكه ولويد، خو كوم زيان ور ونه رسيد. آبي څراغ بل و، خو پوښتنه داده چي، سرتيري ته يي څه ګټه رسوله؟ ده فكر كاوه چي اوس نو د مرګ نه د خلاصون لار نه شته، هلته يوه شيبه خپه كيناست او ناڅا په يي جيب ته لاس كړ. په جيب كي يي د تمباكو پايپ و، پايپ نيم بند و، د جيب نه يي را وايست، په آبي څراغ يي بل كړ او و يي ويل چي:« دامي د ژوند وروستي مزه ده.» او پايپ يي وڅكاوه. كله چي د پايپ لوګئ د څا په فضا كي تاو راتاو شو، ناڅا په  د سر تيري په وړاندې يو كوچني تور سړوكى ودريد او پوښتنه يي وكړه چي:« ښاغليه! څه امر كوي؟» سر تيري په حيرانى ځواب كي وركړ چي:« زه څه امر كولى شم؟» سړوكي ورته و ويل چي:« زه به ټول هغه څه وكړم چي ته يي راته و وايي.»

سر تيري و ويل :« چي دا سي وي نو لومړى مي له دې څا نه وباسه.» سړوكي سر تيرى تر لاس ونيو او د مځكي لاندې تونل له لارې يي له څا را وايست او آبي څراغ يي هم هير نه كړ. تور كوچني سړوكي په لار كي سر تيري ته د شيشكي ټولي هغه خزاني ور وښودلي، چي د وخت په اوږدو كي يي را ټولي كړې او هلته پټي ساتلي وې. سر تيري دومره طلا ګاني له ځان سره

واخيستې چې وړلی شوې. ورپسې يې سږو کې ته و ويل چې:« اوس ورشه، د شيشکې لاسونه او پښې وتړه  او محکمې ته يې وسپاره.» ډير وخت لا نه و تير شوی، چې شيشکه يې په يوه وحشي پش سپره په ډاروونکو چيغو تر مخ تيره شوه او ور پسې په لنډ وخت کې سږوکی بيرته راغی او ورته ويې ويل چې.« هر څه تر سره شول، شيشکه په دار ځوړند ده. ايا کوم بل امر شته ښا غليه؟» سرتيري و ويل چې:« اوس څه نشته، ځه کور ته ولاړ شه، خوبايد تيار اوسې، کله چې دې بيا راوغواړم بايد په بيړه راشې.» سږوکي ور ته و ويل چې:« غوښتلو ته اړ تيا نشته، کله چې ته خپل پايپ ته ابې څراغ ونيسې، زه به په همهغه شيبه کې ستا په وړاندې ولاړوم.» په همدې شيبه کې د سرتيري له ستر ګو پنا شو.

سر تيری بيرته هغه ښار ته لاړ، چې ترې راغلی و. دی ښو ښو رستورانونو او هوټلونو ته ورتله، ځانته يې ګران بيه فيشني جامې جوړې کړې او هوټل واله ته يې امر وکړه چې يوه تر ټولو ښکلې او مجلله کوټه ورته تياره کړي. کله چې کوټه تياره شوه او سرتيری ور ننوت، نو بيا يې تور کوچنی سږوکی را وغوښت او ورته ويې ويل چې:« ما په بشپړه وفادارۍ د پاچا خدمت وکړ، خو ده وشړلم او د لوږې سره يې مخامخ کړم، اوس غواړم چې غچ ترې واخلم.» سږوکي ترې وپوښتل چې:« زه څه بايد وکړم؟» سر تيري و ويل چې:« کله چې د پاچا لور دشپې له خوا په خپل پآلنګ کي ويده شي، بيايې د لته ماته راوله. دا بايد د يوې نوکرۍ په توګه زما خد مت وکړي.» سږو کي ورته و ويل چې دا زما له پاره ډ ير اسان او ستا له پاره ډير خطرناک کار دی. که څوک په دي کار خبر شي، نو تا ته به ډ يره سخته پايله و لري.» کله چې د شپې دوولس بجې شوې، دکوټې دروازه خلاصه شوه او سږوکي د پاچا لور ورننباسله.

سر تيري چې وليده نويې و ويل چې:« آها! دا ته دلته راغلې، له سره نوی کار پيل کړه، ريبز( جارو ) را واخله او دا کوټه پاکه جارو کړه.» کله چې داکار تمام شو، بيا يې يوې چوکۍ ته را وغوښبله، پښې يې ور وغزولې او ورته ويې ويل چې:« موزې مې له پښو وباسه.» بيا يې په همدې موزو په مخ و ويشته. دا مجبوره وه چې موزې د مځکې نه پور کړي، هغه پاکې او ځلانده رنګ کړي. دې په پټه خوله او نيمه پټو ستر ګو هر هغه څه کول چې، سرتيري به ويل. دلاس په يو اشاره سږو کي د پاچا لور بيرته په قصر کې خپل پالنګ ته ور وړه.

په سبا چې د پاچا لور د خوب نه راويښه شوه، پلا رته ورغله او ورته ويې ويل چې د شپې مې يو عجيبه خوب وليد:« زه په سږک د پړک په شان په چټکۍ د يوه سرتيري کوټې ته يوړل شوم، ما بايد د ده د نوکرۍ په شان د هغه خدمت کړی وی، مر دارې چارې مې سرته رسولې، کوټه مې جارو کوله او موزې مې پاکولې. دا خو يو خوب و، خو داسې ستومانه يم، لکه چې په رښتيا دا حال را باندې تير شوی وي.» پلار يې و ويل چې:« کيدای شي چې دا خوب نه، بلکې حقيقت وي، زه تا ته دا مشوره در کوم چې جيب دې د موشنګو نه ډک کړه او په تل کې يې يو کو چنی سوری وکړه. که کوم وخت بيا وړل کيږې، موشنګ به دانه دانه په لارې توئيږې او موږ ته به پته ولګيږي.» کله چې پاچا دا خبرې کولې، تور سږو کی يې په نه ليدونکې بڼه تر څنګ ولاړ و، ټولې يې واوريدلې. په بله شپه کله چې ويده شهزاد ګۍ بيا په لار وړل کيده، د جيب نه يې په لار د موشنګو دانې تويې شوې، خو ګټه يې ونه کړه، ځکه چې دې چالاک سږوکي لا پخوا په ټولو لارو د موشنګو دانې شندلې وې. د پاچا لور بياهم مجبوره وه چې تر سهار د چرګ ازان پورې نوکري وکړي.

په ور پسې سهار پاچا خپل نوکران ولیږل چې د موشنګو د دانو له مخې لار پیدا کړي، خو دا هلې ځلې بې ګټې وې، ځکه په ټولو لارو کې بې وزله کوچنیان ناست و، د موشنګو دانې یې ټولولې او ویل یې چې:« نن شپه د موشنګو باران شوی دی.» پاچا و ویل چې:« باید یو ه بله چاره وسنجوو، کله چې ویده کیږې، بوټونه دې له پښو، مه او باسه، مخکې تر دې چې له هغه ځایه بیرته راشې، یو بوټ دې هلته په کوم ځای کې پټ کیږده، زه یې بیا پیدا کولی شم.» تور سړوکی په دې خبرو پوه شو او کله چې ماښام بیا سر تیري وغوښتل چې د پاچا لور ور وړي، نو ده هغه له دې غو ښتنې منع کړ او ویې ویل چې، دی د دې چل په وړاندې هیڅ وسیله نه لري، او که پاچا د ده په کوټه کې بوټ پیدا کړې، نو دا کار به ورته ډیر سخت تمام شي. سر تیري ور ته و ویل چې:« څه، چې څه درته وایم هغسې وکړه.» د پاچا لور مجبوره وه چې په دریمه شپه هم د یوې نوکرې په شان کارو کړي؛ خو داځل وړاندې تر دې چې بیر ته یو وړل شي، یو بوټ یې تر بسترې لاندې پټ پری ښود.

په ور پسې ورځ پاچا امر وکړ چې په ټول ښار کې دې د ده د لور بوت ولټول شي. بوټ د سر تیرې سره پیدا شو او سرتیری د سړوکي په غوښتنه د دروازې له لار وتښتید، خو ډیرزر ونیول او په زندان کې واچول شو. د تیښتې په وخت کې یې تر ټولو ګران شیان یانې آبې څراغ او طلا له یاده و وتل او په کوټه کې ترې پاتې شول، اوس نود ده په جیب کې یوازې یوه روپۍ وه. کله چې په ځنځیر تړلی د خپل زندان کړکۍ ته ولاړ و، ویې لید چې تر مخې یې یو پخوانی سرتیری انډیوال تیریږي. ده د کړکۍ ښیښه وټکوله او چې انډیوال یې ور نږدې شو، نو ورته ویې ویل چې:« دا یوه ښیګڼه راسره وکړه او هغه کوچنۍ ګنډه راته راوړه چې په دې هوټل کې رانه هیره شوی وه. په بدل کې به یې دا یوه روپۍ هم درکړم.» انډیوال یې لاړ او هغه ګنډه یې ورته راوړه. کله چې سرتیری له نورو یو څه ګوښی شو، خپل پایپ یې ولګاوه او له دې لارې یې کوچنی سړو کی را وغوښت. تور سړو کي ورته و ویل چې:« باداره مه ویریږه، هر چیرې چې دې بیایي، ور سره ځه، خو دا آبې څراغ همیشه د ځان سره ساته.» په بله ورځ محکمې د سرتیري په هکله پریکړه وکړه. که څه هم ده کوم بد کار نه و کړي ، خوسره له دې هم قاضي په مرګ محکوم کړ. کله چې سرتیری یې دمرګ په لور روان کړ، نو پا چا ته یې و ویل چې تر مرګ وړاندې یوه هیله لرم. پاچا ورته و ویل:« چې کومه هیله؟» هیله مې داده چې یوځل پایپ وڅکوم. پاچا ورته و ویل چې:« درې ځله یې وڅکوه، خو دا فکر

ونه کړې چې ژوند به دې وبخښم.» سرتیري پایپ را وباسه او په آبې څراغ یې ولګاوه، د لوګي درې څلور کړۍ چې پورته شوې، تور سړوکی یې په وړاندې ولاړ و، یوه وړه دوره یې په لاس کې وه او ویې ویل چې.« باداره څه امر کوې؟» سرتیري ورته و ویل چې:« دا خاین قاضی او دهغه تالی څتی له پښو وغورځوه او ګوره چې پاچا دې هیر نه شي. ده له ما سره ډیر بد سلوک کړی دی.» تور سړوکي خپله دوره د بریښنا په شان تیزه ښوروله او هرچا ته به چې ولګید له، په مځکه پریوته او بیا په پښو نه دریده. پاچا سخت وډار شو، په زاریو سرشو اویوازې دژوند په بد ل کې یې خپله ټوله پا چاهي سر تیري ته ور کړه او لور یې هم ورته واده کړه.

## زوړ نيکه او دهغه لمسی

يو وخت يو ډير زوړ سړی چې لا ژوندی و، د سترګو ليد يې کمزوری شوی و، په غوږو يې ښه نه اوريدل اوځنګونونه يې لړزيدل. کله به چې په دسترخوان کيناست، کاشغه يې په لاس کې سمه نه شوه نيولی، شوروا به له کا شغې يو څه په د سترخوان ترې توئيده او يو څه به يې له خولې هم بيرته څڅيده. د زوی او د هغه ميرمنې کرکه ترې کيده، نو ځکه يې نور له دوی سره په يوه دسترخوان د ډوډۍ خوړو اجازه نه درلوده او دازوړ نيکه مجبور وه چې هلته د بخارۍ ترشا، په يوه کونج کې، د د وی له سترګو پناء، کښيني او ډوډۍ وخوري. ده ته يې په يوه کنډول ( خاورينه کاسه ) کې دومره ډوډۍ ورکوله، چې پوره نه په موړيده، په غمګينو سترګو به يې د دستر خوان وخوا ته کتل او له ستر ګو به يې داوښکو څاڅکي را څڅيدل. يو وار يې په لړزيدونکو لاسو کې کاسه ټينګ نه شوه نيولی، په ځمکه ترې ولويده او ماته شوه. ننګور يې سخت وښکنه، ده نور هيڅ نه ويل او يوازې اوسلې يې ايستل. بيا يې په څو ټنګو يوه تتی ( لرګينه کاسه) ور ته را ونيوله او په هغې کې يې ډوډۍ ورکوله. اوس نو چې دوی هلته سره ناست وو، کوچنې لمسي يې، چې څلور کلن و، د ځمکې په سر څه کوچنی ټو ټې راټولولې. پلار يې ترې وپوښتل چې:« څه کوې؟» ده ځواب ورکړ چې:« زه يو کنډول جوړوم، کله چې زه لوی شم، مور او پلا ربه مې په دې کنډول کې ډو ډې خوري.» په دې خبره ميره او مير منې يوه بل ته وکتل او دواړه په ژړا شول، په بيره يې زوړ نيکه بيرته دستر خوان ته راوست او اجازه يې ورکړه چې وروسته له دې به له دوی سره يو ځای په يوه دسترخوان ډوډۍ خوري او که په دسترخوان يو څه ترې توييدل هم، څه يې نه ورته ويل.

[Liste von Märchen – Grimms Märchen – Grimmstories.com](Liste von Märchen – Grimms Märchen – Grimmstories.com)

# زوړ سلطان

يو وخت يو بزګر يو وفادار سپی در لوده او دا سپی سلطان نوميده. خپل ښبنتن ته د ډ يرو خد متو نه وروسته، سلطان زوړ شوی و، داړي يې لويد لی وې، له ښکاره او له کاره هم لويد لی و. يو ځل بزګر دخپلي ميرمنې سره د دروازې په خوله کې ولاړ واو ويل يې چې:« سبا دا زوړ سلطان په ډزو وژنم، ځکه ډير زوړشوی او نورپه کارنه راځي.» مير من يې، چې د وفا دار سلطان سره خوا خوږي درلوده، و ويل چې:« ده ډ ير کالونه زموږ خدمت وکړاو تل راته وفادار پاتې شوی دی، نو که اوس زوړ شوی اوله کاره لويدلی هم دی، بايد ويې ساتو.» بزګر ميرمنې ته و ويل چې:« ای، داځه وايې، ته له سره نه پوهيږې؛ دا سپی په خوله کې يو غا ښ هم نه لري، هيڅ غل له هغه نه ډاريږي، اوس بايد له دې ځايه ورک شي. که ده زموږ خدمت کړی دی، موږ هم ښه خواړه ورکړي او ښه مو ساتلی دی.» بې وزله سپي، چې هلته چيرته نږدې لمر ته غځيدلی پروته و، دا هرڅه واوريدل اوپه دې ډ ير غمګين شوچې سبا به يې د ژوند وروستې ورځ وي. ده يو ښه انډيوال درلود او هغه يو ليوه و. د ماښام له خوا په ځنګل کې ليوه ته ورغی او خپل برخليک يې ورته بيان کړ چې سبا په ده څه راځي. ليوه ورته و ويل چې:« واوره انډيواله، زړور پاتې شه، زه غواړم چې په خپله مرسته دې له دې تنګسې نه راوباسم. ما يوه چاره سنجولې ده. سبا وختي ستا ښبنتن د خپلې ميرمنې سره په واښو پسې ځي. دوی خپل ماشوم هم له ځان سره اخلې، ځکه چې په کور کې دهغه دسا تنې له پاره څوک نه پا تې کيږي. دوی ماشوم د کار په وخت کې د وياړې تر سيورې لاندې اچوي. ته يې تر څنګ داسې پريوزه چې ګوندې په هغه پام کوې. زه د ځنګل نه راوزم اودا ماشوم تيښتوم، ته به په خپل ټول ځواک په ما پسې منډې کړې او وبه ښيې چې ګوندې د مانه داماشوم خوشې کوې. زه به ماشوم خوشې کړم او ته به يې بيرته مور او پلارت ور وړې.

دماشوم مور او پلار به فکر وکړي چې ګوندې ماشوم تا ازاد کړ، د تل له پاره به دې مننډوی وي، کوم زيان به در ونه رسوي اوتر دې چې ښيګنې به هم در سره وکړي او هيڅ به در څخه دريغ نه کړي.» دامشوره د سپي خوښه شوه او څه چې سنجول شوې و، هغه يې عملي کړل. کله چې بزګز ليوه وليد چې ماشوم يې په خوله کې په پټيو کې منډې وهي نو چيغې يې کړې او کله چې سلطان ماشوم بيرته ورته راوړ، نو لاس يې په تير کړ او ويې ويل چې.« ستا يوه ويښه ته به هم زيان ونه رسيږي او ترڅو چې ژوندی يې، که کار ونه کړې هم، خواړه به در رسيږي.» بيايې ميرمنې ته غږ کړ چې دسلطان له پاره ډودۍ په شيدو کې ښه ميده کړه چې په خوله يې ژولو ته اړ نه شي او زما له بسترې څخه بالښت هم د ده خوب ځای ته راوړه، دا دې د ده تحفه شي.» سر له دې ورځې د زاړه سلطان ژوند دومره ښه وچې په خوب کې يې هم نه و ليدلی.

ډير وخت لا نه و تير شوی چې ليوه د سلطان ليدو ته ورغی او په دې ډير خوښ و چې پلان يې سرته ورسيد. ليوه سلطان ته و ويل چې:« دوسته! که زه کله ناکله وغواړم چې د ستا چښتن له رمې کوم يو څورب پسه له ځان سره يوسم، نو ته خو به په دې وخت کې خپلې سترګې يو څه پټې کړې. نن سبا دژوند چاره سخته شوې ده.» سلطان ځواب ورکړ چې:« له ما به دا تمه نه کوې ، زه خپل ښبنتن ته وفادار پاتې کيږم او د دې کار اجازه نه در کوم.» ليوه فکر وکړ چې سلطان خوشې ټوکې کوي، په همغه شپه په پټه راغی او غوښتل يې چې  د رمې نه يو پسه د ځان سره يوسي، خو وفادار سلطان خپل ښبنتن د ليوه له نيت نه ټکي په ټکي خبرکړی و، نو ځکه بزګر هم ورته چمتو شوی واو دغنمو ټکولو په دبي يې دليوه ويښان ښه ږمنځ کړل. ليوه تيښتې ته مجبور شو، خو سپي ته يې ور ناره کړه چې:« لږ تم شه، ته بد کاره انډيواله، د دي کار غچ به در نه واخيستل شي!»

ليوه په بل سبا وحشي خوږ سلطان ته ور وليږه، هغه يې ځنګل ته راوغوښت، تر څو يې هلته سره مالومه کړي. زاړه سلطان بی له يوې پشي بل ملاتړ نه در لود او دې پشي هم يوازې درې پښې درلودې. کله چې دواړه راو وتل او د مقابلې ځای په لور روا ن شول، پشه ننګوښيده ، په لاره ګوډه ګوډه تله اوله ډيرو خوږو يې لکۍ نيغه پورته ونيوه. ليوه او ملاتړ يې هم ټاکلي ځای ته راغلي وو او کله چې يې مقابل لوری دراتګ په حال کې وليد، نوډير وډار شول، ځکه چې دوی ته د پشي نيغه پورته کړې لکۍ کرچ (توره) ښکاريده او فکر يې کاوه چې په دوی پسې يې راوړې او په وهي يې اودا چې بې وسه پشه په درو پښو ګوډه ګوډه تله او ورسره سم کته او پورته کيده، دوی ته داسې ښکاريده چې ګوندې په هرځل له مځکې ډ برې را پورته کوي او راټولوي، تر څو چې موږ په و ولي. دوی دواړه سخت وډار شول: وحشي خوږ دونو پاڼو کې ځان پټ کړ او ليوه په يوه ونه پورته شو. کله چې سپی او پشه ټاکلي ځای ته را ورسيدل، دواړه حيران شول، ځکه چې په دې ځای کې هيڅوک نه ليدل کيدل. وحشي خوږ ټول ځان د ونو په پاڼو کې نه شو پټولی او غوږونه يې بوخ راوتلي وو. پشي په ځيرکتيا شاو خوا کتل، چې په دې وخت کې خوږ غوږونه وخوځول. پشي ګمان وکړچې ګوندې موږک خوځيږي، په ور ويې دانګل او په خپلو غاښو يې سم وچيچل. وحشي خوږ چيغې کړې، پورته شو ، وتښتيد اوناره يې کړه چې:« اصلي ګناه کار په ونه کې ناست دی.» سپي او پشي ونې ته وکتل او ليوه يې پکې وليد. ليوه په خپل ډار وشرميده او دسپي سره يې سوله ومنله.

Liste von Märchen – Grimms Märchen – Grimmstories.com

## څلور هنرمند وروڼه

په یوه پخوانۍ زمانه کې یوه بې وزله سړي څلور زامن درلودل. زامن یې چې لوی شول، پلار یې ورته و ویل چې:« ګرانو زامنو دنیا و وینی. زه هیڅ نه لرم چې تاسې ته یې درکړم. پاڅی، کوم بل هیواد ته لاړشی، لاسي کسبونه زده کړی او موخې ته د رسیدولارې چارې وسنجوی.» څلور واړو د سفر همساګانې راواخیستې، د پلارسره یې خدای په امانې وکړه اوله دروازې راو وتل. دوی د یو څه مزل نه وروسته یوې څلور لارې ته راورسیدل، چې څلورو بیلابیلو خواوو ته تللې. په دې ځای کې مشر ورور ورته و ویل چې:« موږ باید د لته یو له بله بیل شو. له نن ورځې څلور کاله وروسته به په همدغه ورځ بیا دلته سره ګورو او تر هغه به هر یو خپل بخت وازمویي.»

اوس نو هر یو په خپله لار لاړ. مشر ورور یې د یوه سړي سره مخامخ شواوسړي ترې وپوښتل چې چیرته ځې او په څه پسې روان یې. ده په ځواب کې ورته وویل چې:« زه غواړم چې یو لاسي کسب زده کړم.» سړی ورته و ویل چې:« راځه زما سره لاړشه، غلا زده کړه.» ده ورته و ویل چې:« نه! دا کوم ښه هنر نه دی او پایله یې هم په دار ځوړیدل دي.» سړي ورته و ویل چې:« اوه! د دار نه مه ډارېږه، زه به دغلا داسې چلونه در زده کړم، چې نه څوک در باندې پوهیدلی شي او نه دې بیا نښه او نښانه پیدا کولی شي» اوس نو دی د سړي د خبرو تر اغیزې لاندې راغی، ورسره ویې منلې او یو داسې ماهر اوچالاک غل یې ترې جوړکړ چې هیڅ ور نه په امن کې نه و او هر څه یې چې غوښتل، هغه یې تر لاسه کولی شول.

د وهم ورور یې هم په لار کې د یوه سړي سره مخامخ شو او همدا پوښتنه یې ترې وکړه چې په نړۍ کې د کوم کسب د زده کړې نیت لرې. ده ځواب ور کړ چې تر اوسه نه پوهیږي. سړي ورته و ویل چې:« زما سره راځه او ستورې کتونکی شه، تر دې بل ښه کسب نشته دی، هیڅ شی ستا له نظره پټ نه شي پاتې کیدلی.» ده د سړي خبره خوښه شوه او یو داسې تکړه ستورې کتونکی شو، چې استاد یې دزده کړې تر تمامیدو وروسته دانعام په توګه یو دور بین ورکړ او ورته ویې ویل چې:« هرڅه چې په مځکه او اسمان کې پیښیږي، ته یې په دې دوربین لید لی شي او هیڅ شی در څخه پټ نه شي پاتې کیدلی.» دریم ورور یې یوه ښکاري له ځان سره شاګرد کړ اود ښکار په ټولو برخو یې داسې پوه کړ چې یوماهر اوتکړه ښکاري ترې جوړ شواو استا د یې یوه تر کله ( ټوپک ) ور وبخښله او ورته ویې ویل:«له دې ترکلې هیڅ نښه نه خطا کیږي. په دې دغنم دانه هم ویشتلی شې.» کشر ورور هم په لار کې د یوه سړي سره مخامخ شو.سړي خبری ور سره پیل کړې او پوښتنه یې ترې وکړه چې:« نه غواړې چې ګنډ نه زده کړې؟» ځوان ورته وویل چې:« زه په دې نه پوهیږم، له سهار تر ماښامه پورې کړوپ کیناستل، هلته او دلته په ستنې ګنډل او وتو کول مې سم په فکر نه راځي.» سړي ورته وویل چې:« ته څه وایې! ته د یو څه په باره کې غږیږې، چې هیڅ نه په پو هیږې، له ما به د ګنډ نې له سره نوی هنر زده کړې، دا یو ښه هنر او تر یوې اندازې د درناوي وړهم دی.» ځوان دسړي په دې خبرو قانع شو، ور سره ولاړ اوله دې سړي څخه یې دهغه هنر له بیخه تر سره پورې بشپړ زده کړ.دخدای په امانې په وخت کې سړي یوه ستن ور کړه او ورته ویې ویل چې:« ته په دې ستنه هر څه چې وغواړې، که دهګۍ په شان نرم او یا د پولادو په شان کلک هم وي، سره ګنډلی شې، یوه ټوټه ترې جوړیږي او د ګنډنې نښې او نښانې نه پکې لیدل کیږي. کله چې پو ره څلور کاله تیر شول، څلور واړه وروڼه په یوه وخت په ټاکلې څلور لاره کې په مینه او محبت سره یو ځای شول، یو بل یې سره ښکل کړل او یو ځای پلار ته د کور په لور روان شول. پلار یې ډیر خوښ شو او ورته ویې ویل چې:« اوس نو لکه چې باد بیرته را ته راوړی؟» دوی پلارته هغه څه بیان کړل چې په دې څلورو کالنو کې ورسره مخا مخ شوې وو او داچې هر یو یې یو کمال زده کړی دی. دوی ټول د کور په مخ کې د یوې لویې ونې لاندې ناست وواو پلاریې و ویل چې:« غواړم تاسې وازمویم، چې څه مو تر لاسه پوره دي.» بیایې پورته وکتل او د وهم زوی ته یې و ویل چې:« پاس د دې ونې په سر کې د دوو شاخونو تر منځ د چرچڼې

مرغۍ یوه ځاله ده، راته و وایه چې په دې ځاله کې څو هګۍ پرتې دي؟» ستورې کتونکې دور بین ته لاس کړ، پورته یې پکې وکتل او ویې ویل چې:« پنځه دي.» پلا ربې بیا مشر زوی ته وویل چې:« اوس نو ته دا پنځه واړه هګۍ، بې له دې چې هغه الوتونکۍ، چې په هګیو ناست دی، وځوروې یا وخوځوې، دلته را کښته کړه.» هغه چې یو ماهر او وتلی غل و، په ونه ور پور ته شو او په داسې هنر یې دالوتونکې تر سینې لاندې هګۍ راوایستلې او پلار ته یې راکته کړې، چې هغه هیڅ پوه نه شو اوپه خپل حال ارام ناست و. پلار هګۍ واخیستې، یوه یوه یې د میزپه هر کونج او دا پنځمه یې په منځ کې کېښوده. بیایې ښکارې ته وویل چې:« اوس نو ته په یو ډ ز پنځه واړه هګۍ په منځ داسې و وله، چې هره یوه یې دوه ټوکه شي.» ښکارې په خپله ترکله پنځه واړه هګۍ په نښه کړې او لکه څنګه چې پلار یې ورته ویلي و، پنځه واړه یې په یوه ډزپه منځ و ویشتلې او دوه ټوکه کړلې. ښکارې داسې باروت در لودل چې کونج په کونج یې ویشتل کول.

پلار څلورم زوی ته و ویل چې:« اوس نو ستا وار دی او ته به دا هګۍاو په هغو کې پراته چوچیان بیرته داسې سره ګنډې چې هګیو او چوچیانو ته هیڅ زیان ونه رسوي. ګنډونکي ستن راواخیسته او هګۍ یې داسې سره وګنډ لې، لکه څنګه چې یې پلار غوښتلې. تر دې وروسته غل باید بیا هګۍ واخلې، ونې ته یې پورته کړي او په ځاله کې یې دالوتونکې تر سینې لاندې داسې کیږدي، چې هغه هیڅ پوه نه شي. الوتونکۍ تر هغه په هګیو ناست و، ترڅو چې بچیان یې له هګیو را و وتل او په هغه برخه کې یې یوه سره کرښه تر غاړې لیدل کېده چې ګنډونکې یوځای سره ګنډلې وه.

زاړه پلار یې ورته و ویل چې:« هو! ستاسې دا رنګا رنګ کسبونه او هنرونه د ستاینې وړدي، تاسې دوخت نه ښه ګټه اخیستې ده او دوپاړ وړ کسبونه موزده کړي دي. زه نه شم ویلی چې په تاسو کې کوم یو تر نورو ښه دی، دا به هغه وخت ښکاره شي،

چې له هنرونو مو د کار اخیستلو وخت راشي.» لږ څه وروسته تر دې په ښار کې لویه اوازه خپره شوه چې د پاچا لور یوه اژدها وتیښتوله. پاچآ په اندیښنو کې ډوب و او اعلان یې وکړ چې که هر چا یې لور بیرته وروستله، هغه ته به یې واده کړي. ورونو په ځپلو کې سره و ویل چې:« اوس نو هغه وخت راغلی دی، چې ځانونه وښیو.» دوی غوښتل چې یو ځای را و وزي او د پاچا لور ازاده کړي. ستورې کتونکې وویل چې.« زه به په بیړه دا پته ولګوم چې هغه چیر ته ده.» بیایې دوربین راواخیست، پکې ویې کتل او ویې ویل چې:« زه یې وینم، دا هلته لرې د یوه لوی دریاب په منځ کې په یوه پرخه ناسته ده، تر څنګ یې اژدها پروت دی او څارې یې.» ور پسې پاچاته ورغی، د ځان او خپلو ورونو له پاره یې د یوې کشتۍ هیله ترې وکړه او په کشتۍ کې د ورونو سره په دریاب کې پرخې ته ورغلل. د پاچا لور هلته ناسته وه او اژدها یې په ورنو سراېښی ویده و. ښکارې و ویل چې:« زه یې په ټوپک نه ولم، ځکه کیدی شي چې جلۍ هم ورسره و وژل شي.» په دې ځای کې غله و ویل چې:« اوس به زه د خپل دم او دوا نه کار واخلم.» بیا نو په سینه ورورو ور وښوئیده او تر اژدها لاندې پرته شهزاد ګۍ یې په دومره ارا مې او چالا کې ترې غلا کړه، چې دا ځناور هیڅ پوه نه شو، همغسې ویده پروت و او خور خور یې کاوه. دوی په بیړه اوخوشالۍ په بیړۍ کې کیناستل او د بحرې خواته راتاو شول. اژدها چې بیدار شو اوشهزاد ګۍ یې بیا نه مینده، په بیړه پسې والوت او له ډیرې غوسې یې په هوا کې غور وپش کاوه او کله چې بیړۍ ته ورسیده او د بیړۍ په سرېې الوتنه کوله، ښکارې ځپله ترکله را

واخيستله ، اژدها يې په ښنه کړ او په زړه يې و ويشت. دا لوی ځناور مړشو او راولېده، خو دی دومره لوی اوغټ ځنا ور و چې دلوېدو په وخت کې يې بېړی ټو ټې ټوټې کړه. له نيکه مرغه دوی يو څو ټوټې ونيولې او په هغو يې په پراخه بحيره کې د يخوا اوايخوا ته لامبوګانې وهلې، دا هم رنځ او ربړيدل و، خو ګندونکی هم لټ ګندونکی نه و، خپله بې ساری ستن يې راواخيسته او په بيړه بيړه يې په غټو غټو ټکونو تختې يوه له بلې سره وګنډ لې، ټول ورباندې کيناستل، بيايې دبيړی نورې برخې را ټولې کړې. ورپسې يې هغه هم په دومره مهارت وګنډلې چې په لنډ وخت کې يې بيړی بيرته جوړه اود روانيدو له پاره چمتوکړه او پکې په خوشالۍ او نيکمرغۍ دکور په لور روان شول. کله چې پاچا بيرته خپله لور وليدله په خوشاليو کې ډوب شو. ور پسې يې دې څلور ورونو ته و ويل چې:« له تاسې به يو زما د لور سره واده وکړي او دا چې دا به کوم يو وي، دا پريکړه تاسې په خپله وکړی.» په دې ځای کې د دوی تر منځ يو زورور جنجال رامنځ ته شو، ځکه هر يوه غوښتل چې واده ورسره وکړي. ستوري کتونکي و ويل چې:« که ما شهزادګۍ په دوربين کې نه وای ليدلې، نو ستاسې ټول کمالونه بې ګټې وو، نو ځکه له هغې سره واده زما حق دی.»

غله و ويل چې:« که ما شهزادګۍ داژدها څخه نه وای غلا کړې، نو يوازې ليدنې به کومه ګټه نه وه کړې، نو ځکه دا زما حق دی.» ښکاري و ويل چې:« که زما د ټوپک مر مۍ داژدها په زړه نه وای لګيدلې، نو دې ځنا ور به تاسې ټول د شهزادګۍ سره يو ځای ټو ټې ټو ټې کړې وای، نو ځکه د واده مستحق زه يم.» ور پسې ګنډونکۍ راپورته شو ا و يې ويل چې:« که ما ټو ټې ټو ټې شوې بيړۍبيرته نه وای ګنډلې او جوړه کړې، نو تاسې ټول به ربړيدلي په درياب کې ډوب شوي وای، نو ځکه زه دشهزادګۍ سره د واده مستحق يم.» ورپسې پاچا دا پريکړه وکړه چې:« تاسې هر يو دبل سره برابر حق لرۍ او هر يو دا ځوانه جلۍ غواړي، نو ځکه يې يوه ته هم نه ورکوم. د دې په ځای تاسې هر يوه ته د کړي خدمت په بدل کې نيمه پاچا هي ور کوم.» دورونو دا پری کړه خوښه شوه او ويې ويل چې:« زموږ تر بې اتفاقي دا پريکړه ښه ده .» په دې ټوګه هر ورو يې نيمه پاچاهي ترلاسه کړه او تر هغو چې دخدای رضا وه دخپل پلار سره يې يو ځای خوښ ژوند کاوه.

Liste von Märchen – Grimms Märchen – Grimmstories.com

## چنډښ شاه او پولادي پوردل خان

په تیرو زړو زمانوکې، کله چې دواګانې لا قبلید لې، یوه پاچا ژوند کاوه. د ده ټولې لورګانې ډ یرې ښکلې وې، خو کشره لور یې بیا تر ټولو ښکلې وه. دا د ومره ښکلې وه چې لمرد هغې ښکلاته حیرانیده. هلته د پاچا قصرته نږدې یولوی او تور ځنګل و. په ځنګل کې د یوې لوړې ونې لاندې یوه سړه چینه وه. د پاچا کشره لور به د ورځې په سخته ګرمې کې ځنګل ته تله او د سړې چینې په غاړه به کیناسته. کله کله به یې چې سات نه تیریده، نو د سروزرو ګلوله به یې راواخیسته، په هوا کې به یې پورته اچوله او بیا به یې په لاس نیوله. دالوبه یې ترنورو ټولو لوبو ډیره خوښید له.

دخدای داسې کارونه وو چې یوه ورځ شهزاد ګۍ د سرو زرو ګلوله پورته په هواکې واچوله، خو بیرته یې په لاس کې ونه شوه نیولی. ګالوله یې له لاسه ختا شوه، په مځکه ولویدله اوچینې ته وکړېد له. شهزاد ګۍ پسې کتل، خو تر ستر ګو یې پنا شوه، چینه هم د ومره ژوره وه چې بیخ یې په سترګو نه لیدل کیده. اوس نو شهزاد ګۍ په ژړا شوه او ژړا یې هم وار په وار زیا تید له، ترڅو چې چیغو ته ورسید له او نه پوهیده چې ځان ته په څه ډول تسلي ور کړي. دا د دې ویر په حالت کې وه چې ناڅاپه داغږ پورته شو:« ای شهزادګۍ! په تا څه شوي دي، ته دومره چیغې وهې چې د تیږې په شان کلک زړونه هم نرموي.» شهزاد ګۍ شاوخوا وکتل تر څوپوه شي چې داغږ له کومې خوا راغې. په دې وخت کې یې ولید چې یو چنډ ښ خپل غټ او بې شکله سر له اوبو را پور ته کړ. شهزادګې ورته وویل چې.« اخ! دا ته یې چې اوبه شړپوې، زه ځکه ژاړم چې د سروزرو ګلوله مې په چینې کې رانه ولویده.» چنډښ ورته وویل چیغې مه وهه، زه یې لار پیدا کولی شم، خو که چیرې ستا د لوبو شی، چې په تا ډ یر ګران دی، درته له اوبو را باسم، نو ماته به څه راکړې؟» دې ورته وویل چې:« ګرانه چنډښه! هرڅه چې ته وغواړې، درکوم یې، زما جامې، زما مرغلرې، زما قیمتي ډبرې اودا زما د سروزرو تاج، دا ټول درکوم.» چنډښ ورته وویل چې:« زه ستا جامو، ستا مرغلرو، قیمتي ډ برو او د سر تاج سره مینه نه لرم. زه غوا ړم چې ستا محبوب، ستا کورشریک اود لوبو ملګری شم، په یوه د سترخوان ستا تر څنګ کینم، ستا د سروزرو په تالي کې ډوډۍ وخورم، په سرو زروګیلاس کې دې اوبه وڅیکم او له تا سره په یو بستر کې ویده شم. که وعده کوې چې داراسره منې، نوورځم، چینې ته ورکوزیږم او د سرو زرو ګلوله دې بیرته درته راوړم.» جلکۍ په بیړه ورته وویل چې:« هو! زه دهر هغه شي وعده در کوم چې ته یې غواړې، خو په دې شرط چې ګلوله مې بیرته راته راوړې.» شهزادګۍ په دې فکر وه چې:« دا کم عقله چنډښ چټیات وایي. دی به هلته د خپلو همجنسانو سره په اوبوکې ناست وي اوکواک کواک دې وایي. یو چنډښ به هیڅکله د یوه انسان کور شریک نه شي.»

چنډښ چې دا ډاډ تر لاسه کړ، په اوبویې سر ننباسه، پکې ډوب شو او یوه شیبه وروسته بیر ته را ووت. ګلوله یې په خوله کې وه او په شینلې کې یې واچوله. شهزاد ګۍ چې خپل د لوبو ښکلی شی بیرته ولید، ډیره خوشاله شوه او هغه یې راپورته کړ او په چټکۍ وتښتیده. چنډښ ور نارې کړې چې:« صبر وکړه صبر وکړه، ماهم له ځان سر بوزه، زه ستا په شان تیزې مندې نه شم وهلی.» دې چیغو نارو کومه ګټه و ر ونه رسوله. ده په شهزادګۍ پسې په دومره لوړ اواز کواک کواک وکړل چې له لاسه یې کیدل، خو هغې ورته هیڅ غوږ ونه نیو، په بیړه کورته وخغاسته او بې وزله چنډښ یې هیر کړ اوچنډښ بیرته خپل چینې ته ولاړ او ور کته شو.

په دابله ورځ، کله چې شهزاد ګۍ د پاچا او نورو درباریانو سره په ډوډۍ ناسته وه اوټولو په طلایي تالیو کې ډوډۍ خوړله، په دې وخت کې پړچ پړچ پړچ یوڅه شی د مر مرو په زینه راوخوت اوکله چې پاس چت ته ورسید، دروازه یې وټکوله اوناره یې کړه چې:« کشرې شهزاد ګۍ ور خلاص که.» دې ورمنډه کړه ترڅو ووینې چې دا څوک دی. کله چې ور یې خلاص کړ، ویې

لید چې چنډښ دی، نوډیره وډار شوه، ور یې په زور پورې کړ اوبیرته په خپل ځای کیناسته. پا چا ولیده چې د لور زړه یې سخت لړزیږي او ویې ویل چې:« لور جانې ولې ډاریږې، ایا د دروازې ترشا کومه لویه بلا ولاړه ده او غواړي چې تا وتیښتوي؟» لوریې په ځواب کې وویل چې:« نه پلار جانه دا کومه غټه بلا نه ده، دا یو بدشکله چنډښ دی. ما پرون په ځنګل کې دچینې په

غاړه لوبې کولې چې دسرو زرو ګلوله مې په اوبو کې رانه ولویده. داچې زه ډیره وژړیدم، نو دا چندښ راغی، زما د سرو زرو ګلوله یې له اوبو را وباسله او ماته یې راکړه. په بدل کې یې رانه غوښتي وو چې دی به زما کورشریک کیږي. ما هیڅ دا فکر نه شو کولی چې ګوندې دی به دخپلو اوبو نه دراوتو وس ولري.» په دې شیبه کې چندښ د دوهم ځل له پاره دروازه وټکوله او ناره یې کړه چې:« کشرې شهزاد ګۍ! ما در پورته کړه، په یاد دي نه دې چې د سړو اوبوچینې ترځنګ دې پرون ماته څه وویل. ای کشرې شهزاد ګې ما در پورته کړه.»

په دې وخت کې پاچا ورته وویل چې:« ته باید په خپله وعده، چې ورسره کړې دي وه، ودریږې. ورځه ور شه او را پورته یې کړه.» شهزاد ګۍ ورغله دروازه یې خلاصه کړه او چندښ په ټوپ ور ننوت او د شهزاد ګۍ تر چوکۍ پورې په هغې پسې روان شو. بیا یې ورته وویل چې:« اوس مې نو درپورته کړه.» شهزادګۍ یوڅه ناخوالي وکړه، خو پاچا امر ورته وکړ چې پورته یې کړي. کله چې چوکې ته یې پورته کړ، نو غوښتل یې چې په میز کښیني او کله چې بیا په میز کښیناست، نوویې ویل چې.« اوس دې دا خپل طلا یي تالی را نږدې کړه چې یو ځای ډوډۍ وخورو.» شهزاد ګۍ دا هم وکړ، خوهر څوک پوهیدل چې دا کار یې دزړ له کومې ونه کړ. چندښ ډوډۍ په ښه خوند وخوړه، خو شهزاد ګۍ ترې چندان خوند وا نه خیست او څه نا ځه هره ګوله یې په خوله کې بندیده. چندښ چې ځان ښه موړکړنوو یې ویل چې.« زه موړشوم اوستړی هم یم. اوس مې ستا کوټې ته بوزه اوخپله وریښمینه بستره دې تیاره کړه چې پکې دواړه یو ځای ویده شو.» شهزاد ګۍ له دې ساړه چندښ نه ډاریده، دا جرات یې نه کاوه

چې حتی لاس ورنږدې کړي او اوس مجبوره وه چې په خپله وریښمینه اونازنینه بستره کې ورسره یوځای ویده شي، دا په ژړا شوه. په دې وخت کې پاچا ور ته په قارر شو او ویې ویل:« هغه څوک چې داړتیا په وخت یې د رسره مرسته کړې وي، باید سپک یې نه کړې.» شهزادګۍ چندښ په دوو ګوتو پورته کړ او د کوټې په کوم کونج کې یې کیښود او دا په خپل پالنګ کې پریوته، خو چندښ هلته هم ور غی او ویې ویل چې:« زه ستړی یم غواړم ستا په شان ویده شم. ما در پورته کړه اوکه نه نو ورځم پلارته دې وایم.» په دې وخت کې شهزاد ګۍ له حده زیاته په غوسه شوه. چندښ یې راپورته کړ اوپه ټول زوریې په دیواله وویشت او ویې ویل چې:« بد شکله چندښه اوس به یوڅه ارام شې.»

چندښ چې له د یواله په مځکه پریوت، نور نو چګښ نه و، یو شهزاده وچې ښکلې او مهربانې ستر ګې یې درلودې. شهزاده د شهزادګۍ د پلار په غوښتنه دهغې کور شریک او میره شو. بیانو ده خپله کیسه بیان کړه چې یوې بد شکله جادوګرې په ده جادو کړی واو دا جادو یوازې همدې شهزاد ګۍ ماتولی شواو یوازې همدې شهزاد ګۍ دسرې چینې له اوبو ازادولی شو. دوی غوښتل چې دهمدې ورځې په سبا دواړه یوځای د د ې ځوان پاچا پاچا هۍ ته لاړشي، دواړه ویده شول اوکله چې سهار د لمر شغلو را ویښ کړل، ګورې چې یوه ښکلې ګا ډۍ ولاړه ده. ګاډۍ په طلایي ځنځیرونو په اتو سپینو آسانو پورې تړل شوی وه او دهرآس سردطاؤس په سپینه ښکه ښکلی شوی و. د ګاډۍ ترشا د ځوان پاچا وفادارنوکرولاړو، چې نوم یې پوردل و. وفادار پوردل په دې ډیر غمګین و چې په باداریې جادو شویو واوچندښ ترې جوړ شوی و. وفادار پوردل مجبور شو چې دخپل زړه نه درې پولادي کړۍ را چا پیره کړي ترڅوچې له ډیرغم او خوا خوږۍ ونه چوي. دګاډې دنده داوه چې داځوان پاچا خپلې پاچاهۍ ته یوسي، پوردل دواړه ګاډۍ ته ور پورته کړل او دی یې ترشا کیناست. پوردل دجادونه دخپل بادار په ازادۍ بې حده ډیر خوشال و.

دیوڅه مزل نه وروسته پاچا له شا یوټک واورید، پوردل ته یې مخ ورواړوه اوویې ویل چې:« پوردله! لکه چې دا ګاډۍ ماتیږي.» پور دل وویل چې:« نه باداره! دا ګاډۍ نه ده ، دا زما دزړه نه راتا شوې پولادي کړۍ ده.» هغه وخت چې ته په چینې کې ناست وې اوکله چې ته چندښ وې، دازما زړه له غمونو اودردونونه ډک و.

یوځل بیا اوورپسې بیا ټک شو. پاچا هرځل فکر کاوه چې ګوندې ګاډۍ ماتیږې. دا په حقیت کې هغه پولادي کړۍ وې چې دپور دل تر زړه را چاپیره شوې وې، چې اوس یې د زړه دخوشالیو له امله یوه په بله پسې ماتیدلې.

**Grimms Märchen: Kinder- und Hausmärchen**

Die komplette Liste

# د ويارړې دروازه

يو وخت يوې مير منې دوه اولادونه در لودل، يو يې زوی و او دا بله يې لور وه. يوه ورځ دا ميرمن په سفر روانه شوه او اولادونوته يې و ويل چې:« بچيانو! زه په سفر ځم او تاسې د لته يوازې پاتې کيږی، نوځکه به دويارړې د روازې ته ډير پام کوی.»مقصد يې داو چې دکوچنيانوبايد دې ته پام وي چې، غله دويارړې دروازې له لارې کورته ورنه شي. څه موده چې دا په کور کې نه وه، د کوچنيانو زړونه تنګ شول او ورور يې خور ته و ويل چې:« راځه چې دواړه يوځه د باندې ځنګل ته لاړشو، د ويارړې دروازه به له ځان سره يوسو، بيانو څه نه پيښيږي!» خوشاله شوه او دواړه دباندې ځنګل ته و وتل، په ځنګل کې يې لوبې کولې، هرې خواته يې منډې وهلې، په دې کې لار ترې ورکه شوه، شپه په راغله او پوه شول چې کور ته نه شي تللی. له ډاره يوې ونې ته وختل، تر څو چې داړونکي ژوې يې ونه خوري.د واړه يو څه وخت هلته په ونه کې ناست ووچې غله د پنډ و پنډ و پيسوسره راغلل، دهمدې ونې لاندې کيناستل او پيسې يې شميرلې. په دې وخت کې کوچنيانو ځانونه ډير ارام اوغلي ونيول، ترڅو غله پوه نه شي چې دوی د لته په ونه کې دي. لږڅه وروسته ورور خور ته و ويل چې:« متيازې راغلې دي او نه شم يې ټينګولی.» خور ورته و ويل:« نو ويې کړه!» ده خوشې کړې، خو غلو په کرارۍ خپلې پيسې شميرلې او ويل يې چې:« دا د باران څاڅکې دي چې وريږي.» لږ څه وروسته ورور خور ته بيا و ويل چې:« نور ځان نه شم تم کولی، بايد غټ څه وکړم.» خور ورته و ويل چې:« ويې کړه!» ده وکړل، غلو بيا هم د پيسو شمبرلو ته دوام ورکړ او ويې ويل چې :« داد هغه الوتونکو چټلې ده چې پاس په ونه کې ناست دي.» اوس نو دواړه د ډير وخت له پاره په ونه کې ارام ناست وو، خو ورور يې بيا و ويل چې:« زه د ويارړې دروازه نوره په لاس کې نه شم ټينګولی.» خور ورته و ويل چې ويې چوه.» ده دروازه واچوله او دروازه دغلو په منځ کې ولويد له. غلوپه بيږه منډې اوچيغې کړې چې:« د اسمان نه تند ر راولويد، داسمان نه تند ر را ولويد.» دوی وتښتيد ل او هرڅه يې په ځای پريښودل. اوس نو سهار رانږدې شوی و، خور او ورور دواړه له ونې راکوز شول او د ويارړې دروازه او ټولې دغلو نه پا تې شوې پيسې يې د ځان سره را واخيستې ، خوښ او نيکمرغه کور ته راغلل. مور يې مخې ته ور ودانخان او دواړه يې وښکنل چې په دروازې يې پام نه و کړی. که چيرې غله راغلي وای، نو هرڅه به يې غلا کړي وای. کوچنيانو مور ته ټول هغه څه بيان کړل چې په ځنګل کې يې ليدلي او په تير شوې وو. بيا هغه هم خوشاله شوه. په پيسو يې ښکلې جامې او نور سامان را ونيول او لا دومره پاتې هم شوې چې د ټول ژوند له پاره يې بس کيدې.

Märchen aus Deutschland, *Mutabor Verlag*, [*Kindermärchen aus aller Welt*](), *Bild: Cristina Roters*

## په د رواغو میینه شهزاد ګۍ

یووخت یوه پاچا یوه ډیره ښکلی لور درلوده اودا شهزاد ګۍ د ګل په شاني ځلیده ، خو یوازې یوه نیمګړتیا یې درلوده، چې له دروا‌غو نه سترې کیده او نه ترې مړیده. پاچا دخپلې لورد رواغو ته ډ یر په اندیښنه کې و او نه پوهیده چې څه وکړي. ده د ملکې سره یو ځای پریکړه وکړه چې شهزاد ګۍ ته به تر هغو دروا غ وایې ترڅو چې نور:« باور ورباندې ونه کړي، په غوسه شي او و وایي چې: دا رښتیا نه دي. بیا به له دې ناروغۍ نه جوړه شي.» بس نو پاچا، ملکې او په قصر کې نورو خلکو د دروا‌غو تر ټولو ښې کیسې بیان کړې، خو شهزادګۍ هیڅ ونه ویل چې:« دارښتیا نه دی.» نوځکه پاچا په ټوله امپراتورۍ کې اعلان وکړ چې ټول ځوانان دې شاهي قصر ته ورشي او هر یو دې د درواغو کیسه بیان کړې، که هر چا په خپله کیسه شهزاد ګۍ دې ته راوسته چې و وایي:« دا رشتیا نه دی.» له هغه سره به واده کوي. د هیواد د ګوټ ګوټ نه ځوانان راغلل او هر یوه په خپل ټول فساحت هڅه وکړه چې دشهزادګۍ له خولې نه دا ټکي را وباسي، خو یو هم په دې کار کې بریالی نه شو. دلته په دې امپرا تورۍ کې د یوه موچي یو ګلالی زوی هم اوسیده چې ځایي خلکو موزې ګک باله. یوه ورځ دی هم قصر ته ورغی او شهزاد ګۍ ته ور وستل شو. په هرکلي کې شهزادګۍ ورته و ویل چې:« که څه هم دورځې پیل ښه نه راته ښکاري، خوسره له دې هم ښکلې ورځ درته غواړم. دلته درې ځوانان راغلي وو، درې واړو ستومانونکې کیسې بیان کړې. که دا حالت دوام وکړي، نوزړه مې غواړي چې څه موده د د مې د  پاره سپوږمۍ ته پورته شم. پلار مې هلته یو کور جوړ کړی دی، داکور دومره لوی دی چې، د هرې کوټې لیدل یې یوه او نیمه وخت رانه غواړي.» موزې ګک ورته و ویل چې:« هغه کور چې زما پلار په لمر کې جوړ کړی دی، لا ډیر لوی دي، دټولو کوټو لیدل یې یوکال وخت رانه ِغواړي.» شهزادګۍ ورته  و ویل چې ډ یر ښه، خو دومره لوی غوایی چې زما پلار یې لري، ستا پلار به یې ونه لري، زموږ دغوایه سر دومره غټ دی چې، دښکرونو تر منځ یې د وښو یوه لویه کراچۍ ځای شوې ده.» موزې ګک ورته و ویل چې:«  دا نو زما پلارد غوایه په وړاندې هیڅ هم نه دی. دهغه د ښکرونو تر منځ یوه سلامته غوجل ځا ئید لی شي.» شهزادګۍ ورته و ویل چې:« ښه، ښه، خو د منې هغې ونې په هکله څه وایې چې، ما د خپل پلار په باغ کې کینولې ده؟ دا ونه دومره غټې منې نیسي چې هره یوه یې د کراچۍ دڅرخ په اندازه غټه ده.» موزې ګک ورته و ویل چې:« دا ونه خو دمنې دهغې ونې پرتله هیڅ نه دي چې ما پرون سهار د وخته د خپل پلار په باغ کې کینوله. تر ماښام پورې د کلیسا دبرج په اندزه لوړه شوه. زه ور پورته شوم او غوښتل مې چې منې ترې راوشکوم. خودمنې ونه لوئیده، لوئیده او لوئیده ترڅو چې داسمان وریځو ته ورسیده او تر هغو لا نوره هم پورته شوه. ورپسې سخت باد ولګید او زه یې له ځان سره یوړم، درې ځله یې دمځکې نه  راتاو کړم، بیایې پریښود م او زه رالویدم، رالویدم، رالویدم تر څو چې دګیدړ په سوړه کې کیناسم او ته، ګرانې شهزاد ګۍ، هلته نا سته وې اوزما موزې دې ګنډ لې. شهزادګۍ چیغه کړه چې:« دا رښتیا نه دی.» په دې ډول موزې ګک دشهزادګۍ سره دواده مستحق شو. اوس نو شهزاد ګۍ د درواغو د پاره ډیر وخت نه درلود. موزې ګک اومیرمنې یې په ټوله اونۍ کې یوازې یوځل د درواغو تر ټولو ښکلو کیسو په هکله فکر کاوه.

Kindergeschichten - Geschichten und Märchen für Kinder ...

# د چمن د وه موږکان

په پخوا نیو وختو کې دوه موږکان په یوه چمن کې اوسیدل. یو یې ډ یر زیار کښ و. ده د ژمي د پاره له سهاروختي ترماښامه زیرمې جوړولې، ریښې یې راکیند لې، دوښود تخمنودانې، پټاټې او میوې یې راټولولې اوخپلې زیر مې یې یوه په بله پسې ډ کولې. هره ورځ یې لمرته کتل او په اندیښنه یې فکر کاوه چې:« اوس خو لا اوړی دې، زر به منی راشي.» کله چې منی شو، نو بیا په دې فکر کې وچې:«اوس خو لا منی دی، ډ یر زر به سوړ ژمی راشي.» اوس یې د زیرمو دجوړولو له پاره هلې ځلې لا هم زیاتې کړلې اوتر هغوی یې ارام نه درلود، ترڅوچې ټولې زیر مې یې ښې ډ کې کړلې. خو دا بل موږک له سره لټ و. دی به هغه وخت له خوبه پاځیده چې، لمر به پاس په اسمان ولاړ و. کله به چې چمن ته راو وت، یوازې د نڅا شوق یې درلود. دی نځیده ، سندرې یې کولې، شپې او ورځ یې بیغمه او په خوشالۍ تیرولې. کوم وخت به چې دا لټ موږک د زیا رکښ موږک له مخې تیریده، نو نارې به یې ور وهلې چې:« راځه چې وناڅو اوسندرې وکړو.» زیار ایستونکي موږک ورته و ویل چې:« زه وخت نه لرم، باید ځان ته د ژمي له پاره زیرمې جوړې کړم.» تودې شپې او ورځې تیرې شوې او ساړه ولګید. اوس لټ موږک هم د زیرمو جوړول پیل کړل، خوده یوازې لږ څه دانې اوزړې پیدا کړل. کله چې واوره په اوریدو شوه، زیار کښ موږک په خپله سوړه کې کرار کیناست، چې وړی به شو، زیر مې ته به ورغی او هلته به یې ځان موړ کړ. ورو ورو یې زړه تنګ شو او ویل به یې چې:« کاشکې یو میلمه راغلی وای چې د یوه بل سره مو خبرې اترې او ټوکې ټکرې کړې وای.» په همدې وخت کې د دې بل موږک زیر مه تمامه شوه. هلته په ځای ناست و، له لوږې رنځیده، له ساړه لړزیده او ورځ په ورځ کمزوری کیده. په ور ته پاتې وروستي ځواک د زیارکښ موږک سوړې ته ورغی او ورته ویې ویل چې:« زما سره مرسته وکړه، ډیر وږی یم او که ژر ترژره څه ونه خورم، نو له لوږې مرم.» زیار کښ موږک ورته و ویل چې:« په خپله زیرمه دې څه وکړل، که تا هم زما په شان دزیرمې د جوړولو له پاره زیار ایستلی واي اوس به نه وږی کیدې.» لټ موږک ورته و ویل چې:« ته حق لرې، خو په اوړې کې مې دسندرو او ګډا سره ډیر شوق درلود او خوند مې ترې اخیست، نوځکه مې له یاده و وت چې د ژمي له پاره زیرمه جوړه کړم.» زیارکښ موږک نه غوښتل چې په زیات زیار او هڅې راټولې کړې زیرمې څخه یو څه ورکړي، نووږی موږک یې تش لاس بیرته ولیږه. کله چې هغه ترې لاړ او دابل ګوښی پاتې شو، نو بیا یې زړه تنګ شو. په بیړه یې ټوپ کړ اوپه غورځنګونو دهغه سوړې ته ور پسې ورغی او ورته ویې ویل چې:« راځه ! زه خپله زیرمه در سره ویشم، خو ته به ټول ژمی له ماسره ناڅې، سندر به وایې او ټوک ټېرې به کوې.» په دې توګه دواړه په یوې سوړې کې کیناستل، تخمونه ، زړې او نور یې خوړل، چې ماړه به شول بیا دا یو پاڅیده، سندرې به یې کولې او ناڅیده، ډیر زر دا بل هم ور پاڅیده، ده به هم سند رې ورسره کولې او ناڅیده. که نه یې منې، نو ورشه په خپله یې وګوره.

*Märchen aus Nordamerika, Lakota,* Fassung Djamila Jaenike,*© Mutabor Verlag, Kindermärchen aus aller Welt, Bild: Cristina Roters*

د وولس ورونه

وایي چې په لرې تیره زمانه کې یوه پاچا دخپلې ملکې سره دمیني اوخوشالي نه ډک او ارام ژوند درلود. دوی ته خدای دوولس اولادونه ورکړي وو او ټول یې هلکان وو. پاچا خپلې میرمنې ته وویل: « کله چې دیارلسم اولاد د نیاته راوړې اوهغه جلۍ وي، نوباید دا دوولس هلکان ووژل شي، ترڅو چې دا ټوله شتمني او بادشاهي یوازې دې ته پاتې شي.» ده د دوولسو تابوتونو د جوړولو امرهم وکړاوهرتابوت د رندې له توپنو ډ ک او په هر یوه کې د مړو یو بالښت هم ځای په ځای شوی و. تابوتونه یې یوې کوټه کنکې ته یوړل. دکوټې کلي یې ملکې ته ورکړه او ورته ویې ویل چې بل چا ته به حال نه وایي. مور یې ټوله ورځ ناسته، په خپگان تیره کړه. ترڅوچې کشر زوی یې، چې همیشه به له دې سره و او زمرک نومیده، ترې وپوښتل چې: « مورجانې! ته ولې دومره خپه یې؟» موریې ورته وویل چې: « ګرانه زویکه! زه دحال ویلو اجازه نه لرم.» خو زوی خپله مور تر هغوی ارام ته نه پرېښوده، تر څوولاړه او دکوټنې وریې خلاص کړاو دوولس درندې له توپنو ډک تابوتونه یې وروښودل او بیایې ورته وویل چې: « ګرانه زمرکه ! دا تابوتونه تا اوستا یوولسو ورونو له پاره ستاسې د پلار په امرجوړ شوي دي. که دا ځل مې یوه جلۍ دنیا ته راوړه، نوتاسې به ټول ووژل شئ او په دې تابوتونوکې به ترمځکې لاندې خښ شئ. کله چې دا د خبرو په جریان کې په ژړا شوه، نوزوی یې تسلي ورکړه اوورته ویې ویل چې:« مور جانې مه ژاړه، موږ به د ځان دساتنې له پاره څه چاره وسنجوو اوله دې ځایه به چیرته لرې لاړ شو.» مور ورته وویل چې:« ورځه دخپلو یوولس ورونو سره د باندې ځنګل ته ولاړ شئ. هلته یوه تر ټولو لوړه ونه پیدا کړئ او وار په وار ور پورته کیږئ اود قصر برج ته به ګورئ. که چېرې مې هلک دنیاته راوړ نوسپین بیرغ به په برج ورپوم. مانا یې داده چې تاسې کورته راتلی شئ. که چیرې مې لور په دنیاراغله، نوسور بیرغ به ودرول شي. په دې صورت کې به په دومره چټکې تښتئ چې له لاسه مو کیږي. لوی او مهربان خدای به مو وساتي.
**هره شپه به را پور ته کیږم او دلوی خدای په دربار کې به دا دعا درته کوم چې په ژمي کې مو له سخت ساړه او په اوړي کې مو له سختې ګرمي وساتي.**

کله چې مور خپلو بچیانو ته دعا وکړه، نو بچیان یې راووتل او ځنګل ته و لاړل. هلته هر یو په خپل وار ترټولو لوړې ونې ته پورته کیده او د قصر د برج په لور یې کتل. کله چې لس ورځې تیرې شوې او دزمرک وار راغی، نو ویې لیدل چې یوه جنډه ودرول شوه. دا جنډه سپینه نه وه. د وینې په شان سور رنګ یې درلود. پیغام یې دا و چې دوی به ټول ووژل شي. کله چې ورونه په دې خبر شول نو ډیر په غوسه شول اوویې ویل چې: « اوس نو موږ باید د یوې جلۍ له پاره د مرګ رنځونه په ځان ومنو! په قسم چې خپل غچ به اخلو. که کومه جلۍ مو پیدا کړه، باید وینه یې تویه شي.» له دې وروسته په ځنګل کې ژور ننوتل، منځ ته یې ورسیدل، چیرته چې تر ټولو زیاته تیاره وه.

هلته یې یو وړوکی، په« بد و منل شوی» کورګئ ومیند او ویې ویل چې:« دلته به اوسیږو او ته به، زمرکه، چې تر نورو ټولو کشراو کمزوری یې، دلته په کور کې پاتې کیږې او دکور چارې به سرته رسوې. موږ دباندې ځو تر څو دخوراک له پاره څه راوړو.» دوی ځنګل ته د وحشي غرڅه، سویو، الوتونکو، کوترواونورو هغه شیانو په ښکار پسې ووتل چې غوښه یې د خوړو وه. هغه به یې زمرک ته راوړه. پخلی د زمرک کارو او دد ې له پاره چې وږې شوې ورونه یې ماړه شي ډوډۍ یې ور ته پخوله. په دې کور کې لس کاله واوسیدل، خو دوی ته داوخت دومره اوږد نه ښکاریده.

هغه جلۍ چې د دوی مور، دبادشا میرمنې، دنیاته را وړې وه، اوس لویه شوې وه. دا جلۍ په زړه مهربانه، په ځوانۍ ډیره ښکلې وه او دسرو زرو ټیک یې په تنده ځوړولی و. دجامو د مینځلو په ورځ یې د نورو په منځ کې د نارینه وو دولس کمیسونه ولیدل او له مور یې وپوښتل چې:« دا دوولس کمیسونه دچا دي، دپلار له پاره خو ډیر کوچني دي؟»مور یې په غمګین زړه ځواب ور کړ او ویې ویل چې:« لور جانې! داستا د دوولسو ورونو کمیسونه دي.» جلۍ وویل چې.« زما دا دوولس ورونه چیرته دي، ما خو د دوی په هکله هیڅ هم نه دي اوریدلي.» موریې په ځواب کې وویل چې:« یوازې خدای پوهیږي چې ورونه دې چیرته دي، په

ځنګل کې سرګردان ديخوا اوهغې خوا ته کرځې.» بيا يې لورګنکۍ له ځان سره روانه کړه او دهغې کوټې ور يې خلاص کړ، چې پکې درندې توپنو او دمرګ دبالښتونو سره دوولس تا بوتونه ايښودل شوي وو. هغې ته يې دا تابوتونه وروښودل او ويې ويل چې:« دا تا بوتونه ستا ورونو له پاره جوړ شوي دي، خو دوی ستا تر زيږيدو وړاندې وتښتيدل.» بيا يې هغه غمونه ورته بيان کړل چې ور باندې تير شوي وو. په دې وخت کې يې لور وويل چې:« ګرانې مورې! ته مه ژاړه. زه ځم او ورونه مې لټوم.»

جلۍ دا دوولس کميسونه له ځان سره واخيستل، روانه شوه اوپه دې لوی ځنګل ور ننوتله. دې ټوله ورځ مزل وکړ او چې ماښام شو، هغه« په بدومنل شوي» کورګي ته راورسيده. کورته ور ننوتله او هلته يې يو ځوانکی هلک وليد. هلک جلې وپوښتله چې:« ته له کومې خوا راغلې او چيرته ځې؟» جلۍ شاهانه جامې اغوستې وې او دسرو زرو ټيک يې په تنده ځوړو. هلک ددې جلۍ ښکلا ته حيران پاتې شو. جلۍ هلک ته په ځواب کې وويل چې:« زه يوه شهزادګۍ يم اوخپل دوولس ورونه مې لټوم. ترهغو چې دا اسمان شين وي، زه به ورپسې ګرځم، ترڅو چې پيدا يې کړم.» دې هغه ته د دوی دوولس کميسونه هم ور وښودل. په دې وخت کې زمرک پوه شو چې دا جلۍ يې خورده او ورته ويې ويل چې:« زه، زمرک، ستا تر ټولو کشر ورور يم.» دواړه له ډېرې خوشالۍ په ژړا شول، له ډيرې مينې سره غيږ په غيږ شول اويوبل يې ښکل کړل. تر دې وروسته زمرک خپلې خورته وويل چې:« ګرانې خورې! دلته له يوې ستونځې سره مخامخ يو او هغه دا چې موږ که لومړي ځل له پاره دکومې جلۍ سره مخامخ شو، هغه بايد مړه شي، ځکه چې موږ د يوې جلۍ په خاطر د خپلې پاچاهۍ پريښود و ته مجبور شوو.» خور يې په دې خای کې ورته وويل چې:« که زما په مرګ مې ورونه له دې ستونځو نه خلاصيږي، نو په ډيره مينه مرګ ته تياره يم.» زمرک ور ته وويل چې:« نه! ته بايد ژوندۍ پاتې شي. ته اوس دلته په دې صندوق کې پټه شه. کله چې زموږ يوولس ورونه راشي، زه به خبرې ورسره وکړم او موږ به يوې موافقې ته ورسيږو.» شهزادګۍ هغه څه وکړل چې ورور يې ورته وويل. دشپې درارسيدو سره سم دا نوره هم له ښکاره بيرته راغلل، ډوډۍ هم تياره وه او کله چې په دسترخوان کښيناستل، نو ويې پوښتل چې:« څه نوي پيښ شوي دي؟» زمرک ورته وويل چې:« تاسې خبر نه ياست؟» دوی په ځواب کې وويل چې:« نه.» زمرک خپلو خبرو ته دوام ورکړ اوويې ويل چې:« تاسې په ځنګل کې ګرځۍ او زه دلته په کور کې پاتې کيږم نو ځکه تر تاسو يوڅه زيات مالومات لرم.» ټولو په يوه غږ وويل چې:« راته ووايه.» زمرک په ځواب کې وويل:« په دې شرط چې، کومه جلۍ چې په لومړي ځل له موږ سره مخامخ کيږي، نه به وژل کيږي.» دوی ټولو په لوړ اواز وويل:« سمه ده، هغه به وبخښل شي، خو زر راته ووايه چې څه پيښ شوي دي؟» ده ورته وويل.« زموږ خور دلته ده.» بيايې د صندوق ور پورته کړ اوشهزادګې، چې شاهانه جامې يې په تن وې او د سرو زرو ټيک يې په تنده و، دصندوق نه راپورته شوه اوډيره ښکلې او نازنينه ښکاريده. اوس نو ټول ډير خوشاله، يوله بله غاړه غړۍ شول، په ډيره مينه او د زړه له کومې يې يوبل ښکلول. خوريې دزمرک سره په کور کې پاتې کيدله او دکور په کار کې يې وره سره مرسته کوله. دانور يوولس ورونه به هره ورځ ځنګل ته په ښکار پسې وتل، هوسۍ، مرغان، کوترې اونور به يې نيول او دخوراک له پاره به يې کورته راوړل. زمرک اوخور يې ډوډۍ تياروله، سابه يې راشکول، دپخلي له پاره يې لرګي راټولول او ديګونه يې په اور باندې کول او ديوولس ورونو ترراګرځيدو پورې به ډوډۍ تياره وه. دوی دواړو دکور نظم هم ساته، بړستنې اوبسترې يې هم پاکې او منظمې ساتلې. ټول ورونه د خور سره خوښ او په خپلو کې په اتفاق وو.

يوه ورځ دواړو ډيره خوندوره ډوډۍ تياره کړې وه. کله چې ټول سره راټول شول، په دستر خوان کښيناستل په خوشالۍ او مزه يې وخوړل او وچيکل. د« په بدو منل شوي کور» تر څنګ يو کوچنی باغ واو په دې باغ کې دوولس ګلان ولاړ وو. شهزاد ګې دخپلو ورونود خوشالولو له پاره دا دوولس ګلان وشکول او غوښتل يې چې د ډوډۍ په وخت کې هر يوه ته يوګل ور کړي، خو کله چې جلۍ دا ګلان وشکول، په همدې شيبه کې يې له دوولس ورونو نه دوولس کارغان جوړشول او دځنګل دپاسه

والوتل. کور او باغ هم ورک شول. په دې ډول دا بې وزله او بې وسه جلۍ په دې وحشي ځنګل کې یوازې پاتې شوه، خو چې شاوخوا ته یې وکتل، ویې لیدل چې یوه زړه ښځه یې تر څنګ ولاړه وه او ورته ویې ویل چې:« لور جانې دادې څه وکړل؟ دا دوولس سپین ګلان دې ولې په ځای ولاړ پرې نه ښودل؟ داخو ستا ورونه وو، اوس نو ور څخه د تل له پاره کارغان جوړ شول.» جلکۍ په ژړا وویل چې:« اوس نو د دې حالت نه دهغوی دخلاصون کومه لارشته؟» بوډۍ ورته وویل چې:« نه، په ټوله نړۍ کې د دوی د خلاصون بله لار نشته، یوازې یوه لار شته، خو هغه ډیره سخته او نا شونې ده او وبه نه کړی شې چې په دې لار یې خلاص کړې، ځکه ته باید اوه کاله کونګه پاتې شې، نه به خبرې کوې او نه به خاندې. که دې د اوه کالونه یوه ګړۍ وړاندې هم یوازې یوه خبره وکړې، نو له دې خبرې سره سم به دې ورونه مړه شي.

اوس نو جلکۍ دځان سره په زړه کې وویل چې:« زه اوس په دې پوه شوم چې ورونه به مې ازاد ګړم.» دا لاړه او د یوې جګې ونې په لټه کې شوه، چې پیدا یې کړه، نو ور پورته شوه او هلت یې په ونه کې ځان محکم کړ، نه یې خبرې کولې او نه خندیده. د خدای کارونه وو چې یوه ورځ یو بل پاچا په ښکار پسې ځنګل ته راووت. پاچا یو غټ با دي سپی درلود. سپي د هغې ونې په خوا منډه کړه، چې شهزاد ګۍ ورختلې وه، اوهلته د ونې په شاوخوا ګرځیده، ټوپونه یې وهل،غپیده اوچغیده. په دې وخت کې پاچا هلته ورغی اوشهزادګۍ یې چې، دسروزرو ټیک یې په تنده خلیده، ولیده، ښکلا یې زړه ترې یووړ او ترې ویې غوښتل چې که غواړې چې دده سره واده وکړي. شهزاد ګۍ خبرې نه کولې، خو سریې یو څه غوندې وخوځاوه. باد شاه په خپله ونې ته وروخوت، دا یې راکته کړه، په خپل آس یې کښینوله او کورته یې راوستله. یو لوی او ښکلی واده یې جوړ کړ، خو ناوې نه خندیده او نه یې خبرې کولې. څو کاله یې له یو بل سره په مینه او خوشالې کې تیرکړل، تر څو د پاچا مور، چې یوه خرابه غوسه

ناکه ښځه وه، دځوانې ملکې ځورول اوتحقیرول پیل کړل او پاچا ته یې وویل چې:« دا چې تا له ځان سره راوړې ده، بل څه نه دي، یوازې یوه درویزګره جلکۍ ده. خدا خبر دی چې دا به په زړه کې څه ډول دسیسې جوړوي. که چیرې ګونګه وي، نویووار خو باید وخاندي. څوک چې هیڅ نه خاندي، هغه په رښتیا چې ډیر بد وجدان لري.» پاچا په اول کې دهغې په خبرو با ور نه کاوه، خو دې بوډۍ مور یې په میر من پوري پرله پسې دومره  تورونه  وتړل چې په اخرکې یې پاچا تر اغیزې لاندې راغی او خپلې میر منې ته یې دمرګ جزا وټا کله.

د دربار په انګړ کې یې ډیرلوی اوربل کړ او غوښتل یې ملکه په دې اورکې وسوزوې. پاچا هلته پاس په کړکۍ ولاړ و اود هغې دلیدو په وخت یې له سترګو اوښکې بهیدلې، ځکه چې تراوسه ډیره په ګرانه وه. کله چې دا یې په یوه ډانګه پورې کلکه وتړله او داور سرې لمبې یې دکمیس لمنې ته ورورسیدې، په همدې وخت کې داوو کالو وروستۍ شیبې هم پای ته ورسیدې او ورسره سم په هوا کې د چټک حرکت اواز واوریدل شو او که ګوري چې دوولس کارغان دبازانو په شان په چټکۍ دانګړ په مخ راټیټ شول. کله چې پښې یې په ځمکه ولګیدې، دا هغه دوولس ورونه وو، چې خور یې ازاد کړل. ورونو یې د اور لرګي دیخوا او هغې خواته خپاره کړل، د اور لمبې یې مړې کړې، خپله ګرانه خور یې خلاصه کړه. زړونه اوځانونه یې یوبل ته نږدې کړل او یوبل یې ښکل کړل. اوس نوچې د خور خوله خلاصه شوه او د خبرو اجازه یې ترلاسه کړه، پاچا ته یې د دې خبرې راز بیان کړ، چې ولې یې ځان ګونګ نیولی و او خندیده هم نه. پاچا چې دا واورید او پوه شو چې میر من یې بې ګناه ده، نو ډیر خوشاله شو او دوی ټولو

خپل ټول ژوند دلته په خوشالۍ او اتفاق کې تیرکړ. د پاچا مور چې کینه کښه اوغوسه ناکه ښځه وه، محاکمه شوه او جزا یې دا شوه، چې د خوټید لو تیلو او زهرجنو مارانونه ډ ک بیلر کې یې واچوله او په سخت مرګ مړه شوه.

**Grimms Märchen: Kinder- und Hausmärchen**

Die komplette Liste

# بې عقله بختمل

په يوه زمانه کې يو بادشا و، يوه لوريې درلوده او دا لور يې يوازنی اولاد و، بادشا د خپلې لور سره د خوشالۍ نه ډ ک ژوند کاوه. دې شهزادګۍ يو کوچنی دنيا ته را وړ او هيڅوک نه پو هيدل چې پلار يې څوک و. بادشا هم تر ډير وخت پورې نه پو هيده چې څه وکړی. په پای کې يې امر وکړ چې شهزاد ګی دې د خپل ماشوم سره کليسا ته لاړه شي، ماشوم ته دې يو ليمو په لاس کې ورکړي، هرچاته چې ما شوم دا ليمه ورکړ، هغه به د ماشوم پلار او دشهزادګۍ ميړه وي. باد شا دا امرهم کړی و چې يوازې ښکلي ځوانان به کليسا ته رابلل کيږي، د بادشا امر په ځای شو. خو دلته، په دې ښار کې يوپه تن وړوکی، کوږ او کړوپ ځوانکی هم اوسيده چې چندان هوښيارهم نه و. له دې امله به خلکو « بې عقله بختمل » باله. دا بې عقله بختمل هم، بې له دې چې د چا ورته پام شي، د نوروپه منځ کې کليسا ته ورننوت. ماشوم ليمو دټولو خلکو په منځ کې همدې بې عقله بختمل ته ور کړ.
شهزاد ګۍ وډار شوه، بادشا دومره په غوسه شوچې شهزادګۍ يې دماشوم اوبختمل سره يوځای يوه خم ته ور ننباسل او په لوی سند کې يې لاهو کړل. خم په بيړه په اوبو کې روان شو او کله چې له خلکو لرې، په اوبو کې کوښي شول، شهزاد ګۍ بختمل ته وويل چې:« ای کړوپه، بې روحه او بې شرمه هلکه! زه ستا له لاسه بد بخته شوم، ولې کليسا ته راننوتلې، دا ماشوم په تا پورې هيح اړه نه لري.» بې عقله بختمل ورته و ويل چې:« آها ! هغه په ما پورې يو څه اړه لري، يو وخت مې دا ارزو در لوده چې ته دې يو ماشوم ولرې اوزه چې کومه ارزو ولرم، هغسې کيږي.» شهزادګۍ ورته و ويل چې:« که دارښتيا وي، نو زموږ له پاره د ډوډۍ غوښتنه وکړه.» بختمل ورته و ويل چې:« دا هم کولی شم.» بيايې د کچالانو ډکې کاسې غوښتنه وکړه. شهزاد ګۍ خود ښه خوراک په تمه وه، خو داچې ډيره وږې وه، کچالان يې هم ښه پريمان وخوړل. کله چې ښه ماړه شول بيعقله بختمل و ويل چې:« زه زموږ له پاره ديوې ښکلې کشتۍ غوښتنه هم کولی شم.» ده لا خپله خبره پای ته نه وه رسولې چې ګورې درې واړه په لويه اوښکلې کشتۍ کګې ناست دي. په کشتۍ کې د ټولو هغو شيانو پريماني وه، کوم چې دوی غوښتل. کشتۍ چلوونکي کشتۍ دوچې په لور روانه کړه. کله چې دوی وچې ته ورسيدل او له کشتۍ را کته شول، بې عقله بختمل و ويل چې:« اوس دې يو قصررا پيدا شي او دلته دې ودريږي.» همداسې وشول ، چې ګورې په وړاندې يې يولوی او ښکلی قصر ولاړ دې، نوکران په طلايې جامو کې ترې راو وتل، شهزادګۍ او د هغې ماشوم يې دقصر په لور روان کړل او کله چې د قصر منځ ته ورسيدل، بېعقله بختمل و ويل چې:« اوس غواړم چې يو ځوان او هوښسار شهزاده شم.» زر يې دملا کړپ والی ورک شو، سم د نګ، ښکلی اوزړه سوانده شهزاده ترې جوړ شو، دشهزادګۍ هم ډير خوښ شو او واده يې ورسره وکړ.

هلته يې ډېر وخت د خوشالۍ او نيکمرغۍ ژوند کاوه. د خدای کارونه وو چې يوه ورځ زوړ پاچا په آس سپور له کوره په چکر و وت، لار يې ورکه کړه، د يخوا او هغې خوا ته ډير وګرځيد او په پای کې قصرته ورسيد. باد شا حيران پا تې شو، ځکه چې په دې ځای کې يې دا قصر له سره نه و ليد لی او بيرته راوګرځيد. په دې وخت کې شهزادګۍ خپل پلار وپيژند، خو بادشا خپله لور ونه پيژنده او فکر يې کاوه چې هغه خو به لا دوخته په درياب کې ډوبه شوې وي اوکله چې بيرته د کور په لور روانيده، لور يې په پټه يوطلا يې ګيلاس د هغه په جيب کې کيښود. کله چې بادشا د کور په خوا روان شو، لور يې يو څو نوکران ور پسې وليږل، تر څو چې ويې دروي او ويې لټوي چې کوم ګيلاس خو به يې نه وي غلا کړی. د تلاشۍ په وخت کې يې دجيب نه طلايې ګيلاس را وباسه او باد شا يې بيرته شهزادګۍ ته راستون کړ. ده شهزاد ګۍ ته قسم وکړ چې ګيلاس يې نه دی غلا کړی او هيڅ نه پو هيږي چې دا ګيلا س څنګه د ده جيب ته ور ننوتلی دی. شهزادګۍ ورته و ويل چې:« له دې امله بايد هيڅوک په بيړه بل چا ته د ګنا کار په سترګه ونه ګوري.» بيا يې ځان وروښود چې لور يې ده. بادشا ډير خوشال شواو د دوی سره يوځای يې نيکمرغه ژوند کاوه او کله چې مړشو، نو بې عقله بختمل يې په ځای باد شا شو.

Ein Märchen der Brüder Grimm

## تیـربــه ( مولی )

په تیره زمانه کې دوه ورونه وو، دواړه د سربازۍ په خد مت لګیا وو، یویې شتمن واو دا بل غریب و. دې غریب ورور غوښتل چې ځان د بې وزلۍ له ځورونې نه ازاد کړي، نو د سربازۍ جامې یې له تن وایستې او بزګر شو. ده خپله یوه ټوټه مځکه واړوله، د کرنې له پاره یې برابره کړله او تیربې یې پکې وکرلې. د تیربې تخم شین شو. په تیربو کې یوه تیربه ډیره لویه شوه، اوږده شوه، غټه شوه، وده یې په ځای نه د ریده او لوئیده پسې لوئیده. داتیربه د تیربو د شهزادګۍ په نوم یاده شوه، تل د شهزادګۍ په نوم یادیده او د شهزاد ګۍ په نوم به یادیږي. په پای کې دومره غټه شوه چې په هغه لویه کراچۍ کې لا ځای شوله، چې دوو غوایو به کش کوله. بزګر نه پوهیده چې په دې تیربه څه وکړي او په دې هم نه پوهیده چې بد بخت او که نیکبخت به یې کړي. په پای کې یې له ځان سره دا سوچ وکړ چې که ویې پلورم، نو ګمان نه کوم چې ډ یرې پیسې به په ترلاسه کړم، خوړل یې هم چندان ګټور نه بولم، ځکه د دې په ځای نوره وړې تیربې هم خوړلی شم. تر ټولو ښه به دا وي چې باد شا ته یې وروړم او له دې لارې د هغه درناوی په ځای کړم. تیربه یې په لویه کراچۍ کې بار کړه او کراچۍ یې په دوو غوایانوپسې وتړله، دربار ته یې ورسوله اوبادشا ته یې وبخښله. باد شا و ویل چې:« دا څه یو بې سارې شی دې، زما له نظره خو ډ یرشیان تیر شوي دي، خو دومره غټ شی مې تر اوسه نه دی لید لی، دا د کوم تخم نه راپیدا شوې ده او که ستا بخت ښه واو ته یو بختور ځوان یې؟» بزګر ورته و ویل چې:« اخ نه! زه یو بې وزله سر تیری وم، تنخوا مې ډیره لږه وه او په مړه ګیډه ډوډۍ نه رارسیده، نوځکه ما هم د سرتیرۍ جامې په میخ کې ځوړند کړې او د مځکې کرل مې پیل کړل. زه یو ورور هم لرم، هغه ډیر شتمن دی، تاسې ښاغلی باد شا هغه ښه پیژنی، خوزه چې بې وزله یم، ټولې نړۍ هیرکړی یم.» په بزګر د باد شا زړه وسوزید او ورته ویې ویل چې له بې وزلۍ به خلاس شې، زه به تاته دومره تحفې درکړم چې شتمني دې د خپل شتمن ورور سره برابره شي. بیایې یوعالم طلا، د کرنې مځکې، د څرمځکې اورمې وروبخښلې او په دې توګه بزګر دومره لوی بډای شو چې شتمني یې د بډای ورور له شتمنې سره نه پر تله کیده. کله چې هغه واوریدل چې ورور یې د یوې تیربې په بد ل کې څه تر لاسه کړې دي، نو ورسره په حسد شو او په دې سوچ کې ډوب شو، چې په څه ډول به دی هم په دې شان بخت سره مخامخ شي. ده ځان ډیر هوښیار ګاڼه او غوښتل یې چې له چالاکۍ کار واخلي، نو طلا یې له ځان سره واخیسته، آسان یې له ځان سره روان کړل او بادشا ته یې ورکړل، موخه یې بل څه نه وه، یوازې په دې تمه و چې ورور ته یې باد شا چې د یوې تیربې په بدل کې دومره ډ یر څه ور کړل، نوده ته خو به د دې ښو شیانو په بدل کې دومره ډیر مال او جایداد ورکړي، چې کور ته به یې دوړلو توان هم ونه لري. باد شا تحفه ومنله او ور ته ویې ویل چې غواړم چې زما په مال اوجایداد کې تر ټولو ښه او ارزښتناک شی د رته تحفه کړم،  د ډیر سوچ او غور نه وروسته دې پایلې ته ورسید م چې تر دې غټې تیربې بل ښه او ارزښتناک شی نشته، نو ځکه یې درته تحفه کوم. په دې ټوګه بډای ورور مجبور و چې تیربه په کراچۍ کې بار کړي او کور ته یې یوسي. هلته په کورکې ډیر په غوسه و، لار ترې ورکه شوه او هیڅ نه پو هیده چې اوس دا خپل قهراو غوسه په چا وباسي او دا خپل زړه په چا تش کړي. دی په بد و فکرونو اوسوچونو سر شو او پریکړه یې وکړه چې خپل ورور و وژ نې. وژونکي یې پیدا کړل او په یوه پټ ځای کې یې ودرول، وروپسې خپل وروړته ورغی او ورته ویې ویل چې ګرانه وروره، ما په یوه پټ ځای کې یوه خزانه لیدلې ده، راځه چې دواړه پسې ورشو، را به یې وړو او په ځپل منځ کې به یې و ویشو. د ورور یې هم دا خبره خوښه شوه اوبې غمه ورسره روان شو. کله چې د کور نه را و وتل، انسان وژونکو په ور ودانګل، دهغه لاسونه اوپښې یې ور وتړل او غوښتل یې چې په ونه کې یې خوړند کړي. دوی په دې کار لګیا وو چې له لرې په لوړ اوازد یوې سند رې او دآس د نالونو اواز ترغوږو شو. سخت وډار شول او په بیړه یې خپل زنداني په یوه بوجۍ کې واچاوه ، دونې په یوه شاخ پورې یې ځوړند کړاو وتښتیدل. دی پا س په بوجۍ کې د بوجۍ په سورې کولولګیاو، ترڅوچې سر ترې راوباسي. هغه څوک چې په دې وخت کې په دې لار راغی، یوطالب العلم و، یو ځوانکی شاګرد و

چې مست، له خوشالۍ ډ ک، په آس سپورد ځنګل په منځ کې په لار روان و. کله چې هغه پاس په بوجۍ کې زوړند سړي ولید، چې تر لاندې یې یو څوک په لار روان دې، نو ور ناره یې کړه چې سلام، ته په ډیر ښه وخت کې راغلې. طالب هرې خوا ته وکتل او نه پوهیده چې دا اواز له کومې خوا راغی، بالاخره یې و ویل چې دا څوک راته نارې وهي؟ ده د ونې له سره ورنارې کړې چې د لته پاس وګوره، زه د لته پاس دعلومو په بوجۍ کې ناست یم، په لږ وخت کې مې د لته ډیر څه زده کړل، د پوهې د دې بوجۍ په وړاندې ټولې مدرسې او ښوونځي هیڅ هم نه دې، دلته مې هر څه زده کړل، کله چې را کوز شم، نو په ټوله نړۍ کې به تر هر چا لوی عالم وم. زه ستورې پیژنم، داسمانونو په راز، دبادونواو سیندونو په حرکت، د ناروغیو په طبا بت، دبوټو په روغتیایي ارزښت، د ډبرو اوالوتونکو په ژبه پوهیږم. که ته یو ځل دعقل او پوهې دې بوجۍ ته ورننوتې، په خپله به پوه شې چې هغه دعقل او پوهې یوه بې سارې سرچینه ده. طالب چې دا هر څه واوریدل ، حیران پاتې شو او ویې ویل چې سلامت اوبرکت په هغه ساعت چې ته مې پیدا کړې، ایا زه هم په دې بوجۍ کې یو څه تم کید لی شم؟ هغه بل پاس په بوجۍ کې ځان داسې واچاوه چې ګوندې په دې هکله هوکړې ته چندان تیار نه دی او ورته ویې ویل چې د یوې شیبې له پاره به د ور ننوتو اجازه د رکړم خو په دې شرط چې بیه یې راکړې او یوڅه دعا هم راته وکړې، سربیره پر دې باید یو ساعت لا تم شې، ځکه چې یوڅه لا پا تې دي، زه باید لومړی هغه زده کړم. کله چې طلب جان یوڅه انتظار وایست، نو دا یو ساعت وخت ور باندې ډیر اوږد شو او په بوجۍ کې پروت سړي نه یې هیله وکړه چې دعلم دزده کړې تنده راباندې زور شوه، زر بوجۍ ته دننوتو اجازه راکړه. پاس په

بوجۍ کې پروت سړي ځان داسې وخود چې ګوندې د طالب له خوا د ډ یر ټینګار نه وروسته یې دهغه غوښتنه ومنله او ورته ویې ویل چې د دې له پاره چې زه له بوجۍ را و وزم، نو لومړی په دې پړي بوجۍ مځکې ته را ټیټه کړه، بیا به ته ور ننوزې. طالب بوجۍ مځکې ته راکښته کړه، دهغې خوله یې خلاسه کړه اوسړی یې ازاد کړ. بیا یې په داسې حال کې چې نیغ ولاړ و، ورته وویل چې اوس مې په بیړه بوجۍ ته ور ننه باسه. سړي ورته و ویل چې داسې نه کیږي، ته لږ صبر وکړه. بیا یې د سر نه ونیو او سرچپه یې بو جۍ ته ور ننه با سه، د بوجۍ خوله یې وتړله اورسۍ یې کش کړه، طالب یې پاس د ونې سرته وچت کړ، بیا یې په هوا کې په مزه مزه وزنګاوه اوور پسې یې وپوښته چې څنګه یې ګرانه طالب جانه؟ ګوره چې دعلومو وږمې احساسوې؟ ښې تجروبې وکړه، تر هغو دلته ارام کینه، ترڅوچې له هر چا لوی عالم شې. ور پسې بزګر دطالب په آس سپور شو اوپه خپله لار لاړ.

Ein Märchen der Brüder Grimm

## جــانــو د جادو اســتاد

جانو دیوه بزګر زوی و، په یوه کوچني کلي کې اوسیده اود کلي ټولو اوسیدونکو به « لوی ځان ښیونکۍ» باله. یوه ورځ یې پریکړه وکړه چې یو ځانګړی شی زده کړي، یاني غوښتل یې چې د جادو استاد شي. یوه زاړه او هوښیار سړي ته ورغی او هیله یې ترې وکړه چې جادو ورزده کړي. بوډا ورغبرګه کړه چې:« که غواړې جادوګري زده کړې، نولومړی باید درې ځله درې کاله دجادو ګرۍ زده کوونکی شې، بیا نه کاله جادو ګر واوسې، ترهغه وروسته به اجازه و لرې چې د جادو داستادۍ په ازموینه کې ګډون وکړې. جانو ورسره ومنله. ده دا هنر زده کاوه چې سړی څنګه دچا له غوږو، پزې اوجیبونو څخه د طلا سیکې راباسلی شي او په څه ډول کوچنیان خوشالولی او په خندا راوستلی شي. درې کاله وروسته په دې عقیده شو چې اوس یې هر څه زده کړل. داستاد نه یې مننه وکړه او ورڅخه لاړ. په ټول هیواد کې وګرځیده، دهر کلي په درمند یې خپل هنر وښود او که چا به ترې پوښتنه وکړه چې دی څوک دی، نو ده به په ځواب کې ورته ویل چې:« زه جانو دجادو استاد، دجادو لوی استاد یم، خو دلته ستاسې په وړاندې یوازې خپل واړه هنرونه ښیم، لوی هنرونه دځانګړو ورځو له پاره ساتم.» ډیر زر د جادوګرۍ استاد، جانو، اوازه په ټول هیواد کې خپره شوه. بادشا هم په خبرشو او هغه یې ځانته راوباله. کله چې جانو دبادشا په حضور کې ودرید، نوپاچاآله ځان سره فکر وکړ چې داهلک خو دجادو داستاد په څیر نه ښکارې، تر ډیره دیوه ځان ښیونکي په شان مالومیږي.
پادشا مخ ور واړوه او ورته ویې ویل چې:« جانو د جادوګرۍ استاده! څلور اونۍ پخوامې تر ټولو ښکلې ګوته را څخه غلا شوې ده. ستا په شان جادو ګر ته خو دهغې را پیدا کول چندا ستونځمن کار نه دی. د دې له پاره چې څوک مرسته درسره ونه کړي، د تکاوۍ په ژوره سوړه کې دې ننباسم او درې ورځې وخت درکوم، که دا ګوته دې راته پیدا کړه نو د دربار جادوګر به دې وټاکم او که نه نو سردې غوڅوم.» جانو دتکاوۍ په سوړې کې فکر کاوه چې دڅوند یې یوازې درې ورځې پاتې دي، ځکه داسخت چل یې په دومره لنډ وخت کې نه شو زده کولی.د بادشاه ګوته دهغه درې نوکرانو غلاکړې وه. ماښام یې دا یوه نوکر دجادو استاد جانو ته دماښام ډوډۍ راوړه. جانو له ځان سره په دې فکرکې و چې دڅوند د وروستیو درو ماښامونونه یې یوتیر شو. سوړ اوسیلی یې وایست او ویې ویل چې.« که په ربښتیا جادوګر وم ، نو دا لومړی تیر شو.» نوکر چې دجانو خبرې واوریدې نوداسې پوه شو چې ګوندې مقصد یې دی و. له ډاره په لړزا شو او په منډو منډو هغه نورو دوو ملګرو ته ورغی او هر څه یې ورته بیان کړل.هغوی ورته و ویل چې:« له سره دې خوب لیدلی دی.» په دوهم ماښام دوهم نوکر جانو ته دماښام ډوډۍ راوړه. د بیرته تګ په وخت کې یې له جانو واوریدل چې:« که په ربښتیا جادو ګروم نو دا یې دوهم و. دوهم نوکر هم په دې فکر شو چې مقصد یې دی دی او نور دوو ته یې حال بیان کړ. دریم نوکر ورته و ویل چې:« په ډاډ ویلی شم چې ته سم نه یې پوه شوی.» کله چې په دریم ماښام دریم نوکر جانو ته دماښام ډوډۍ ورووړه، جانو سوړ اوسیلی وایست او ویې ویل چې:« که ربښتی جادو ګر وم، نو دایې دریم و.» دریم نوکر چې دا واورید، سختې ویرې واخیست، له ډاره په کونډو شو او جانو ته یې اقرار وکړ. جانو امر ورته وکړ چې:« درې واړه دلته راشی او ګوته هم درسره راوړی، زه به تاسې پا چا ته ور ونه ښیم ! که چیرې مو بیا غلا ته زړه ښه کړ، نو باید پوه شی چې زه د جادو لوی استادیم.» کله چې پادشا ته خبر ورسید چې جانو په ازموینه کې بریالی شو، له تکاوۍ یې را وایست او غوښتل یې چې د دربار جادوګر یې وټاکي، خو جانو نه غوښتل، ځکه ډاریده چې که باد شا یې بیا له داسې ازموینې سره مخامخ کړي نو بیا به په داسې اسانۍ ترې خلاس نه شي. بادشا جانو ته ډیرې تحفې ورکړې او پری یې ښود چې لاړشي.
جانو بیرته خپل کلي ته لاړ او هلته یې یو ښکلی کور، د کر او څړ مځکې را ونیولې. کله به چې په کلي کې دکوچنیانو زړونه تنګ شول، ده په خپلو هنرونو اود جادو په نمایشونو خوشالول او خندول او دکلي اوسیدونکو به ویل چې:« دشکر ځای دی چې لوی ځان ښیونکی بیرته خپل کلي ته راغلی دې.»

- **Europa - Südwesteuropa - Spanien**

## چینډ خان په شید و کې

په یوه اوړي کې د سختې ګرمې له امله یوه کلي ته نږدې یوازنی ډنډ وچ شواو دوه چینډ خان هم مجبور شول چې له دې ځایه کومې بلې خوا ته کوچ وکړي. هلته په ګاونډ کې د یوه بزګر کور و. دې کور یو پخلنځی درلود چې تر څنګ یې د خوراکي توکو د ساتلو د پاره یوه وړه او سړه کوټنې وه او په کوټنۍ کې د تازه او غوړو شیدو ډ که کټوه وه. چینډ خانو چړپ کټوې ته ورټوپ کړل، شیدې یې چیکلې اوشونډې یې زبیښلې، ترڅو چې دواړه ښه ماړه شول. او س یې غوښتل چې د کټوې نه بیرته را و وزي. هڅه یې وکړه چې د کټوې ننې دیوال ته په لامبو ځان ورسوې، خو دا چې ډیرې شیدې یې چیکلې وې، هلته یې درسیدو وس ونه رسید. که هر څومره دیخوا اوهغې خواته سرګردانه وخوځیدل او یو خوا اوبل خوا یې ټوپونه و وهل، دکټوې نه یې د راوتو امکان پیدا نه کړ. ورو ورو ستړې شول او له پښو ولویدل. په پای کې یوه چنډخ دې بل ته و ویل چې:« ملګریه ! موږ نور ختم یو، زموږ د خلاصون لاره اوچاره نشته، هلې ځلې نور مانا نه لري.» او د د دې خبرو سره یې ځان خوشې کړ او په شیدو کې ډوب شو. دابل چسنډخ تمه لنډه نکړه خپلو هڅو ته یې دوام ورکړ او ټوله شپه یې په شیدو کې په لامبو اوخیزونو تیره کړه. د بلې ورځې په سهر، کله چې د لمر تودې شعلې کوټنۍ ته ننوتې، چنډخ دکوچو په غونډارې ناست و، اوس بې له دې ځایه په خپل ټول قوت یو ټوپ وکړ او دکټوي نه را و وت.

Bezaubernde Kurzmärchen aus aller Welt

## خوږه حلوا

یو وخت یوه غریبه او پاکه جلکۍ دخپلې مور سره یوازې اوسیده. دوی د خوړلو د پاره هیڅ نه درلودل. نو یوه ورځ دخوراکي
توکود پیدا کولولپاره
ځنګل ته ولاړه. په ځنګل کې د یوې بوډۍ ښځې سره مخامخ شوه. بوډۍ د دې جلۍ په بیوزلۍ خبره وه، نو یوه کټوه یې ورته ډالۍ
کړه او دایې هم ورته وویل چې که کټوې ته ووایې چې :« کټوې، پخلۍ وکه،» نو دا کټوه به دارزنوخوږه حلوا پخه کړي او بیا چې
ورته ووایې «کټوې، نور بس کړه،» نوبیا به پخلۍ بس کړي. جلۍ دا کټوه د ځان سره دخپلې مور لپاره کور ته راوړه. په دی توګه
دواړه له غریبې او لوږې بیغمه شول او هر وخت به یې چې زړه وغوښتل خوږه حلوا به یې خوړله. کله چې جلۍ د یو څه وخت
لپاره د کور څخه دباندی ولاړه، نو موریې کټوې ته وویل:« کټوې، پخلۍ وکړه،» نو کټوې پخلۍ پیل کړاود جلکۍ مورځان په حلوا
ښه موړ کړاوغوښتل یې چې کټوه دی نور پخلۍ بس کړ، خو نه پوهیده چې څه ورته ووایې، نو ځکه کټوه په پخلي لګیا وه، حلوا
دکټوی تر خولې را پورته شوه، خو پخلي ته یې دوام ورکړ، تر دیګ راتوی او پخلنځی ته راسر شوه او پخلنځی ترې ډک شو، بیا
ټول کور،وریسې دوهم کور، تر دې وروسته کوڅې ته را ووته. ټوله کوڅه هم د خوږې حلوا څخه ډکه شوه. داسې ښکاریده لکه
چې دې کټوې ټوله دنیا مړه ول اود لوږې او بیوزلۍ ختمول غوښتل. هیڅ څوک نه پوهیدل چې څه رنګه د ځان سره مرسته وکړی.
بالا خره کله چې یوازې یو کور پاتې و، جلۍ کورته راغله او کټوې ته یی وویل:«کټوې، بس کړه،» **نو کټوې نور پخلۍ بس کړ.**
**هر چاښار ته تر تګ دمخه اول ځان په حلوا موړاوه .**

Ein Märchen der Brüder Grimm

# د کرستال ګلوله

يو وخت يوې جادو ګرې درې زامن در لودل. درې واړه ورونه يو په بل ګران وو، خو بوډۍ جادو ګرې په خپلو زامنو باور نه درلود او ډاريده چې واک او د جادو ګرۍ ځواک به ترې واخلي. له دې امله يې دمشر زوی نه په خپله جادو د هسکو غرونو شاهين جوړ کړ او هلته په کومه پرخه کې اوسيده او کله کله په لوړ اسمان کې په لويو لويو دورو ښکته او پورته د الوتلو په حال کې ليدل کيده. دوهم زوی يې په نهنګ واړوه چې دلوی درياب په تل کې اوسيده او يوازې هغه وخت به په سترګو ليدل کيده چې داوبو لويې ځپې به يې پورته لوړې شندلې. دواړه به هره ورځ يوازې دوه ساعته د انسان په څيره کيدل. کشر زوی يې وډار شو چې دی به هم په کوم ژوې واړوي، خرس اويا ليوه به ترې جوړ کړي، نو ځکه په پټه ترې وتښتيد. ده اوريدلي و چې د طلايي لمر په قصرکې يوه جادو شوې شهزاد ګۍ ناسته ده او غواړي چې ازاده شي. يوازې هغه څوک د دې دازادولو جرأت کولی شي چې له ځان نه تير وي. درويشت زلميانو په دې لارکې ژوند له لاسه ورکړ او په ډ يرسخت اوله رنځونو ډک ژوند مړه شول، يوازې يو کس پاتې دی او تر هغه وروسته بل څوک هغې خوا ته د ورتګ اجازه نه لري. داچې دی يو زړور زلمی او په زړه کې يې هيڅ ډار نه و، نو نيت يې وکړ چې د طلايي لمر قصر ته به ورځي. ډير موده هرې خوا ته پسې وګرځيد خو پيدا يې نه کړ، ترڅو چې په يوه ځنګل ور برا برشو او په دې هم نه پوهيده چې دځنګل نه د وتو لار چيرته ده. ناڅا په يې دوې لويې بلاګانې وليدې چې په لاسو اشاره ورته کوي او ځانو ته يې بولي. دی ورغی او بلاګانو ورته و ويل چې:« موږ دواړو په دې خولۍ دعوه ده، خو داچې دواړه يو شان زور او ځواک لرو، نويوه هم په بله زوروره نه شوه. تاسې چې يو کوچنی انسانان ياست تر موږ ډير هوښيار ياست، نو ځکه دا پريکړه تاته در پريږدو.»هلک ورته و ويل چې:« تاس ولې په دې زړې خولۍ دومره جنګ او دعوه کوی؟» بلا ګانو ورت و ويل چې:« ته د دې خولې په کمال خبر نه يې، دا د جادو خولۍ ده، که څوک يې په سر کړي اوهرې خوا او هرځای ته چې وغواړي لاړشي، په هغه شيبه کې به هلته وي.» هلک ورته و ويل چې:« داخولۍ ماته راکړی، زه تر يوه بريده له تاسې ليرې ځم، تاسې به زما دغږ سره سم رامنډې کړی او هره يوه چې زر راورسيده خولۍ به د هغې وي.» ده چې خولۍ په سرکړه، نو روان شو، فکر يې د شهزاد ګۍ سره و، دا لويې بلا ګانې يې هيرکړې او په خپله لار روان و چې دزړه له تله يې هوسيلی را و وت او ويې ويل چې:« کاشکې اوس دطلايي لمر په قصر کې وی.» په کومه شيبه کې يې چې دا خبرې له خولې نه راوتله، چې ګوري د لوړغره په سرد قصر د دروازې په مخکې ولاړ دی.

قصر ته ور ننوت، ټولې کوټې يې يوه په بله پسې وليدې او په وروستې کوټې کې يې شهزاد ګۍ پيداکړه. د شهزاد ګۍ مخ دايرو په شان سپين، له ګوڼجو ډ ک، سترګې يې خړې او ويښتان يې سره وو. هلک د شهزاد ګۍ په ليدو سخت وډار شو او ويې پوښتله چې:« ايا ته هغه شهزاد ګۍ يې چې دښکلا اواز دې په ټوله دنيا کې خپردی؟»شهزاد ګۍ ځواب ور کړ چې:« دا زما اصلي څيره نه ده، زه دانسان په سترګو کې داسې بې ډوله او بې شکله ښکارم، د دې له پاره چې زما اصلي څيره ووينې او پوه شې چې څنګه ښکارم، دې آينې ته وګوره، هغه هيڅوک نه غولوې اوزما اصلي څيره درښيي.» بيايې هلک ته آينه ورکړه. هلک په آينه کې ديوې دومره ښکلې پيغلې انځور وليده چې په ټوله دنيا کې يې ساری نه درلوده. دانځور په ليدو دومره خواشينی او غمګين شو چې له سترګو يې اوښکې وڅڅيدې. بيايې شهزاد ګۍ ته و ويل چې:« زه د هيڅ ډول خطر نه نه ډاريږم، دومره راته ووايه چې ستا دازادولو لار کومه ده؟» شهزاد ګۍ ورته و ويل چې:« څوک چې د کرستال ګلوله تر لاسه کړي اوجادوګر ته يې مخامخ ونيسي، د جادوګرد جادو ځواک ماتيږي، زه ازاديږم او خپله اصلي بڼه تر لاسه کوم.» بيا يې ژور اوسيلی وايست اوزياته يې کړه چې:« ځينو خو خپل ژوند په دې لار کې له لاسه ورکړ، خو په تا مې، ای ځوانکيه! ډير زړه سوزي چې ځان له دې لويو خطرونو سره مخامخ کوې.» زلمي و ويل چې هيڅ شی زما مخه نه شي نيولی، خو دومره راته و وايه چې څه بايد وکړم.» شهزاد ګۍ ورته و ويل:« چې داسې وي نو بايد په هرڅه پوه او خبر شې. کله چې دهغه غره له سر نه چې قصر په ولاړدی، ښکته لاړ شې، هلته دچينې په غاړه يو وحشي خوسند ر ولاړ دی، ته به دهغه سره مقابله وکړې. که بخت درسره مرسته وکړه او په هغه بر شوې، نو دهغه له تن څخه به داور يو الوتونکی را پورته شي، د الوتونکي په نس کې داور سکروټې په شان يوه هګۍ ده او دهګۍ په منځ کې دکرستال ګلوله ده. الوتونکی په خپله خوښه دا هګۍ نه غورځوې، ترڅو چې دی کار ته مجبور نه شي. که په مځکه ولويږي، نو په شاوخوا کې يې

هر څه اور اخلي او سوزي او ورسره سم هگی دکرستال ګلولي سره یو ځای ویلي کیږي. په دې صورت کي به ټولي هلي ځلي بي ګټي شي.» ځوانکی ښکته د چیني په لور روان شو، هلته دا وحشي خوسندر ولاړ و او دهلک په ورتګ سره په رمباړو او ټو پونو شو. دسختي او اوږ دي مقابلي نه وروسته په دې بریالی شو چي په خپل خنجر د خوسند ر نس څیري کړي اوخوسند رپه مځکه پریوت. ورسره سم یي له ځانه داور الوتونکۍ راو وت او غوښتل یي چي په تیښته کومي خوا ته والوزي، خو په دې شیبه کي هغه شاهین ـ د هلک ورور ـ چي پاس په وریځو کي الوته، په هغه پسي شو او د دریاب په لور یي تیښتي ته مجبور کړ، دخپلي تیري ( تیزی ) مښوکي د پرله پسي بریدونو له امله یي را ګیر اود هگۍ اچولو ته مجبور کړ. هگۍ په او بو کي ونه لویده، د دریاب په غواړه دیوه ماهي نیوونکي په کوټنۍ ولویده چي ورسره سم لوګي او لمبي ترې را پور ته شوې. په دې شیبه کي یي دا بل نهنګ شوی ورور په اوبوکي په لامبو په خپل ټول زور را پورته شو چي داوبو په څپه یي اور مړ شو. هلک دهگۍ په لټه کي شو او له نیکه مرغه یي بیامونده. هگۍ ویلي شوې نه وه، خو داچي ناڅاپه د دریاب سړې اوبه په تویي شوې، پو ټکی یي یو څه ګوړینجي شوی و، خو د کرستال ګلولي ته تاوان نه و رسید لی او هلک په اساني د هگۍ نه دکرستال ګلوله را وایستله.

کله چي ځوانکی جادو ګر ته ورغی او په مخي یي دکرستال ګلوله ونیوله، هغه ورته وویل چي:« بس، زما دجادو ځواک اوبه شو. ته سر له نن څخه د دې طلا یي لمر قصر پاچا یي او هم کولی شي چي ورونه دې له جادو ازاد او بیرته دانسان په بڼه کړې.» ځوانکي تر هر څه دمخه شهزادګۍ ته ور ودانګل او کله چي کوټي ته ور ننوت، نو ګوري چي دشهزادګۍ دښکلا شغلي هرې خوا خپرې دي. دواړو په ډ یره خوشالی د واده ګوتي یو بل ته ور کړې.

[Liste von Märchen - Grimms Märchen - Grimmstories.com](https://www.grimmstories.com)

## د هوښیارې کونګې کیسه

ډیر وخت پخوا دځنګل د ننه په یوه ژوره کې یوې کونګې ژوند کاوه. دې کونګې د ځیرۍ د یوې ځواکمنې ځانګې په سرکې ځانته یوه ځاله جوړه کړه او ټول هغه څه به یې په غور او مینه اوریدل چې د ځنګل ژویو به د خپلو غمونو او ښادیو په هکله ویل.
کونګې هم هغه کیسې په مینه بیانولې چې باد او باران به له ورایه راوړلې. له ورځو نه یوه ورځ یې پریکړه وکړه چې دځنګل منځ به پریږدي او کومې بلې خواته به ځي، تر څوچې نوې کیسې واوري. دې خپل وزرونه وغځول او په دې پراخه نړۍ کې د لرې ځای په لور والوته. کونګې په خپلو غټو سترګو هرڅه لیدل، په خپلو تیزو غوږو یې هرڅه اوریدل او په خپله ځواکمنه حافظه کې یې هرڅه په غور خوندي ساتل. په دې ډول کلونه کلونه تیریدل، کونګه زړه کیده او ورځ په ورځ هوښیاریده. اوس یې نو په خپل ځنګل او د ځیرۍ په لویه ونه پسې زړه وخوړیده، دهغوی دلیدو تنده یې ورځ په ورځ زیاتیده او پریکړه یې وکړه چې بیرته خپل ټاټوبي ته را وګرځي. په ورځو ورځو والوته او له ډ یرې الوتنې نه وروسته په کراره په زړې ځیرۍ کې په خپله ځاله کې کیناسته. کله چې د ځنګل ژوي خبر شول چې هوښیاره کونګه بیرته راغلې ده، نو ټول د سپوږمۍ په رڼا کې دځیرۍ لاندې سره ټول شول او غوښتل یې چې ټولې هغه کیسې واورې، کومې چې هوښیارې کونګې د نړۍ د هرې خوا نه له ځان سره راوړې وې. کونګې په ډ یرمینه داسې خوند ورې کیسې اورولې او ټولو ژویو په دومره خوند اورید لې، چې هیچا نه غوښتل کور ته لاړ او ویده شي. دې په ترتیب خپلې کیسې د مرغلرو په شان په تار کې پیلې وې اویوه په بله پسې یې په خوند بیانولې او اوریدونکویې په مزه مزه اورید لې، ترڅو چې کیسې پای ته ورسید لې. بیانو یوه آهو و ویل چې:« میرمن کونګې! ته څومره هوښیاره یې، ما خو له تا ډ یر څه زده کړل، خو د خواشینۍ ځای داد ی چې انسانان ستا کیسې نه پیژني.» کونګه تر ډیر وخت پورې په دې هکله په فکر کې ډوبه وه او کله چې پوه شوه چې د ژوند وخت یې ډیر نه دی پاتې، نو یوه غټه کتابچه او یوه د لیکلو ښکه یې راوخیستل او د کیسو لیکل یې پیل کړل، لیکل یې، اولیکل یې او کله چې یې وروستې کیسه تر پایه ولیکله، نو د تل له پاره یې سترګې پټې کړې او د مرګ په خوب ویده شوه. داغټ کتاب د ځیرۍ لاندې را لویدلی و، ما بیاموند او چې خلاس مې کړ پکې لیکل شوي وو چې:« ډیر وخت پخوا.......»

*Märchen aus Tschechien, Fassung Djamila Jaenike, © Mutabor Verlag, Kindermärchen aus aller Welt Bild: Cristina Roters*

داغزیو ګلاب

په ډ یرو پخوانیو وختو کې یو پاچا دخپلې میرمنې، ملکې، سره ګډ ژوند کاوه، دوی به هره ورځ ویل چې کاشکې موږ یو اولاد درلود لی، خو دا هیله یې هیڅ نه پوره کید له. یووارملکه د لمبید و په تشناب کې ناسته وه چې یو چینډ بښ د اوبو څخه راووت او ورته ویې ویل چې:« ستاهیله به تر سره شی او یوه جلکۍ به د نیا ته راوړی.» څه چې چینډ بښ ویلې و هغسې و شول. د ملکې یوه لورپیدا شوه. داماشومه د ومره ښائیسته وه چې پاچا له ډیری خوشالی په جامو کې نه ځا ییده او یولوی جشن یې جوړ کړ. ده دې جشن ته نه یواز خپل خپلوان، دوستان اویاران راوبلل، بلکې دجلکۍ دښکلا اومتوازینی ودی په هیله یې پوهو ښځو ته هم بلنه ورکړه. د ده په پاچا هۍ کې داسې هوښیارې ښځی۱۳ تنه وې، خوده دې ډول هوښیارو ښځو ته د ډوډۍ د ورکولو لپاره یوازې ۱۲ دسروزرو تالي درلودل. له دې امله یوه له دې هوښیارو ښځو باید په کور کې پاتې شوې وای. جشن په ډیره ښکلا، شان او د ب د به ترسره شوکله چې پای ته ورسید نو دې مشهورو ښځو کوچنۍ شهزادګۍ ته معجزاتي دعاګانې ډالۍ کړې، یوې ښه اخلاق، بلې ښکلا او دریمې ډیره شتمني ورته وغوښته او په همدې ډول دې نورو دا دعا ورته وکړه چې د د نیا ټول ښه دې دماشومې شهزادګۍ

په برخه شي. کله چې یوولسمي میر مني خپله دعا پای ته ورسوله، هغه دیارلسمه میرمن چې مراسمو ته نه وه رابلل شوې، ناڅاپه را پیدا شوه او بې له دې چې دڅاسره ستړې مشې وکړي اویا ځاته مخ ورواړوي، په لوړ آواز یې ناره کړه چې:« دپاچالور دې په ۱۵کلنۍ کې د اوبدلوڅرخک په تیره څوکه داسې خوږشي چې ترې مړه شي.» ددې ټکو له ویلو وروسته بیر ته را ګرځیده او له سالون نه ووتله، په دې وخت کې دې نورو دوولس ښځو، چې دهرې یوې یوه یوه دعا لا پاتې وه، نشوای کولی چې په خپلو دعا ګانو د دیارلسمې ښځې دښیرو اغیزې له سره شنډې کړي، خو تر یوې اندازې کمولی شوې، نوځکه یې وو ویل:« مرګ دې نه وي، دپاجا لور دې په سل کلن ژور خوب کې ډوبه شي.» پاچا غوښتل چې خپله ګرانه لور له بد مرغۍ وژغوري، په دې خاطریې حکم وکړ چې په ټول سلطنت کې دې داوبدلو سپرخي له منځه یوړل شي. کوچنې نجلۍ ته دهوښیارو ښځو ټولې دعاوې ورورسیدې. دغه نجلۍ ریښتیا هم ډیره ښائسته، با ادبه، خوش اخلاقه او ځیرکه وه. هر چا چې به لیدله، داښکلې جلۍ پر ګرانید له. داسې پیښه شوه چې په هغه ورځ چې دا پنځلس کلنه شوه، پاچا او ملکه په کور کې نه وو، جلۍ په قصرکې یوازې پاتې وه. دا په ټولولویو اووړو کو ټو کې ، چیرې چې د دې زړه غوښتل وګرزید له. اخر

یوه زاړه برج ته ورسیدله. په دغه برج کې یوه تنګه درپایه ( زینه) پورته ختلې وه، چې په سر کې یوې وړوکې دروازې ته رسیدلې وه. د دروازې په کولپ ( قفل ) کې یوه زنګ وهلې کلي وه، کله چې جلکۍ دا کلي تاو کړه، دروازه خلاصه شوه، چې ګورې په یوه کوچنۍ کوټه کې یوه زړه بو ډۍ ناسته ده او اوبدل کوي. جلکۍ ترې وپوښتل چې:« ای زړې مورکۍ! ته دلته په څه لګیا یې ؟» بوډۍ ورته وویل چې:« زه دلته اوبدل کوم » او سریې ښکته کړ. جلکۍ وویل چې: « دا شی څه په مستۍ او مزه هره خوا ټو پونه وهي!» دې سپرخی په لاس کې واخیست او غوښتل یې چې اوبدل وکړي. خو په همد شیبې کې چې دې سپرخي ته لاس ورنږدی کړ، د دیارلسمې ښځې دجادوښیرې په ولګیدې ، سپرخی یې په ګوته را وڅرخید او جلکۍ یې خوږ کړه. کله چې په زخم پوه شوه، په همدې شیبې کې بیځانه شوه ، په ځمکه پریوته اوپه ژور خوب ویده شوه. داخوب په ټول قصر کې خپورشو: پاچا او ملکه چې تازه قصر ته را ورسیدل دټولو در باریانو سره په ژورخوب ویده شول.

آسان هم په غوجل کې، سپی په سرای کې، کوترې پر

بامو، مچان پر دیوالو ویده شول، د اور لمبې، چې تر بخاری راوتې، ختم شوې، دیګ خوټیدل بند کړ. آشپزچې خپل شا ګرد یې تر ویښتانونیولی و، ځکه چې یو څه غلطي یې کړې وه، نوهغه یې پریښود او ویده شو. باد ودریده، د قصر و مخ ته ونې ساکتې شوې او پاڼې یې نه ښورید لې. د قصر ګرد چاپیره داغزو ویاړه را وخوټیده چې ورځ په ورځ لوییده او لوړیده. دا ویاړه تر ټول قصر راچاپیره شوه او دومره جګه شوه، چې د قصر په بام ولاړ بیرغونه هم نور نشو لیدل کېدای. خو د اغزیو ګلاب اوازه، چې په سل کلن ژور خوب ویده وه، هرې خواته خپره شوی وه: داغزیوګلا ب د پاچا ددی ښکلې لور نوم و، نوځکه به وخت په وخت د پاچا هانو زامن راتلل او غوښتل یې چې تر ویاړې تیرشي او قصر ته ځان ورسوي، خو دا کار ممکن نه و، ځکه دویاړې ښاخونو دلاسو په څیرد دوی مخه نیوله، دا ځلمیان په اغزو کې بند پاتې کېدل او په له رنځه ډک مرګ مړه کېدل. ډیر کلونه وروسته یوځل بیا دپاچا زوی دې ځای ته راغی او یوه زاړه سړي داغزیوګلاب کیسه ورته بیان کړه. بوډا ور ته وویل چې ددې ویاړې تر شا یو قصر دی، په دې قصر کې دپاچا یوه ډیره ښکلې لور، چې نوم یې داغزیو ګلاب دی، ویده ده اوټول درباریان هم په قصر کې

ورسره ویده دي. دپاچازوی دخپل نیکه څخه هم اوریدلي وچي دډیرو پاچا هانو زامنو هڅي وکړې چي داغزو تر ویاړی تیرشی، خو ټول داغزو په منځ کي بند پاتې شول او ډیرپه تکلیف مړه شول. د پاچا زوی وویل:«زه له دې نه ویرېږم،غواړم چي تر ویاړې تیر شم او دا ښکلي داغزیو ګلاب ووینم.» بوډا که هرڅومره هڅه وکړه چي مخه یې ونیسی، خو د پاچا زوی غوږ ورته ونه نیو. د پاچاد زوی دراتګ په ورځ هغه سل کالونه هم تیر شول. کله چي دې ویاړی ته ور نږدی شو، نو یې ښکلي کلونه ولیدل، چې یو له بله لیری شول، اولار یې ورکړه، تر دی وروسته بیا د ویاړې په څیر سره نږدی شول. دپاچا زوی قصر ته ور ننوت او ویني چي آسونه او ښکاری سپي په سرای کي ویده پراته دی، کوترې په بام ناستی وې او سرونه یې تر وزرو لاندی پټ کړي وو.
کله چي کور ته راورسید، ویني چي مچان پر دیوالو ویده دي، په اشپزخانه کي آشپز اوس هم لاس داسي نیولی و، لکه چي غوښتل یې چي هلک له ویښتو ونیسی، نوکره دتور چرګ سره، چي غوښتل یې له بڼکو یې پاک کړي، ناسته وه. دی وړاندی لاړ اوویې لیدل چي په سالون کي ټول در باریان ویده پراته دي او هلته پاس پر تخت پاچا او ملکه پرا ته وو. دی نورهم وړاندی لاړ، هرې خوا داسي آرامي وه چي تنفس هم نه اورید ل کیده او په پای کي برج ته ورسید، اود هغې کوچنی کوټې دروازه یې خلاصه کړه چي داغزیو ګلاب پکي ویده وه. دا هلته پرته وه او داسي ښایسته وه چي د پاچازوی یې په لید و نه موړیده، ورو ور ټیټ شو اوښکل یې کړه. کله چي یې شونډ ې ددې شونډوته ورنږدی شوې، داغزیوګلاب ستر ګی وغړولی، رابیداره شوه او دپاچا زوی ته یې په مینه وکتل اوبیا
دواړه یو ځای راکښته شول، پاچا، ملکه او درباریا ن راویښ شول او یو بل ته یې په غټو سترګو وکتل. آسان په سرای کي سره وښوریدل، ښکاري سپي راوغورځیدل او لکی یې وښورولې، کوترو پر بامو د وزرو څخه سرونه راوایستل، چار چاپیره یې وکتل او پالیز ته وروالوتلې، پر دیوالو ناست مچان وخوځیدل ، په آشپز خانه کي د اور لمبی بیرته راپورته اود خواړو پخول بیرته پیل شول، دغوړوچنا شروع شوه او آشپزد هلک پر غوږدا سی څپیړه ورحواله کړه، چي چیغه یې کړه، نوکرې چرګه له بڼکو پا که کړه، ورپسی د پاچا زوی سره داغزیوګلاب دواده لوی او ښکلی جشن ونیول شواو دواړوټول ژوند په ګډه نیکمرغی کي تیرکړ.

grimmstories.com

## دبريمن څلور ښاري سازنده

يو وخت يوه سړي يو خر درلود چې ډير وخت دخپل څښتن په خدمت کې وفادارپا تې شوی و، خو اوس کمزوری شوی اوځواک يې اوبه شوی دی، دا خر نور دکار نه و.
څښتن يې غوښتل چې خوراک پر بند کړي، خو خر پوه شو چې حالات سم نه دي، نوځکه وتښتيد او د بريمن پر لور روان شو. د ده خيال و چې هلته به « ښاري سازنده شي.» چې يو څه په لار ولاړ، نو يو ښکاري سپی يې وليد چې په لارکې پروت و، او ساه يې داسې ايستله لکه چې په د يره ځغاسته ډير ستړی شوی وي. خره پوښتنه تر ې وکړه چې،« ای چابکه! اوس ته دلته څه ساه اوباسې؟» سپي آخ کړ او ويې ويل: « چې زه زوړ شوی يم، ورځ په ورځ کمزوری کيږم او ښکار ته هم نشم تللی، زما مالک غوښتل چې ما ووژنی، ځکه ور ځنې وتښتيدم، خواوس په دې سوچ کې يم چې ځانته به ډوډی څنګه پيدا کوم؟» خره ورته وويل چې:« ته په دې پوهيږې چې زه بريمن ته ځم اوغواړم چې هلته ښاري سازنده شم. ته هم ما سره راځه ، او ځان دموزيک سره بلد کړه، زه به رباب غږوم او ته ډولکۍ وهه.» سپی دې وړانديز ته خوښ شواو دواړه مخ پر وړاندې لاړل. ډير وخت لا نه وه تير شوی چې په لار کې يوه پيشو ناسته وه، او مخ يې ددری ورځنی باران دتورې هوا په څيرښکاريده. خره ورته وويل چې: « ای ږيرې پاکوونکې بوډۍ! تاته څه درپيښ شوي دي.» پيشو ورته وويل چې:« څوک چې زما په شان په ستونځو کې ډوب وی ، خوشاله به ونه اوسی، عمر مې تير شو، زړه شوم او غاښونه مې پڅ شول. زړه مې غواړی چې نور دموږکانو په ښکار پسې دځغاستو په ځای دبخارې تر څنګ کښينم اووريښل وکړم. څښتنې مې غوښتل چې ومې وژني، له هغې خو راوتښتيدم، خو ښه سلاو مصلحت هم لوږه بيه لر ی، اوس نو کومې خواته لاړه شم؟» «راځه زموږ سره بريمن ته، ته خو د شپې موزيک پيژني، هلته به ښاري سازنده شي.» دپيشو داخبره خوښه شوه او ور سره روانه شوه. تردې وروسته درې واړه مها جر يوه سرای ته ورسيدل. هلته دسرای پر دروازه يو کورنی چرګ ناست و او په ټول ځواک يې لوړې نارې وهلې. خره ورته وويل چې، « ته ځورونکې چيغې وهې، ولې، څه غواړی؟» چرګ ورته وويل چې:«ما دښې هوا وړاندو ينه وکړه، خو دا هغه ورځ ده په کومه کې چې دا ګرانې مېرمنې دمسيحې کوچنې جامې مينځې او وچوي يې.او دا چې سبا ــ ديکشنبې ــ مېلمانه راځی، نو دکور بيرحمه مېر منې مې خپلې آشپزې ته وويل چې له ما څخه ښوروا جوړه کړي، دادی همدا نن ماښام مې سر غوڅوي، نوځکه تر څومې چې دوسه کيږي په ډکه مرۍ لوړې چيغې وهم.» خره ورته وويل:« ای سورسريه! خو زموږسره بريمن ته لاړشه، ترمرګ يو څه ښه شي خو هرچيرې پيدا کولی شي. ته ښه آواز لری، که په ګډه موزيک په سور کړو، نو دا به يو خوند پيدا کړی. داوړانديزدچرګ ډير خوښ شو او څلور واړه يو ځای روان شول. بريمن ښار ته خو دوی په يوه ورځ نه شورسيدلی، نو په لارد ماښام په وخت ځنګله ته راورسيدل او غوښتل يې چې هلته شپه وکړي. خر او سپی تر يوې غټې ونی لاندی پريوتل، پيشو او چرګ پر ښاخو باندی وختل. خو چرګ د ښاخ و څوکې ته وچت شو، هلته ورته ځان تر ټولولوړاو ښه په امن کې ښکاريده، تر ويده کيدو دمخه يې يو واربيا څلور واړه خواوې وځارلې او لرې يې درڼا يو بځرکی وليد ، خپلو ملګرو ته يې ناره کړه، چې هلته، نه چندان ډير لری، يو کور شته، ځکه چې رڼا ښکاري. خره وويل:« نو موږ بايد راولاړ شواو
پر هغه لورروان شو، ځکه چې دلته دا استوګنځی چندان ښه نه دی.» سپي وويل:« هو! يو څو هډوکې او ورسره يوڅه غوښه به زما لپاره هم بده نه وي.» ټو ل په ګډه په هغه لورر وان شول، چرته رڼا ښکاريده، او په ورنږدی کيدو يې وار په وار لوييده، ترڅوچې دغلو يوه رڼا او روښانه کورته را ورسيدل. خر چې تر ټولو لوی و، کړکی ته ودريد او د ننه يې وکتل. چرګ تر ې وپوښتل چې:« ای خره ! څه وينی ؟» خره په ځواب کې وويل: « څه چې زه وينم، يو ميز دی، چې په سر يې ډول ډول خواړه او د څښاک شيان پراته دي او چاپير يې غله سوکاله ناست دی.» چرګ ناره کړه چې،« دا خو نو زموږ لپاره يو څه دی.» خره وويل.«هو،هو،ای کاشکې موږ هلته وای!» دوی سلا او مشوره پيل کړه، چې په څه ډول به غله له دې ځايه وشړي، خو په پای کې يې يوه لار پيداکړه. خره دواړه مخکنې پښې په کړکۍ کيښودې، سپی دخره پر شا ودريد، پيشو په سپي وختله، او چرګ دپيشو په سر ودريد. تردې وروسته په يوه اشاره ټولو په ګډه ساز پيل کړ: خر وينګيده، سپی وغپل، پيشو مياو کړ اوچرګ ناره کړه، ور پسې يې دکړکۍ له لارې د ننه کوټې ته ور ټوپ وهل، دماتو ښيښو شرنګ شو او په کوټه کې توپی شوی.غله ددې ډاروونکې شور له

ویرې په غورځنک شول، او په خیال یې پیریان او مېرګیان کوټې ته ور ننوتل، او له ډیرې ویرې ځنګل ته وتښتیدل.اوس نو څلور واړه انډیوالان په مېز را چاپیره شول او په مېنه یې هغه څه چې پاتې شوې وو، دومره ډېر وخوړل، چې تا به ویل ګوندې څلور اونۍ یې څه نه و خوړلي. کله چې څلور واړه یاران له خوړو وزګار شول، څراغ یې ګل کړ او هر یو ځانته دخوب لپاره دخپلې خوښې ځای په لټه کې شو: خر په غوشیوکې پریوت، سپی ددر وازې تر شا، پیشو دداش په تودو ایروکې، اوچرګ دچرګانو برنډې ته وخوت او دا چې ډیره اوږده لار یې وهلې وه او ډېر ستړي شوي وو، نوژرخوب یوړل. کله چې نیمه شپه تیره شوه او غلو له ورایه وکتل چې په کور کې رڼا نه ښکارې او کراره کرارې ښکاریده، نو مشر یې وویل: «موږ باید ځانونه دویرې ښکار نه وای کړي.» بیا یې وویل چې یو څوک باید ورشي او کورله نږدې وګوري. لیږل شوي سړي ته هر څه ارام ښکاره شول، دی پخلنځی

ته ولاړ، غوښتل یې چې هلته څراغ بل کړي، خو د پیشو سترګې چې داور په څیر ځلیدې، په فکر انګار ورغلې، نو غوښتل یې چې نری لرګی ورته ورنږدې کړي ترڅو چې اورور باندې بل کړي. خو پیشو په ټوکونه پوهیده او پرمخ یې ورټوپ کړ، لیاړی یې پر تو کړي اومخ یې په منګولو ور څیری کړ. سړی ډیر وډارشو اودکور دشا دروازې په لور یې منډه کړه، خو هلته سپی پروت و، او سړی یې په پښه وداړه، کله چې په سرای کې پر غوشیو تیریده، نو خره دشا په پښه لا یوه ښه کلکه لګته ورکړه، او چرګ چې ددوی په غال مغال راویښ شوی و، اوښه بیدا ر و، نو له برنډی یې ( کېکوهو ) ناره کړه. په دې ځای کې غل په دومره بیړه، چې له لاسه یې پوره وه، وتښتید او خپل مشر ته ورغی او ورته یې وویل:« آخ! په کورکې یوه ظالمه بلا ناسته ده، زه یې ووهلم، اوپه اوږدو ګوتو یې زما مخ راخیرې کړاو له دروازې سره یوسړی چاړه په لاس ولاړ دی چې زه یې په پښنه ټپي کړم: په سرای کې یوه بله توره بلا ناسته ده، زه یې په لرګي ووهلم: او هلته دبام په سرقاضی ناست دی، ده ناره کړه:«دااحمق ما ته راولی، نو ځکه ترې راوتښتیدم.» له دې وروسته غلو نور کور ته دورتګ زړه نشو ښه کولی، خو دبریمن څلورو سازنده ګان دومره خوښ شول، چې نه یې غوښتل، بیرته ترې راووزي.هر چا چې دا نکل تر ټولو دمخه بیان کړ، خوله به یې توده وی . پای

## د بزګر هوښیاره لور

په پخوانیو زمانو کې یو بې وزله اوبې وسه بزګر په خپله کوچنۍ ټوټه مځکه په کار اوزیار لګیا و، ده یوه ښکلې لور درلوده او دواړه په یوه واړه کورکي اوسید ل. یوه ورځ لورکۍ خپل پلار ته و ویل چې:« راځه چې پاچا ته ورشو اود یوې ټوټې مځکې هیله ترې وکړو.» پاچا چې د د وی د بې وزلۍ نه خبرو، د څرمځکې یو کونج یې ورکړ. لور او پلار په ګډه په مځکه کار پیل کړ، هغه یې یوې کړه او غوښتل چې غلې دانې پکې وکري او میوه لرونکې ونې پکې کینوي. د کارد تمامید و په وخت کې یې په مځکه کې د خالصې طلا یو اونګ بیاموند. په دې وخت کې پلار لورته وویل چې:« لور جانې واوره ! زموږ ګران پاچا په موږ دومره مهربان و چې دا مځکه یې راکړه، په عوض کې باید موږ دا طلا یې اونګ ده ورکړو.» لور یې ور سره ونه منله او پلا ر ته یې وویل:« چې پلار جانه! اونګ مو پیدا کړی دی، خو دهغه لاستی مو نه دی پیداکړی، پاچا به بیا لاستی هم را نه غواړي، ښه به دا وي چې غلی شو.» پلار د لور خبره ونه منله، اونګ یې راواخیست، پاچا ته ورغی او ورته ویې ویل چې دا طلایي اونګ مې په هغه مځکه کې پیدا کړ چې تا راکړې ده. اوس نو زه دغه اونګ تاته د درناوي او منني په توګه وړاندې کوم. پاچا اونګ واخیست او ویې پوښته چې نور څه دې نه دي میندلي؟ بزګر و ویل چې:« نه» پا چا ورته و ویل چې باید لاستی یې هم پیداکړې. بزګر و ویل چې هغه یې نه دی میندلی، خو خبره یې باد یوړه او کومه ګټه یې ورته ونه کړه. پا چا بزګر بندي کړ او تر هغه به په زندان کې پروت وي ترڅو چې د اونګ لاستی پیداکړي. د زندان ساتونکو د نورو زندانیانو په شان ده ته اوبه او ډوډۍ وروړله. یوه ورځ یې چیغې او نارې ترغوږو شوې چې ویل یې:« اخ ! کاشکې مې د لور خبرې منلې وای، اخ ! کاشکې مې د خپلې لور خبرې منلې وای.» د زندان ساتونکي پاچا ته ورغلل او ورته ویې ویل چې دا زنداني په چیغو لګیادی او وایي چې:« اخ ! کاشکې مې دخپلې لور خبرې منلې وای.» اونور نه څه خوري او نه چیکې. پاچا ساتونکو ته امر وکړ چې دا زنداني ده ته وروليي. زنداني یې پاچا ته ور وست او پاچا پوښتنه ور نه وکړه چې ته ولې دا چیغې وهې چې:« اخ! کاشکې دخپلې لور خبره مې منلې وای.» او :« لور دې څه درته ویلي و؟» زنداني و ویل چې:« هو »، « هغې راته و ویل چې زه باید اونګ تا ته د ر نه وړم او که نه نو مجبور یم چې لاستی یې هم پیداکړم.» پاچا ورته و ویل چې:« ایا ته دومره هوښیاره لور لرې؟، دا باید یو ځل ما ته راشي.» جلۍ پاچا ته ورغله او هغه ورته وویل چې که په رښتیا ډیره هوښیاره یې، نوزه یوه معما در ته وایم او ته دا معما حل کړه. که معما دې سمه حل کړه، بیا دې ځانته واده کوم. جلۍ سم د لاسه ورته و ویل چې هو، زه غواړم چې دا معما حل کړم. پاچا ورته و ویل چې:« ما ته په داسې حال کې راشه چې نه دې جامې اغوستې وي، نه لوڅه وې، نه په پښو ( پیاده ) وې او نه په څه سپره وې. که دا کار دې وکړای شو، نو بیا واده د ر سره کوم.» جلۍ لاړه جامې یې وایستلې او بې جامو شوه. ځان یې دمایانو په یوه لوی جال کې ونغښت، اوس نو لوڅه نه وه، یو خر یې کرایه کړ او دهغه په لکۍ پورې یې جال وتړه، خره جال کش کړ، اوس نه سپره وه او نه پیاده وه، چې تر پاچا پورې یې ورسوله. پاچا چې دا حال ولید، ورته ویې ویل چې معما دې سمه حل کړه او ټول شرطونه په ځای شول. د جلکۍ پلار یې دزندان نه ازاد کړ او دا یې د میرمنې په توګه کور ته روانه کړه او د پاچاهۍ ټوله شتمني یې ور ته وړاندې کړه. ډ یر کالونه وروسته یوه ورځ پاچا د ښار د کتنې د پاره راو وت اوچې ګورې ډیر بزګران دخپلو کراچیو سره د شاهي قصر په مخ کې ولاړ دي. بزګرانو لرګي پلورل. ځینو بزګرانو خپلې کراچې په آسانو پور تړلې وې او ځنې نورو بیا په غوایانو پورې تړلې وې. یوه بزګر درې اسپې درلودې، یوې یې یو بیاڼ دنیاته راوړ. دا بیاڼ له دې ځایه وتښتید او ولاړ د دوو غوایاتو تر منځ، چې کراچۍ پسې تړلې وه، ودرید. کله چې بزګران سره راټول شول، تر منځ یې دعوه او یو جنجال پیدا شو. ټیلې پیلې پیل شوې، شور اوغال مغال پورته شو. دغوایانو خاوند بزګر ویل چې دا بیاڼ زما دی، زما غوا زیږ ولی دې، ځکه چې په دې ځای کې ولاړ دی.

دې بل بز ګر ویل چې نه، دانشي کیدی، دا بیاڼ زما اسپې دنیا ته راوړی دی، نو ځکه دا زما مال دې. دعوه تر پاچا پورې ورسیده. پاچا داسې حکم وکړه چې بیاڼ دهغه چا دی، چیر ته چې ولاړ و. بیاڼ دغوایانو خاوند ته، چې په رښتیا دهغه نه و، ور کړشواود آسانو خاوند تش لاس پاتې شو. دی په بیاڼ پسې ډیر خپه شو، ژړیده او ګیلې او مانې یې کولې. ده له چا اوریدلې و چې د پاچا میرمن ډیره زړه سوانده او مهربان ښځه ده، ځکه چې دا هم دیوه غریب بزګر په کورنۍ کې لویه شوې ده. ملکې ته

ورغي او ورته ويې ويل چې مرسته ور سره وکړې، ترڅو خپل بیانې بیرته تر لاسه کړي. ملکې ورته وویل چې:« هو ! زه په دې شرط مرسته درسره کوم چې چا ته به حال نه وا يې، نوزه درته وایم چې سهار دوخته، کله چې پاچا د ساتونکو دکتنې له پا ره راوزي، د سرک منځ په هغه برخه کې چې دی تر تیریږي د مایانو جال وغوړوه او ځان داسې وښیه چې ګوندې دمایانو په نیولو لګیا يې،، جال داسې راټول کړه لکه چې د مایانو نه ډ ک وي او په يو لوښي کې يې تش کړه.» بیایې دا هم ورته وویل چې که پاچآ پو ښتنه ور نه وکړي، نو دی باید څه ورته و وايي. دهمدې ورځې په سبا بزګر، لکه څنګه چې ملکې ورته ویلي و، د وچ سرک په منځ کې د مایانو نیول پیل کړل. پاچا چې دی ولید، نو يو ځغاستونکی يې ور ولیږه او ورت ويې ویل چې د دې احمق نه پوښتنه وکړه چې د وچ سرک په منځ کې څه کوي. بزګر په ځواب کې ورته و ویل چې:« زه دلته مایان نیسم.» ځغاستونکې ورته و ویل چې دلته خو اوبه نشته او د دې وچ سرک په سر څنګه مایان نیسې. بزګر ورته وویل چې:« په دې پاچاهۍ کې چې غوایان بیانې زیږولی شي، نو زه هم کولی شم چې د وچ سرک په سر مایان ونیسم.» ځغاستونکي پاچا ته د بز ګر ځواب ورساوه. پاچا چې ځواب واورید، بزګر يې را و غوښت. پاچا بز ګر ته و ویل چې دا ځواب تا له ځانه نه دی ورکړی، په بیړه ووایه چې چا در ښودلی. بزګر ویل چې اله دې زما مل شي او نه يې غوښتل چې ملکه ور په ګوته کړي. خو هغه يې د وښو په ګیډیو کیناوه او تر هغو يئ واهه، ترڅو مجبور شو چې اقرار وکړې او ويې ویل چې دا ځواب ملکې ور ښودلی و.

پاچا چې کورته راغی ښځې ته يې و ویل چې:« ته ولې له ما سره خیانت کوې، ته مې نور میرمن نه يې، دلته ستا وخت پای ته ورسید، څه هلته لاړه شه، له کوم ځایه چې راغلې يې، دبزګرۍ کور ته دې لاړه شه.» پاچا میر منې ته دا اجازه ور کړه چې په خدای په امانۍ کې هغه شی دځان سر وړلی شي چې تر نورو ټولو درته ښه ښکاري او تر ټولو ډ یردر باندې ګران وي. میر من يې ور ته و ویل چې:« هو ګرانه سړیه! ته چې کوم امر کوي، زه يې په سترګو منم.» بیا يې لاس ترې چاپیر کړ په مخ يې ښکل کړ، دخدای په امانۍ په وخت کې يې د خوب ډیره قوي دوا راوغوښتله، په کیلاسونو کې يې واچوله. پاچا خپل ګیلاس په يوه سا وچیکه او ملکې يو ډیر وړوکی غوړپ ور نه وکړ. پاچا په ژور خوب ویده شو او ملکې يو نوکر را وغوښت او ویده پا چا يې په پاک اوسپین رخت سره وپیچه او د نوکرانو په مرسته يې ګادۍ ته پورته کړ او خپل دبزګرې کورګنکي ته يې راوست. هلته يې په يوه کټ ګنکي کې وچاوه. يوه شپه او يوه ورځ ویده و او کله چې ویښ شو، شاوخوا يې وکتل او ويې ویل چې:« ای زما خدایه ! دا چیرته یم.» بیا يې نوکرا نو ته نارې کړې، خو يو نو کر هم نه و. آخر يې میر من راغله او و رته ويې ویل چې:« ګرانه پاچا! تا ما ته امر وکړ چې په ټول قصر کې هر څه چې تر نورو ټولو را باندې ډیرګرا ن وي، له ځان سره وړلی شم. ما ته ته د بل هر څه نه ښه اوله بل هر څه نه ډیر ګران يې، نو ځکه مې ته د ځان سره راوړې» پاچا چې دا واورید نو دستر ګو نه يې اوښکې رواني شوې او ويې ویل چې:«ګرانې میر منې! ته زما او زه به ستا یم.» بیر ته يې د ځان سره قصر ته بوتله، له سره يې واده سره وکړ او تر اوسه يو ځای ژوند کوي.

دری ورونه

په تیره زمانه کې درې ورونه په یوه کور کې کې سره اوسیدل. دا دوه مشران په ونه ستر او په تن ځواکمن وو. کشر ورور یې په ونه وړوکی او په تن نری و. نو ځکه مشرانو ورونو همیشه په کشر ورور ملنډې وهلې او ور پسې خندل یې. یوه ورځ په لرګیو پسې ځنګل ته لاړل. د ځنګل په منځ کې په یوه روښانه ځای کې یو وړوکی سړوکی ناست و. سړوکې په یوه ایشاره درې واړه ورونه ځان ته را وبلل او ورته ویې ویل چې:« زه کولی شم چې تاسې سره داسې مرسته وکړم چې د دسترو شتمنیو خاوندان شی. زه خبر یم چې دلته په یوه نږ دې ځای کې یوه جادو شوې خزانه پټه پرته ده. که چا دا خزانه بیا مونده، نور به په ټول ژوند کې د خوارې او بې وزلی نه بې غمه وې. په دې هم باید پوه شی چې که څوک د خزانې د میندلو په نیت را و وزې او پیدا یې نه کړې، د هغه نه د یوې مودې له پاره خر جوړیږي او تر هغه به خر پا تې کیږي تر څو چې یو بل څوک راشې او دا خزانه پیدا کړي.»

کله چې سړوکې دا خبرې وکړې، ناڅاپه د دوی له نظره ورک شو. دوو مشرا نو ورونو په بیړه او په منډو د خزانې په لټولو پیل وکړ، خو لږ څه وروسته یې کشر ورور د خره « ینګا » واوریده. دی ولاړ شو ترڅو وګوري چې دا « ینګا » له کومه راغله. په دې وخت کې دوه خرونه په غوسه او ټوپونو په مخ ورغلل او هغه یې په دومره زور په شا ټیله کړ چې په ونه ولګیده. ده هلته یو تنګ او وړوکی سوری ولید او په دې سوري کې د سړوکې خزانه لیدل کیده. کشر ورور په سوري کې ننوت په خپل ټول زور یې لا وکړای شو چې حزانه د سوري نه را وباسې. په دې شیبه کې د دوو خرو نه هم د کشر ورور دوه مشران ورونه جوړ شول اودواړه د لوی شتمن کشر ورور نوکران شول. تر دې وروسته یې بیا هیڅکله هم د ده په کوچنی ونه ملنډې و نه کړې.

grimmstories.com

دژوند اوبه

په یوه ډ یره پخوانۍ زمانه کې یوه پا چا ژوند کاوه. دی ناروغ شو. ناروغي یې دومره سخته شوه چې هیچا دا باور نه کاوه چې بیرته به جوړ شي. دې پاچا د رې زامن د ر لود ل. د وی ډیر خپه وو، باغ ته راکوز شول او ژړید ل. یو زوړ سړی ورسره مخامخ شو او ویې پوښتل چې:« تاسې ولې دومره خپه یاست.» دوی ورته وویل چې:« پلار مو ډیر سخت ناروغ دي، شاید له ناروغۍ مړ شي، ځکه چې هیڅ ډول دوا مرسته نه شي ورسره کولی.» زاړه ورته وویل چې:« زه یې په درمل پوهیږم. دا در مل د ژوند اوبه دي. که دا اوبه وچیکي نوبیرته به جوړ شي: خو د دې اوبو پیدا کول اسان کار نه دی.» مشر زوی یې وویل چې.« زه غواړم چې دا اوبه پیدا کړم.» رنځور پاچا ته ورغي، اجازه یې ترې وغوښته چې په اوبو پسې لاړ شي، ځکه یوازې دهمدې اوبو په چیکلو له دې ناروغۍ نه جوړیدلی شي. پاچا وویل چې:« نه، دا ډ یر خطرناک سفر دی، مه ځه ! تر دې دا ښه ده چې زه مړ شم.» شهزاده تر هغوی ټینګار کاوه، تر چې پاچا ورسره ومنله. دی په خپل زړه کې په دې فکر وچې:« که دا اوبه مې پلار ته راوړم، نو تر نورو به زه ډیر په ګران شم اوپاچا هي به په میراث کې ماته راکړي.»

مشر شهزاده په آس سپور او په سفر روان شو. د څه مودې مزل نه وروسته په لار کې یو کوچنی سړو کی په مخه ورغی او پوښتنه یې ترې وکړه چې:« چیرته دومر ه په بیړه روان یې؟» شهزاده په کبر او غرور ورته وویل چې:« احمقه ټیټکیه! زه تا ته د ځواب ور کولو اړتیا په ځان کې نه ویم او خپل سفر ته یې دوام ورکړ.» دا وړوکی سړوکی ډیر په غوسه شو اوخیرې یې ورته وکړې. شهزاده دغرونو تر منځ په یوه تنګي ور برابرشو، هر څومره چې دی وړاندې تله، په هغه اندازه تنګی هم تنګیده، تر څو تنګی دومره تنګ شو چې نور یې یو ګام هم مخ په وړاندې نه شو اخیستی، داامکان هم نه و چې آس بیر ته راوګرځوي اویا د آس نه کوز شي. هلته د بند یوان په شان بند پا تې شو. رنځور پاچا ډیر انتظار وایست خو شاهزاده رانه غی. اوس نو دا دوهم زوی پا چا ته ورغی او ورته ویې ویل چې:« پلاره! ماته اجازه راکړه چې دژوند اوبه ولټوم.» اوله ځان سره یې ویل چې که ورور مې را نه غی نو پاچاهي ماته پاتې ده. په اول کې خو پاچا ده ته هم د تګ اجازه نه ورکوله، خو اخر یې ور سره ومنله. شهزاده راووت اوپه هغه لار روان شو چې ورور یې په تللی و او دی هم په لار کې دټیټکي سړوکي سره مخا مخ شو او ترې ویې پوښتل چې:« چیرته په دومره بیړه روان یي.» شهزاده په کبر اوغرور ورته وویل چې:« ته وړوکیه سړو کیه زما د ځواب وړ نه یې.» او بیله دې چې شا ته وګورې خپل تګ ته یې دوام ورکړ. سړوکي ده ته هم دهغه د ورور په شان ښیرې وکړې. دی دغرونو په منځ کې په تنګ تنګي ور برابرشو چې نه وړاند ې تللی شو او نه بیرته را ګر ځیدلی شو. د کبر جنو او مغرورو حال به همداسې وي.

کله چې دا دوهم زوی یې هم پا تې راغی، نوکشر زوی د پلار نه وغوتل چې ده ته اجازه ور کړي، ترڅو دژوند او به ورته راوړي. پاچا بالاخره مجبور شو چې ده ته هم اجازه ورکړي. کله چې دی په لاره د ټیټکي سړي سره مخامخ شو او هغه پوښتنه ور نه وکړه چې:« چیرته داسې په بیړه روان یې؟» شهزاده و درید، د دوی تر منځ سوال او ځواب پیل شو اوشهزاده ورته وویل چې.« پلارمې د مرګ په حالت کې دی او زه د ژوند اوبه لټوم.» سړوکي ورته وویل چې:« پوهیږې چې دا اوبه چیرته پیدا کولی شې؟» شهزاده وویل چې:« نه.» سړوکي ورته وویل چې:« داچې ته یو ښه ، اخلاقي اودروند سړی یې او د نورو غلطو ورونو په شان دې کبرجن او مغرور نه یې نو زه در ته وایم چې ته څنګه د ژوند اوبو ته ځان رسولی شې. دا اوبه د یوه جادو شوي قصر په انګړ کې له یوې چینې نه را بهیږي. ته به هلته نه ور ننوزې، زه به تاته یواوسپنیز ډانګ او دوې ډوډۍ د ر کړم. لومړی به په ډانګه د قصر در وازه د رې واره ووهې، دروازه به خلاصه شي، د ننه دوه مزریان پرا ته دي اولار یې بنده کړې ده. هره یوه ته یوه ډوډۍ ور واچوه. دوی به غلي شي. په دې وخت کې منډه کړه اوتر دوولس بجو پورې دژوند اوبه راوړه او که ځنډ شو، دروازه بیا بند یږي او ته به بند پاتې شې.»

شهزاده مننه ترې وکړه، ډانګ اوډوډۍ یې دځان سره واخیستل او د قصر په لور روان شو. کله چې ورورسید، ویې لیدل چې ټول شیان داسي دي، لکه څنګه چې وړوکي سړي ورته ویلي و. د ډانګ په دریم ګزار درواز ماته شوه، مزریان یې په مړۍ ارام کړل، قصر ته ور ننوت اویوه لوی او ښکلي سالون ته ورغی. په سالون کي جادو شوې شهزاد ګۍ ناستې وې، ده دهغوی دلاسو نه ګوتې وایستلې. هلته بل ځای یوه توره او ورسره یوڅه ډوډۍ پرته وه، هغه یې له ځان سره وا خیستل. ورپسې یوې بلې کوټي ته ولاړ. هلته یوه ډیره ښکلې او ځوانه ښځه ولاړه وه او د ده په لیدو ډیره خوشاله شوه، هغه یې ښکل کړ او ورته ویې ویل چې.« زه تا د جا دونه ازاده کړم. اوس نو دا زما ټوله پاچاهي ستاشوه. کله چې یوکال وروسته بیرته راستون شې، لوی اوښکلی واده به جوړ کړو.» بیا یې د ژوند اوبو چینه هم ور وښود له اودا یې هم ورته وویل چې:« بیړه وکړه او تر دوولسو بجو وړاندی اوبه ترې را واخله.» شهزاده ولاړ او په یوه بله کوټه ور برابر شو. په کوټه کي یو ډیرښکلی، پاک اوتازه کټ پروت و. شهزاده ډیر ستړی شوی و او غوښتل یې چې یوه شیبه په کټ کي پریوزي او د مه وکړي، نو په کټ کي پریوت او ویده شو. کله چې ویښ شو، ویې لیدل چې دوولسو ته پنځلس دقیقې پاتې وې. له ډاره په غورځنګ شو اود چینې په لور په منډ و شو. دچینې تر څنګ پرته ډولچه یې را واخیسته، داوبو نه یې ډکه کړه، داوسپنیزې دروازې په لور په منډوشو اوچې ترې راووت ، په همدې شیبه کي دوولس بجې شوې او دروازه په ډ یر شدت بیرته وتړل شوه.

شهزاده په دې ډیر خوشال شو چې دژوند اوبه یې ترلاسه کړې او دکور په لور روان شو. په لار کي بیا له هغه وړوکي سړوکي سره مخامخ شو او کله چې هغه د شهزاده په لاس کي توره او ډوډۍ ولیدل. نو ورته ویې ویل چې:« تا د دې تورې او ډوډۍ سره ډیره لویه شنمني تر لاسه کړې ده. په توره لویې اوزورورې لښکرې ماتولی شې او دا ډ وډۍ هیڅ نه خلا صیږي.» شهزاده نه غوښتل چې دوروڼو نه ګوښی کورته لاړ شي، نو دسړوکي نه یې پوښتنه وکړه چې:« ګرانه سړو کیه! دا به راته ووایې چې زما دوه وروڼه په چیرته وي؟ دوی دمانه وړاندې دژوند په اوبو پسې تللي وو، خو بیر ته نه دي راغلي.» سړو کي ورته و ویل:« چې دوی د دوو غرونو تر منځ بند پاتي دي. دوی زما په جادو هلته بند شول، ځکه چې دوی ډیر مغرور او کبرجن وو.» اوس نو شهزاده سړوکي ته تر هغو پورې زارۍ کولې، تر څو چې بیرته یې ازاد کړل، دومره یې ورته وویل چې.« پام کوه، ځان ور نه ساته، هغه ډیر بد نیتي انسانان دي.»

شهزاده دخپلو وروڼو په ازادۍ ډ یر خوشال شو او هغوی ته یې خپله کیسه بیان کړه چې.« په کومو لارو یې ځان دژوند اوبو ته ورساوه او یوه ښکلې شهزاد ګۍ له جا دو ازاده کړه او هغې وعده ورسره وکړه چې ده ته به یوکال منتظره وي، بیا به واده سره کوي او یوه ستره پاچا هي به هم د ده شي.» دری واړه وروڼه یو ځای په آسونو روان شول او یوه هیواد ته ورسید ل چې خلک یې جنګ اولوږې سخت ځپلي وو. د زیاتې بې وزلې او بې وسې له لاسه یې پاچا په دې فکر کې و چې د ی او پا چآ هي یې له منځه ځي. په دې وخت کي شهزاده پاچا ته ورغی اوډوډۍ یې ورکړه. پا چا خپل ټول رعیت په دې ډوډۍ ماړه کړل. بیایې توره ور کړه او پاچا په دې توره د خپلو دښمنانو لښکرې ماتې کړې. په ټول ملک کي کراري اوسوکالي شوه. تردې وروسته شهزاده خپله توره او ډوډۍ د ځان سره واخیستل او دوروڼو سره یو ځای روان شو اوبیا دوو داسې هیوادونو ته ورسیدل چې جنګ او لوږې ځپلي وو. شهزاده په خپل وار هر یو پاچا ته ډوډۍ او توره ور کړل او په دې توګه یې درې هیوادونه دلوږې او جنګونو نه خلاس کړل. له دې وروسته په یوه کشتۍ کي کیناستل او په دریا کي روان شول. د کشتۍ سفر په بهیر کي دې مشرانو وروڼو په خپلو منځو کي سره وویل چې:« کشر ورور مو دژوند او به پیدا کړې او موږ دا کار ونه شو کړای، نو ځکه دی به په پلار زیات ګران شي او پاچا هي به، چې زموږ حق دی، ده ته ور کړي او موږ به د دې بخت نه بې برخې پاتې شو. دوی دغچ اخیستنې په لټه کي شول او وعده یې سره وکړه، چې کشر ورور به له منځه وړي، تر هغو یې صبر وکړ چې کشر ورو یې ویده شو. دوی د ډولچې نه دژوند اوبه په خپل لوښي کي واچولې او ډولچه یې د دریاب له تروشو اوبو نه ډکه کړه. کله چې کورته ورسیدل، کشر شهزاده خپله ډولچه خپل رنځور پلار ته وړاندې کړه، ترڅو د ژوند اوبه ترې وڅیکي او د رنځورۍ نه خلاص شي. پاچا د دریاب تروشي اوبه لا سمې نه وې څیکلې چې رنځوري یې نوره هم سخته شوه. کله چې پاچا په شور او فریادشو، په دې وخت کي یې دواړه مشران زامن راغلل او پلار ته دکشر ورو نه شکایت وکړ چې هغه پلارته زهرجنې اوبه ور کړې دي. دوی د ژوند اصلي اوبه ور وړې او ور یې کړې. پاچا دا اوبه لاسمې نه وې څیکلې چې د رنځورې نه خلاص او دځوانې دکلونو په شان

ځواکمن او روغ رمټ شو. تردې وروسته دواړه کشر ورور ته ورغلل او ملنډې يې په وهلې او ويل يې چې:« دژوند اوبه تا پيدا کړې، خواري تا وکړه او ميوه به يې موږ وخورو، تا به له هوښيارۍ کار اخيستی وای، نه به ويده کيدې، ويښ به پاتې شوی واي. کله چې ته په کشتۍ کې ويده شوې، موږ دا اوبه در نه واخيستې. يو کال وروسته به يو له موږ څخه هغه ښکلې شهزاد ګۍ د ځان سره راولي. بايد فکر دې وي چې دا حال به هيچا ته نه وايې. پلار خو له سره په تا باور نه کوې. که چيرې دې په دې هکله يوه خبره هم چاته وکړه، نوژوندی به پا تې نه شې او که چپ پا تې شوی، ژوندی به هم وې.»

زوړ پاچا په کشر زوی ډ ير په غوسه و او فکر يې کاوه چې هغه د ده د مرګ په لټه کې و. پاچا دربار يان را ټول کړل او دهغه په هکله يې داسې حکم وکړ چې بايد په پټه وويشتل شي. يوه ورځ کشر شهزاده غوښتل چې په ښکار لاړ شي. د ده سره ښکارې مل شو. کله چې د باندې په ځنګل کې دواړه ګوښې پا تې شول، ويې ليدل چې ښکاري ډير خپه دی. شهزاده ورته وويل چې.«ښکاري جانه! ته ولې دومره خپه يې؟» ښکاري وويل چې.« د حال ويلو اجازه نه لرم، خو مجبوريم چې ووايم.» شهزاده ورته و ويل:« ووايه چې څه پيښ دي، زه څه نه درته وايم.» ښکاري آه کړ او ويې ويل چې:« پاچا را ته وويل چې بايد تا په ټوپک ووژنم، پاچا دا امر راته کړی دی.» شهزاده وډار شو او ښکاري ته يې وويل چې:« ګرانه ښکاري ! ما مه وژنه، زه به دا خپلې شاهانه جامې تاته درکړم او ته دې دا خرابې جامې ماته راګړه.» ښکاري ورته وويل چې.« په ډيره مينه به دا کار وکړم، زړه مې هيڅ نه غوښتل چې په تا ډز وکړم.» دوی جامې سره بدلې کړې، ښکاري د کور په لار روان شو اوشهزاده په ځنګل کې نور هم لرې ولاړ. څه موده وروسته دسرو زرو او قيمتي ډبرو نه ډ کې درې ګاډۍ زاړه پاچاته د ده دکشر زوی له پاره راغلې. دا درې ګاډۍ هغو درو پاچا هانو راستولې وې چې د شهزاده په توره يې د دښمن لښکرې ماتې کړې وې او دهغه په ډوډۍ يې خپل رعيت ماړه کړي وو او غوښتل يې ور وښيي چې د ده ښيګڼه يې نه ده هير کړې. اوس نو زاړه پاچا له ځان سره دا فکر وکړچې:« ايا زما زوی ګنا ګار و؟» بيايې خپلو درباريانو ته وويل چې:« کاشکې هغه ژوندی وای، په دې ډير پښيمان يم چې دهغه دوژلو امر مې وکړ.» په دې وخت کې ښکاري پورته شو او وېې ويل چې:« هغه ژوندی دی، ما دده وژلوته زړه نه شو نيولی اوستا امر مې په ځای نه کړ.»

شهزادګۍ خپل قصرته ځليدونکې طلايي لار جوړه کړه اوخپلو نوکرانو ته يې وويل:« هغه سړی چې په آس سپور سم په دې لار راشي، نو دا به په رښتيا هغه څوک وي چې زه يې غواړم. تاسې هغه ته اجازه ور کړی. او کوم چې دلارې ترڅنګ راروان شي، هغه غلط سړی دی اواجازه مه ورکوی چې راشي.» کله چې وخت راورسيد، مشر شهزاد دځان سره وويل چې زه ګوښې شهزادګۍ ته ورځم او ورته وايم چې زه هغه څوک يم چې ته مې له جادو ازاده کړې. شهزاد ګۍ به مې ميرمن شي او ترڅنګ به يې لويه پاچا هي هم ترلاسه کړم. دی په آس سپور او روان شو. کله چې قصر ته ور نږدې شو اوطلايي ځليدونکې لار يې وليده، د ځان سره يې وويل چې:« په آس سپور په دې لارې تلل به داښکلې لار ډيره زيان منه کړي.» نو دلارې په ښې خوا روان شو او کله چې قصر ته رانږدې شو،ساتونکو ورته و ويل چې:« ته هغه اصلي سړی نه يې چې قصر ته ننوزې. څه بيرته وګرځه.» ورپسې يې دويم ورور دشهزاد ګۍ په لور روان شو او کله چې طلا يي لارې ته ورسيد، په دې فکر کې شو چې :« که آس مې يوه پښه هم په دې لار کيږدي، نوډ ير زيان به ورسوي.» ده خپل آس دلارې په کيڼه خوا روان کړ او کله چې قصر ته نږدې شو، ساتونکو ورته و ويل چې:« ته اصلي سړی نه يې، بيرته وګرځه.» اوس نو کله چې پوره يو کال تير شو، دريم شهزاده غوښتل چې د ځنګل نه دخپلې ګرانې معشوقې په لور روان شي او د هغې سره دا ټولې ناخوالې چې په تيرې شوې وې، هيره کړي. دی روان شو او ټول وخت دهغې په فکر کې و او ارمان يې دا و چې زر تر زره هغه وګوري او طلايي لار ته يې هيڅ پام هم نه و. آس يې نيغ په نيغه په طلايي لار روان و او کله چې قصر ته ورسيد، شهزادګۍ را و وتله او د زړه له کومې يې دهغه هر کلی وکړاو ورته ويې ويل چې:« ته هغه څوک يې چې دجادونه دې ازاده کړم او اوس د دې پاچاهۍ خاوند يې. په خوشالۍ او نيکمرغۍ لوی اوښکلی واده جوړشو. کله چې هر څه پای ته ورسيدل، شهزادګۍ ور ته و ويل چې پلار يې بخلی دی. شهزاده خپل پلار ته ورغی اوټوله کيسه يې ورته بيان کړه او ورته ويې ويل چې.« ورونو مې وغولولم، خو ما څه ونه ويل.» پلار يې غوښتل چې دواړو ته جزا ور کړي، خو هغه دواړه په کشتې کې د درياب په لار وتښتيد ل او بيا را ستانه نه شول.

دوولس ښکاریان

په ډیره پخوانی زمانه کي یوشهزاده ژوند کاوه. دي شهزاده له یوي جلی سره کوزده کړي وه. جلی ډیره په ګرانه وه. یوه ورځ چي په مینه او خوشالی دهغي ترڅنګ ناست و، خبرشو چي پلار یي ډیر ناروغ او دمرګ په حالت کي دی. هغه غواړي چي ترمرګ وړاندي خپل زوی یو وار وګوري. ده خپلي ګراني کوزدي ته وویل چي:« زه باید لاړشم اوته به د لته پاتي شي، دا ګوته مي د نښي په توګه واخله، کله چي پا چا شم بیرته راځم اوتا له ځان سره بیایم.» دا یي وویل اونور په آس سپورشو اودخپل پلار په لور روان شو. کله چي وررورسید ویي لیدل چي پلاریي سخت ناروغ اود مرګ په حالت کي پروت دی. پلار ورته وویل چي:« ګرانه زویه! ماغوښتل چي تر مرګ وړاندي دي وګورم. دا وعده راسره وکړه چي زما په خوښه اواراده به واده کوي.» دایي وویل او ور پسي یي دکوم پاچا لور په ګوته کړه چي زوی به یي د هغي سره واده کوي. شهزاده دخپل پلار په ویر کي داسي ډوب و چي بي فکره یي وویل.« هوګرانه پلاره! څه چي ته غواړي هغسي به کیږي.» په دې شیبه کي یي پلار ستر ګي پټي کړي او مړشو.اوس نو چي دویر اوغم وخت تیر شو اوشهزاده پاچا شو، نوغوښتل یي چي په هغه وعده ودریږي چي دپلار سره یي کړې وه، د پاچا لور پسي یي استازي ولیږل او هغي خوا هم ومنله. دا خبر چي کله د ده پخوانی کوزدي ته ورسید، هغه ډیره غمګینه شوه اوشپه اوورځ به خپه وه. یوه ورځ یي پلار وپوښتله چي:« لور جاني! دا ته ولي دومره خپه یي؟ ته چي هرڅه غواړي، هغه به وشي، خو دومره خپګان مه کوه.» لور یي یوه شیبه له ځان سره په فکر کي شوه اوبیایي وویل چي:« پلارجانه ! ماته یوولس داسي جونه پیدا کړه چي په ونه راسره برابرې وي او کټمټ زما په شان ښکاري.» پلار یي وویل چي:« که امکان ولري نوستا غوښتنه به ترسره شي.» بیایي امروکړچي ټوله پاچاهي و لټوی اویوولس داسي ځواني جونه پیدا کړی چي په رنګ، ونه اوځواني زما دلور په شان وي.

کله چي دا یوولس جوني شهزاد ګی ته راغلي، شهزاد ګی د ښکاریانو دوولس جوړه جامي، چي هرجوړه یي دبلي په شان وه، جوړي کړې. یوولس جوړي یوولس جونو واغوستي او یوه جوړه شهزاد ګی واغوسته. ور پسي یي د پلار سره خدای په اماني وکړه او دوولس واړه په آسانو سپرې اودخپل پخواني نامزد د دربار په لور، چي ډیر په ګران و، رواني شوې. کله چي وررورسیدې نو د پاچا نه یي پوښتنه وکړه چي ایاښکاریانو ته اړتیا لري؟ اوایا دا ټول به په خپل دربارکي دښکاریانو په توګه ومني؟ پاچا ورته وکتل، خوویي نه پیژندی. ویي لیدل چي ښکلي خلک دي نو ورته ویي ویل چي هو! زه تاسي ټول دښکار یانو په توګه ګمارم. په دې توګه دوولس واړه د پا چا ښکاریان شول.

پاچا یو مزری درلود اودې مزري یو کمال درلود. کمال یي دا و چي په پټو اونه ښکاره کیدونکو شیانو هم پوهیده. دې مزري یوه ورځ پاچا ته وویل چي:« ایا فکر کوې چي ته دوولس ښکاریان لرې؟» پا چا وویل چي:« هو! دا دوولس ښکاریان دي.» مزري ورته وویل چي:« نه، ته اشتبا کوې. دا دوولس ښکاریان نه دي، دا دوولس جنکی دي.» پاچا وویل چي دا سمه نه ده. څنګه کولی شي چي راته ثبوت یي کړې؟» مزري ورته وویل چي:« ته دخپل د فتر په مخکنی کوټه کي مشنګ وشنه، سږي چي کلک ګامونه اخلي، په مشنګو باندې دتګ په وخت نه ښوییږي، نه رپیږي او نه لړزیږي اوښځي لنډ ګامونه اخلي، رپیږي اولړزیږي. دپاچا دا مشوره خوښه شوه او امر یي وکړ چي موشنګ وشیندی.

هلته دپاچا یونوکرو. ده د ښکاریانو په وړاندې ښه نیت درلود. ده د پاچا او مزري تر منځ خبرې واوریدې چي ښکاریان ازمویي، نو ورغی اوورته ویي ویل چي:« مزري پاچا ته وویل چي تاسي جنکی یاست.» شهزادګی له دې سرې نه مننه وکړه او دانوره جنکی یي راټولي کړې او ورته یي وویل چي:« خپل ټول قوت مو راټول کړی اوپښې مو په موشنګو ټینګې ږدې.» په دابله ورځ پادشاه دا دوولس ښکاریان ځانته راوبلل او امریي وکړ چي په مخکنی کوټه کي مشنګ وشني. دوولس ښکاریا راغلل او هغه

کوتې ته ورننوتل چې مشنګ یې پکې شندلي وو. دوی په ډاډه زړه او محکمو قدمو رواني وې، یوه یې هم ونه لړزیده، ونه ښویېده او ونه ریږدیده. دوي بیرته ولاړې او پاچا مزري ته وویل چې:« دروغ دې راته وویل، دوی ټول دنارینه وو په شان روان وو.» مزري په ځواب کې ورته وویل چې:« دوی پوهول شوې وې چې ازمویل کیږي، نوځکه یې محکم قدمونه اخیستل. اوس نو ته د داوبدلو څرخ دې کوټې ته راوغواړه، کله چې دوی دلته راشي او دا څرخ ووینې، نو خوشاله به شي، خوناریینه دهغه په لیدو هیڅ نه خوشاله کیږي.» دا مشوره دپاچا خوښه شوه او داوبدلو څرخ یې مخکنۍ کوټې ته راوغوښت. د پا چا نوکر چې دښکاریانو په وړاندې یې ډیر ښه نیت درلود، بیا ورغی او هغوی ته یې دا راز هم ښکاره کړ. کله چې نوکر ولاړ اوشهزادګۍ دجنکیو سره ګوښې پاتې شوه، ورته ویې ویل چې:« باید په کلکه پام ونیسی اوداوبدلو څرخ په لور هیڅ ونه ګوری.» په بل سبا پاچا خپل دوولس ښکاریان دي مخکنې کوټې ته بیا راوغښتل. دوی راغلل خو داوبد لو څرخ ته یې هیڅ ونه کتل. پاچا بیا مزري ته وویل چې:« زه دې وغولولم. دا خو نارینه دي، ځکه چې څرخ ته یې هیڅ ونه کتل.»مزري ورته وویل چې:« دوی ته ویل شوي وو چې ازمویل کیږي، نو ځکه یې په قصد څرخ ته ونه کتل.» نورنو پاچا دمزري په خبرو باور نه کاوه.

دا دوولس ښکاریان همیشه د پاچا سره په ښکار پسې تلل. ښکاریان د وخت په تیریدو په پاچا ډیر ګرانیدل. د ورځو نه یوه ورځ، کله چې دوی په ښکار پسې ووتل، خبر شول چې د پاچا کوزدې د واده جامې واغوستې. کله چې دا خبر دپاچا اصلي کوزدې واورید دومره غمګینه شوه چې نږدې و چې زړه یې راووزي او بې ځانه په مځکه ولویده. پاچا پوه شو چې دې ګران ښکاري ته یې څه ور پیښ شوي دي، ور منډه یې کړه اوغوښتل یې چې مرسته و ر سره وکړي. کله چې یې د لاس نه لاسمغان وایست نوهغه ګوته یې ولیده چې ده خپلې لومړۍ کوز دې ته ورکړې وه. او بیایې چې مخ ولید نو ویې پیژند له اودهغه په زړه کې یې ځای ونیو. کله چې دې سترګې وغړولې، پاچا ورته وویل چې:« ته زما یې اوزه د ستایم. په دې ټوله دنیا کې به هیڅوک ونه شي کولی چې موږ یوله بله بیل کړي.» ده هغه بلې کوزدې ته یو استازی ور ولیږه او هیله یې تری وکړه چې خپلې پاچا هۍ ته بیر ته ستنه شي، ځکه چې دي اوس یوه میرمن لري. څوک چې پخوا نۍ کلي بیا پیدا کړي نوې کلي ته ضرورت نه لري. ورپسې لوی اوښکلی واده جوړ شو او مزری هم وبښل شو، ځکه ده ربښتیا ویلي و.

## رښتینی ملګری

په یوه ځنګل کې دوه ځوانکي اوسید ل. دیوه نوم بخیل واو دابل پیروز نومیده. ملګرتیا یې ډیره ښه وه. دوی تل یوځای لوبې کولې، یو ځای یې ډوډۍ خوړله او تل یې هرڅه په ګډه کول. په ځنګل کې به ټولو د دوی د ښې ملګرتیا په هکله خبرې او بحثونه کول.

یوه ورځ یې په ځنګل کې لوبې کولې چې ناڅاپه یو یږ را څرګند شو. بخیل چې دا یږ ولید په بیړه هلته یوې نږدې ولاړې ونې ته ور وخوت. پیروز چې په ونه نه شو ختلی، نه پوهیده چې:« څه باید وکړم؟» بیا یې فکر شو چې باید په مځکه پریوزي، نو د مړي په شان په مځکه ارام پرېوت، ځان یې هیڅ نه خوځاوه اوتر دې چې سا یې هم نه ایستله. یږ پیروز ته ور نږدې شو او د هغه غوږونه یې بوی کړل. داسې ښکاریده چې ګوندې یږ پیروز ته په غوږ کې څه پټه خبره کوي. بیایې د ځان سره و ویل چې:« دا خو نه شم خوړلی، ځکه مړدی اوغوښه یې تازه نه ده.» ورپسې یې پاس په ونه کې بخیل ولید او ویې ویل چې:« د خواشینۍ ځای دی چې ونې ته نه شم پورته کیدلی.» نا خوښه له دې ځایه لاړ. بخیل د ونې نه راکته شو او ویې ویل چې:« د خدای شکر دی چې لا ژوندي یو! او پیروز جانه دا خو راته و وایه یږ په غوږ کې څه درته و ویل؟» پیروز ځواب ورکړچې: « یږ راته و ویل چې رښتینی ملګری په بده ورځ کې پیژندل کیږي.» ورڅخه لاړ اود بخیل د ملګرتیا نه یې د تل له پاره لاس واخیست.

*Pallavi Sengupta*
*Kalkutta, Indien*

زړور ګنډونکئ

وايي چې داوړي په يوه تازه سهر يووړوکی ګنډونکئ دکار ميز ته کيناست. دی خوشال و او په خپل ټول ځواک يې ګنډ نه کوله. لږ څه وروسته يې مچان په سر راټول شول. ده مچان له سره شړل، وهل اويوځل يې په يوه وار اوه مچان ووژل. نوځکه خپل زور ته حيران پاتې شو او له ځان سره يې وويل چې.« په دې خوبايد ټول خلک خبر شي.» ولاړ او دځان له پاره يې يو کمر بند جوړ کړاو په غټو تورو يې په وليکل چې:« په يوه ګزار اوه.»

ګنډ ونکي کمر بند تر ملا وتړه او دخوړو له پاره د يو څه شيانو په لټه کې شو. پنير يې پيدا کړ او هغه يې له ځان سره واخيست. دښار دروازې تر مخه يې يو الوتونکئ وليد چې دونې په څانګ کې بند پا تې دی، هغه يې هم د ځان سره واخيست. د ګنډونکي لار تر يوه غره تيريده او هلته په غره کې يوه لويه بلا ناسته وه او په ارامی يې شاو خوا ته کتل. ګنډونکئ په ښه نيت ورنږدې شو او ويې ويل چې.« سلام انډ يواله! ايا غواړې چې د ما دلارې ملګری شې؟» لويې بلا ګنډونکي ته په سپکه سترګه وکتل او په ځواب کې يې ورته و ويل چې:« ای ته پسته، رذ يله او بد بخته!» ګنډونکي خواب ورکړ چې:« ښه چې داسې وي نو!» بيايې کمر بند ور ښکاره کړ. لويې بلا چې کمربند ته وکتل په ليکلي و چې:« په يوه ګزار اوه.» بلا په دې فکر کې شوه چې ګوندې دې واړه ګنډونکي اوه سړي په يوه ګزار وژلي دي او دهغه په وړاندې يې زړه ته يو څه ډار ور ننوت، خوسره له دې يې هم غوښتل چې يو څه يې وازمويي. دې يوه تيږه په لاس کې واخيسته اوداسې يې ټينګه کړه چې دتيږې نه اوبه وڅکيدې. بيايې ګنډوکي ته وويل چې:« اوس ستا وار دی.» ګنډونکي وويل چې:« بس دومره!» جيب ته يې لاس کړ، اوبلن پنير يې راوايست او په لاس کې يې ترهغو تينګ کړ چې اوبه ترې وڅکيدې. بلا نه پوهيده چې اوس څه ووايي، خو اخريې يوې تيږې ته لاس کړ او پورته هوا ته يې دومره لرې وشړله چې په سترګو نه ليدل کيده. بيا يې ګنډونکي ته وويل چې:« اوس نو د مرغابۍ په شان سړوکيه! ستا وار دی.» ګنډونکي ورته وويل چې:« تيږه خو دې ښه لرې وشړله، خو بيرته په مځکه راولويده. زه به يې دومره لرې وشړم چې بيا هيڅ را ونه ګرځي.» جيب ته يئ لاس کړ، الو تونکئ يې را وايست او په هوا کې يې خوشې کړ. اولوتونکئ ولوت، هوا ته پورته شو، ولاړ او بيرته را ونه ګرځيد. لويې بلا وويل چې:« هو! غورځول خو دې زده دي. اوس به وګورو چې کوم دروند شی هم پورته کولی او وړلی شې او که نه.» بيايې دا کوچني ګنډونکی د ځان سره د يوې غټې ونې په لور روان کړ چې په مځکه لويد لې او پرته وه. ور ته ويې ويل چې:« که په رښتيا ډير زور لرې، نوراځه چې دواړه په ګډه دا ونه د ځنګل نه وباسو.» ګنډونکي په ځواب کې ورته وويل چې:« په مينه! ته دونې تنه په اوږو کيږده، زه به يې څانګې اوشاخونه پورته کړم او په دې خو پوهيږې چې زما کار دستا د کار نه سخت دی.» لويې بلا د ونې تنه اوږو ته پورته کړه او وړوکی ګنډونکئ د ونې په يوه شاخ سپور شو. لويې بلا چې ترشا يې نه شو کتلی، هم يې ونه څکوله اوهم يې ګنډونکی چې دونې په څانګه ناست و. دې چې دا دروند بار تر يوه بريده په اوږو يوړ ستړې شوه، نور يې نه شو وړلی او ګنډونکي ته يې وويل چې:« واوره! زه مجبوره يم چې دا ونه له اوږو ښکته کړم.» ګنډونکئ په بيړه دونې د څانګې نه راکوز شو او په دواړو لاسو يې دهغې څانګې ونيولې او داسې يې ښودل چې ګوندې دی هم ونه ور سره وړې او بلا ته يې وويل چې:« ته څومره لويه بلا يې اوبيا هم دا يوه ونه نه شي وړلی.» لويې بلا چې داحال وليد ترې وډار شوه اوپه بيړه وتښتيده.

ګنډونکئ وروسته تر دې چې ډير وګرځيد او راوګرځيد، ديوه شاهی قصر انګړ ته ورسيد. هلته په يوه چمن کې پريوت او ويده شو. کله چې دی ويده و، له هرې خوا ډير خلک ورته راټلل اوله هرې خوايې ليده اوکله يې چې په کمربند دا ټکي ولوست چې:« اوه په يوه ګزار. » نو په دې فکر کې شول چې:« دا لکه چې يو ډېر ځوا کمن ښاغلی دی.» نو ولاړل او پاچآ يې خبر کړ او ورته ويې ويل چې دا سړی دجنګ په وخت کې زموږ له پاره يوه لويه اوارزښتناکه مرسته کيد لی شي، نو ځکه يې بايد په هيڅ صورت له

لاسه ورنه کړو او په هر صورت چې وي له ځان سره يې وساتو. د خلکو دا مشوره د باد شا خوښه شوه او ګنډ ونکي ته يې امر وکړ چې د ده د پاچاهۍ په يوه ځنګل کې دوې لويې بلاګانې ژوند کوي اوډ ير زيانونه رسوي. که چيرې دی په دا دوو بلاګانو زور شي، نو خپله يوازنۍ لور به ده ته واده کړي او سر بيره پر دې به نيمه پاچاهي هم ورکړي. امر يې وکړ چې سل سپاره به په دې مقابله کې له ده سره مرسته کوي. ګنډونکۍ پټه خوله راووت او کله چې د ځنګل لمنې ته ورسيد، نو په ځنګل ورننوت، ښۍ او کيڼې خوا ته يې وکتل اوله يو څو شيبو وروسته يې وليدل چې دواړه لويې بلاګانې د يوې ونې لاندې ويده پرتې دي اوخرا يې پورت کيږي. ګنډونکي د واړه جيبونه له تيږو ډک کړل او په ونه وخوت. کله چې د ونې منځ ته ورسيد، نيغ په نيغه د په خوب ويده بلاګانو د پاسه په يوه شاخ کې تم شو او يوه تيږه يې د يوې بلا په سينه ور و غورځوله. دې بلا دابله بلا ټيله کړه او ورته ويې ويل چې:« ولې مې وهې؟» دې بلې بلا ورته وويل چې:« ته خوب ګورې. زه تا نه وهم.» دواړه بلا ګانې بيرته پريوتې او ويده شوې. داځل يې په بله ډ بره دا دوهمه بلا وويشته. دې دوهمې بلا لومړۍ بلا ته وويل چې:« دا څه کوې، ولې مې په تيږه ولې؟» لومړۍ بلا ورته وويل چې زه تا په تيږو نه ولم.» دواړو يو څو شيبې په خپلو منځوکې يوې بلې ته کنځلې وکړې، خو خوب په زور شو، ستر کې يې پټې شوې او بيا پريوتې. ګنډونکي خپله لوبه له سره پيل کړه. داځل يې د ډ برو په منځ کې تر ټولو غټه ډبره را واخيسته او لومړۍ لويه بلا يې په خپل ټول زور په سينه وويشته. لويې بلا چيغه کړه چې:« داخو پسته دښمني ده.» او دليونۍ په شان پورته شوه او خپله ملګرې يې په خپل ټول زور دومره سخته ټيل وهله چې هغه په ونه ولګيد له او و ريږديد له. دوهمه بلا راپورته شوه او لومړۍ بلايې په خپل ټول زور ټيله کړله. دواړه سره په غوسه شوې او سم جنګ جوړ شو. ترهغوی يې سره وهل چې د واړه له زوره ولويدې او په مځکه پريوتې. اوس نوقهرمان ګنډ ونکۍ پا چاته ورغی. د پاچا زړه که غوښتل اوکه يې نه غوښتل خو مجبور و چې په وعده ود ريږي. لور اونيمه پاچا هي يې ورکړه. لوی اوښکلی واده جوړشو او وړوکی ګنډونکۍ پاچا شو.

grimmstories.com

## سپین او تورپیکۍ

د یوه لوې ځنګل په مخکې یو بې وزله لرګي ماتوونکۍ د خپلې میرمنې اودوو اولا دونو سره اوسیده، هلک سپین نومیده او د جلۍ نوم تورپیکۍ و. ده د خوراک له پاره لږ څه درلودل او کله چې په هیواد کې ډیره ګرانی شوه، نو د ورځنې خوراک له پاره یې هم ډوډۍ نشوه پیدا کولې. دا چې دشپې په بستر کې هم په همدی فکر مشغول و او له اند یښنو په یوه او بله ډډه اوښت، نو اوسیلې یې وکیښې او میر منې ته یې ووېل چې:« مورته به څه راپیښ شي؟ داچې د خیل ځان له پاره څه نه لرو، نو دې خپلو بې وزله کوچېانو ته به خواړه له کومه کړو.» ښځې ځواب ورکړچې:«سړیه، پوهیږې چې څه؟ موږ به سبا دوختـه کوچنیان له ځان سره په ځنګل کې هغې برخې ته بوزو چې تر ټولو ګڼه وي، هلته به اور ورته بل کړو، او هر یو ته به یوه ټوټه ډوډۍ ورکړو، موږ به په خپل کار پسې لاړ شو، او دوې نوبیا دکور لار نشي پیدا کولې، اوپه دې ډول به ځانونه ترې خلاس کړو.» سړي ورته ووېل« نه، ښځې، دا کار نه کوم، ډیر ژر به داړونکې ژوي راشي او دوې به څیري څیري کړي.» ښځې ورته ووېل«ای ناپوهه، که دا کار ونه کړو نو څلور واړه به له لوږې مړه شو، څه نولاړ شه او سرله اوسه دتابوتونو لپاره تختې رنده کړه.» ترهغوېې آرام نه پریښوده تر څو چې سړی راضي شو، خو وېې وېل چې:« په دې بې وزله کوچنیان می زړه سوزي.»

دواړه کوچنیان هم د لوږې له لاسه نشو ویده کېدلې، او هغه څه یې هم واوریدل چې مریې مور یې وپلار ته ووېل. تورپیکۍ په ژړا شوه، اوښکې یې پر مخ راغلې، او سپین ته یې ووېل چې:«اوس نو راپیښه ده.» سپین ووېل،« چپ، تورپیکۍ، غم مه خوره، زه کولی شم چې له موږ دواړو سره مرسته وکړم.» کله چې دواړه زاړه ویده شول، دی را ولاړ شو، خپل جمپر یې واغوست، ښکته در وازه یې خلاصه کړه او په ښوئید و را ووت. سپوږمی ښه روښانه ښکاریده او زینتیې ډبرې، چې دکور په مخکې پرتې وې، دسیکو په شان ځلېدې. سپین ورټیټ شو او دومره یې دجمپر په جیب کې واچولې چې لا پکې ځای شوې، بیا نو بېرته لاړ، تورپیکۍ ته یې ووېل:« ډاډه اوسه، ګرانې خورې، آرامه ویده شه، خدا ی به مو وساتی.»او بېرته پخپله بستره کې پریوت. کله چې ورځ پیل کېده، تر لمر خاته دوړاندې، ښځه راغله اودواړه کوچنبان یې ویښ کړل،«پاڅۍ، تنبلانو، موږ غواړو چې ځنګل ته لاړشو او لرګي راوړو.» بیایې هریوه ته یوه ټوټه ډوډۍ ورکړه، اووېې وېل« دا یو څه ډوډۍ دغرمې لپاره ده، خو تر غرمې وړاندی یې ونه خوری، نور څه نه در کول کیږی.» تورپیکۍ ډوډۍ واخیسته اوټوله یې دملا بند لاندې ومنډ له، ځکه چې د سپین په جیب کې تیږی وې. تردې وروسته ټول په ګډه دځنګل په لور روان شول. کله چې یو څو شیبې ولاړل، سپین غلې ودریده، او تر شا یې کور ته وکتل، دا کاریې بیا او بیا تکرارکړ. پلار یې ورته ووېل:« سپینه، دا ته څه ته ګوری، پام کوه چې خپلې پښې دې هیره نشي.» سپین ووېل:« آه، پلاره، زه خپلې سپینې پشکې ته ګورم، هغه هلته پاس په بام ناسته ده او غواړي چې خدای په امانې راسره وکړي. ښځې ورته ووېل،«نا پوهه، دا ستاپشکه نه ده، دا سهارنی لمر دی ، چې دلوګي وتلو پر برجک ځلیږي.» سپین خو په پشکې پسی نه کتل، ده هر ځل د ځلېدونکو زینتی ډبرو څخه یوه ډبره په لار کې اچوله.

کله چې دځنګل منځ ته ورسیدل، نو پلار یې ووېل چې:« ای وړو، اوس نو لرګي راټول کړی، غواړم چې اور بل کړم، اوساړه مو ونشي.» سپین او تورپیکۍ دیوه کوچني غرکوټي په اندازه لرګي راټول کړل. اور یې ورته کړ او کله چې لمبې ښې وچتې شوې، نو ښځې ووېل،« ای کوچنیانو، اوس تاسې، داور تر څنګ پریوځی، او دمه وکړی، موږ په ځنګل کې دوړاندې ځو او لرګي وهو. کله مو چې کار پای ته ورساوه، بېرته راځواو تاسو له ځان سره بیایو.» سپین او تورپیکۍ اور ته کښیناستل، چې غرمه شوه، هر یوه دډوډۍ خپله ټوټه وخوړه. داچې دوی د تبرد ګوزارونوټکا اوریدله، نوفکر یې کاوه چې پلار یې ور ته نږدې لرګي ماتوي. خو داد تبر ټکا نه وه، داد یوه ښاخ اوازو، چې پلار یې په یوه وچه ونه پورې تړلې واو با د دې او هغې خواته خوځاه. دا چې ډ یر ناست وو، نوله ستومانۍ یې سترګې پټې شوې، او په ژور خوب ویده شول، کله چې راوېښ شول، توره شپه وه. تورپیکۍ په ژړا شوه، ووېې وېل،«له ځنګله به څنګه راووزو!»خو سپین ورته ډاډ ورکړچې:« یوه شیبه صبر وکړه، تر څو سپوږمۍ را پورته شي، بیا نو لار میندلې شو.» کله چې ګرده سپوږمۍ راپورته شوه، سپین خپله خورکې له لاسه ونیوله، او دزینتی ډبرو په لورروان شول. ډ برې دنووضرب شوو سیکو په شان ځلېد لې، او دوې ته یې لار ښودله. ټوله شپه روان وو او دورځی دپیل کېدو سره سم دپلار کور ته راورسیدل. دوې دروازه وټکوله، کله چې ښځې دروازه خلاصه کړه، او وېې لېدل چې سپین او تورپیکۍ دي، وېې وېل،« ای بدو کوچنیانو، ولې په ځنګل کې په دومره اوږده خوب ویده واست، موږ فکر کاوه چې تاسې له سره نه غواړی چې بېرته راشي.»

لېکن پلاریې ډېر خوشال و، ځکه زړه یې په لړزا و، چې دوی یې تر شا ګوښی پری ایښی وو.

ډېر وخت لا نه و تیر شوی چې ډار او وېره بیا په ټول کور کې خپره شوه اوکوچنیانو اوریدل، چې مور دشپې په بستر کې پلار ته ووېل، «هرڅه بیا خلاص شول، موږیوازې نیمه ډوډۍ لرو، نور هر څه تمام دي، کوچنیان باید له دې ځایه ورک شي، موږ به یې په ځنګل کې لرې بوزو، تر څو چې بیا لار پیدا نکړې او کنه زموږ له پاره دخلاصون بله لار نشته.» دا دسړی په په زړه ډېره سخته تمامیده، او په دې فکرو« چې دابه ښه وې، چې وروستی ګوله ډوډۍ دخپلو کوچنیانو سره ووېشي.» خو ښځې هغه څه هیڅ نه اوریدل چې سړی به وېل، په هغه یې منت کاوه او ګواښه یې، خو څوک چې الف وایې نو باید ب هم ووایې، یانې داچې په لومړي ځل یې دښځې و منل، نوپه دوهم ځل یې هم باید ومنی.

کوچنیان لا وېښ وو، اوخبرې یې واوریدلې، نو کله چې زاړه ویده شول، سپین بیا را پور ته شو،غوښتل یې دباندی لاړشي، اودتیرځل په څیر زینتی ډبرې راټولې کړي، خو ښځې دروازه بنده کړی وه، او سپین دباندې نشو وتلې. ده خپلې خور کې ته بیا ډاډورکړاو وېې وېل،« تورپیکۍ مه ژاړه، آرامه ویده شه، مهربان خدای به زموږسره مرسته وکړی.»

سهار د وخته ښځه راغله، او کوچنیان یې له بسترې راوایستل، هر یوه د ډوډۍ ټوټه تر لاسه کړه، چې د لومړي ځل تر ټوټی لا وړه وه. دځنګل پر لار سپین د ډوډۍ خپله برخه وړه وړه کړه، غلی ودرید، او یوه ټوټه یې په مځکه واچوله. پلار ووېل چې: « دا شاوخوا د څه له پاره او څه شي ته ګوری، ځه خپله لاروهه.» سپین ځواب ورکړچې: « زه خپلې کوتر ې ته ګورم، په بام ناسته ده ا و غواړي چې زما سره خدای په اماني وکړی.» ښځې ووېل چې:« نا پوهه، دا ستا کوتره نه ده، دا سهارنی لمر دی، چې دلوګی وتلو په برجک ځلیږی.» خو سپین دډوډۍ کوچنی ټوټې یوه په بله پسی په لار کې واچولې.

ښځې واړه په ځنګل کې دومره لرې بوتلل چې په ژوند یې هم دا ځای نه و لېدلی. بیایې لوې اوربل کړ او مور یې ووېل چې:« کوچنیانو دلته کښینی او که ستړي شوی، نو یو څه ویده شي، موږ په ځنګل کې دوړاندې ځو او لرګي وهو، ماښام، کله چې کار خلاص شي، بیرته راځو او تاسې له ځان سره اخلو.» کله چې غرمه شوه، تورپیکۍ دډوډۍ خپله برخه دسپین سره ووېشله، ځکه

ده خپله برخه میده کړې او په لارېي ښندلي وه. تر دې وروسته وېده شول، ماښام تیرشو، خو دې بېوزله وږوته هیڅوک هم رانغلل. دوی په توره شپه کې راوېښ شول، او سپین خپلې خورکې ته تسلي ورکړه، او وېل یې چې: «صبر وکړه تورپیکی، ترڅو سپوږمی را پور ته شي، نو بیابه دبوډۍ هغه ټوټې ووینو، چې ماښیند لې دي، هغه موږ ته دکور په لور لار راښیي.»کله چې سپوږ می راښکاره شوه، دوی وخوځیدل، خو د بوډۍ ذ ری یې پیدا نکړې، ځکه په زرګونو الوتونکو، چې په ځنګل او پټیوکې دې خوا او هغې خوا ته الوتل، ټولې یې خوړلې وې. سپین و تورپیکی ته ووېل :« موږ به لار پیدا کړو.» خو پیدا یې نه کړه. ټوله شپه او ور پسې ټوله ورځ تر ماښام پورې وګرځیدل، خو له ځنګله را ونه وتل، ډیر وږی شول، ځکه بېله یوڅو دانو ځنګلي توتانو، چې په ځمکه ولاړوو، بل څه یې نه در لودل. دا چې دومره ستړي وو، چې نور په پښو نشو دریدلې، نو تر یوې ونې لاندې پریوتل او وېده شول.

اوس نو دریمه ورځ وه چې دپلار له کوره راوتلي وو، دوی بیا روان شول، خو همیشه په ځنګل کې دننه ژور ور ننوتل، کله چې غرمه شوه، یو ښکلي سپین الوتونکی یې ولید چې په یوه ښاخ ناست و، داسې ښکلی آواز یې کاوه، چې دوې ورته ودریدل، اوغوږ یې ورته ونیو، بیا نو مرغه وزرې وخوځولې، او ور څخه والوت، او دوې ور پسې روان شول، هلته یې ولید چې الوتونکۍ په یوه کورګوټي ناست دی، او کله چې ور نږدې شول، وېې لیده چې کور ګنګۍ ټول له بوډۍ جوړ او په کېک پوښ شوی و، خو کړکۍ یې دروښانه شکرې وې. سپین ووېل:« اوس نو باید پیل کړو او ښه یې وخورو، زه غواړم چې دبام یوه ټوټه وخورم، تورپیکی ! ته یې له کړکې وخوره، دا خوږ کیک دی.» سپین ځان وچت کړاو له بامه یې یو څه را پرې کړل، ترڅوېې خوند وڅکي ، او تورپیکی درنۍ تختې تر څنګ ودریده او خوله یې په ولګوله، په دی وخت کې له کوټګی نرۍ غږ را پورته شو

«چېچل،چېچل،شور کول،

څوک زما کور ګوټی چېچي»

کوچنیانو ځواب ورکړ

«باد، باد،

آسمانی کوچني،»

او بې له دی چې ځان په آواز وغولوي، خوراک ته یې دوام ورکړ. سپین ته چې د بام کیک ډیرخوند ورکړ ی و، یوه لویه ټوټه یې تر ی را غوڅه کړه اوټور پیکی یوه بشپړه دوره دکړکی نه ټوټی راغوځولي، کښیناسته او په مزه مزه یې خوړلې. په دې وخت کې نا څاپه دروازه خلاصه شوه او یوه ډیره زړه ښځه چې په همسا یې تکیه کړې وه را ووتله. سپین او تورپیکی دومره وډار شول چې څه یې په لاس کې وترې ولوېدل. خوبوډۍ سر وخوځاوه او وېې وېل چې:« ای، ګرانو کوچنیا نو، تاسې دلته چا راوستې؟ را ننوزی، او زما سره پاتې شی، تاسې به دلته خوشاله اوسی.» بوډۍ دواړه له لاسو ونیول او کور ته یې بوتلل. دلته ښه بوډۍ تیاره شوې وه، شدی، دشکرې سره، دهګیو خواږه پوستي، منې اوزړی. تر دې وروسته په دوو ښکلو بستر ګنکو سپین پوښونه وغوړیدل، سپین او تورپیکی ور ننوتل، او فکر یې کاوه چې ګوندې په اسمان کې دي. بوډۍ په ښکاره ځان مهربان ښود، خودا یوه خبیثه شیشکه وه، چې کوچنیان یې را ګیرول، اودا د بوډۍ کور ګنکې یې یوازې ددی لپاره جوړ کړی و چې د دوی پام

ور واړوي او په دې ډول يې ځان ته راکښ کړی. خوچې کله به په لاس ورغلل، نو وژل يې، پخول او خوړل يې، او دا به د دې د خوشالۍ ورځ وه. کله چې سپين اوتورپيکی کور ته ور نږدې شول، نو بوډۍ په بد نيت وخند ل او په مسخره يې ووېل،« دادوه مې بايد له لاسه ونه وزي.» سهار دوخته، وړاندی تر دی چې واړه را وېښ شي، دا راپا ځيده، اوکله يې چې دواړه د سرو غمبوروسره دارامۍ په حال کې ولېدل، نوله ځان سره يې ووېل چې:« له دوی به ډير خوندور خواړه جوړشي.» په دې وخت کې يې سپين په خپل وچ لاس را ونيو، او يوې وړې غوجل ته يې يوړ، هر څومره لوړې چيغې يې چې ووهلې هم، مرسته يې ور سره ونه کړه، دی يې بندي کړ اود پنجرې دروازه يې ور پسې وتړله، تردې وروسته تورپيکۍ ته ورغله، په ځنډ لو يې وېښه کړه، او وېې وېل:« غواړی چې پورته شي، تنبلې، ته بايد اوبه راوړې، او ورور ته دې يو ښه شی پوخ کړې، هغه په غوجل کې ناست دی، او بايد څورب اوچاغ شي او کله چې څورب شي، نو بيا غواړم چې وېې خورم.» تورپيکۍ غمګينه په ژړا شوه، خو څه ګټه يې نه درلوده، دا مجبوره وه هغه څه وکړی چې دې خبېثې شيشکې ترې غوښتل.

اوس نو د بې وسه سپين له پاره تر ټولو ښه خواړه پاخه شول او د تورپيکۍ په برخه يوازی دچنګاښ باندنۍ پوښ ( کاسه) وه. بوډۍ به هر سهارغوجل ته ځان رساوه، اوناره به يې کړه:« سپينه، ګوتې دې راوغځوه، ترڅو پوه شم چې ته به کله څورب شي.» خو سپين به يوازې دګوتی بند ور ښود، او دې بوډۍ، چې سترګې يې خړې وې، هغه نشو لېد لې او فکر يې کاوه چې دابه دسپين ګوته وي اوحيرانه پاتی وه چې دی خو له سره نه چاغيږی. کله چې څلور اونۍ تيرې شوې، او سپين لاهم څورب نه شو، نو د صبر کاسه يې ډکه شوه او نور انتظار يې نشو ايستلی. جلۍ ته يې غږ کړچې: « ای تورپيکۍ، زرشه اوبه راوړه». سپين که څورب وي او که ډ نګر، غواړم چې سبا يې حلال او پوخ کړم.» کله چې تورپيکۍ له مجبوريته اوبه راوړی، نو په غم کې ډوبه ژړيده، او پر مخ يې اوښکې بهيد لې اووېې وېل چې:« ای مهربانه خدايه، موږ سره مرسته وکړه، که په ځنګل کې ژوېوخوړلې وای، نو يو ځای خو به مړه وای.» بوډۍ ورته ووېل: «سورنۍ دی بس کړه، هيڅ شي مرسته نشي درسره کولې.» تورپيکۍ مجبوره وه چې سهار دوخته راووزی، داوبو ديګ باندې کړې او ترې لاندې اور ولګوې. زړې ووېل چې:« لومړی به ډوډۍ پخه کړو، داش مې تود کړی دی او وړه مې لامده کړي دي.» شيشکې بېوزله تورپيکۍ وداش ته ، چې سری لمبې ترې را وتې، ور ټيله کړ، اوورته يې ووېل چې،«ور ننوزه او وګوره چې داش تود دی او که نه، چې ډوډۍ ور ننه باسو.» که چرې تورپيکۍ داش ته ور ننوتلې وای، نو بوډۍ غو ښتل چې دداش کړکۍ ور پسې وتړي او تورپيکۍ پکې کباب کړي او بيا داهم وخوری. لېکن تورپيکۍ پو هيده، چې دبوډۍ په فکر کې څه دی، نو يې ووېل:« نه پو هيږم چې دا څه ډول کيږي، څنګه به دلته ور ننوزم؟» زړې ورته ووېل چې،«ناپوهی مرغا وې، دداش کړکې پوره لوېه ده، ته خو وېنې، چې زه هم ور ننوتلې شم.» په خپوړو شوه، او سرېې دداش په کړکۍ کې ور ننه باسه، په دې وخت کې تورپيکۍ يوه داسې ټيله ورکړه چې دداش منځ ته يې ور تيره کړه، دداش اوسپنيزه کړکې يې وتړله او قيدک يې بند کړ. هو! بوډۍ په چيغو شوه، په ډير بد حال وه، خو تورپيکۍ ترې

منډه کړه، او له خدایه منکرې شیشکې بله لار نه درلوده او په بد حال وسوزیده. تورپیکۍ په لنډه لارسپین ته ور منډه کړه، دغوجلې در وازه یې خلاسه کړه، او ور ناره یې کړه چې:« سپینه ، مور. وساتل شوو، زړه شیشکه مړه شوه.» سپین دغوجل نه داسې په غورځنګ راووت، لکه الوتونکۍ دقفس نه چې کړکۍ یې خلاسه شي را والوزی. دواړه بې اندازې خوښ وو، او له ډیرې ځوشالۍ یې ټوپونه اچول او یو بل یې ښکلول، او دا چې نور له هیڅ نه ډاریدل، نو د شیشکې کور ته ور ننوتل، هلته یې ولیدل چې، دکور په هر کونج اوکنار کې، دملغلرو او قیمتی ډبرو ډک صندوقونه ول.سپین ووېل چې:« دا خو تر زینتی ډبرو ښه دی.»او دومره یې په جیبونوکې واچولې، چې پکې ځایېدلې او تورپیکۍ ووېل:« زه هم یو څه دځان سره کورته وړم،» او خپل ملا بند یې تری ډک کړ.سپین ووېل چې:« اوس باید روان شو، ترڅو چې دشیشکې ځنګل نه ووزو.» چې یو څو ساعته لار یې ووهله، د اوبوله لوی سند سره مخامخ شول. سپین ووېل چې، مور. له دی اوبو نشو تیرید لی، کوم لوې یا کوچنی پل هم نه وېنم. تورپیکۍ په ځواب کې ووېل چې: « دلته کشتی هم نه راځی، خو هلته یوه سپینه مرغاوې لامبو کوې، زه به له هغی هیله وکړم چې له اوبو په تیریدو کې مرسته راسره وکړي.»

دی ور ناره کړه

«مرغاوې ګکې ،مرغاوې ګکې،

دلته تورپیکۍ او سپین ولاړدي.

نه لوی پل شته او نه کوچنی پل شته،

مور. په خپله سپینه شا کښینوه.»

مرغاوې ورته راغله، اوسپین یې پرشاکښیناست، اوله خورکې یې هیله وکړه چې ور سره کښني. خو هغې په ځواب کې ورته ووېل،« نه، دواړه یوځای به دمرغاوې بار درووند کړو، دا باید مور. یو په بل پسې پوری باسي.» دې ښه حیوان دا ښه کار وکړ، او کله چې نیکمرغه پورې وتل، او یوه شیبه مخ په وړاندې لاړل، ځنګل ورته وار په وار اشنا ښکاره کېده، او بالاخره یې له ورایه دخپل پلار په کور نظر ولګیده. اوس نو په منډو شول، کوټه ګنکې ته ور وغور ځیدل، او د خپل پلار سره غاړه په غاړه شول. له هغه وخته چې دې سړي خپل واړه په ځنګل کې پری ایښي وو، یوه ګړۍ هم بېغمه نه و، اوښځه یې مړه شوې وه. تورپیکۍ خپل ملا بند وڅانډه، او په کې ملغلری او قیمتی ډبرې تری راتوی شوې. سپین هم لاسونه یو په بل پسی له جیبو را ډکول، ملغلرې او قیمتی ډبرې بې له نورو سره یوځا اچولې. اوس ټولې اند یښنی پای ته ورسیدې، او دوی په ډیره خوشالۍ کې یو بل سره ګډ ژوند کاوه. زما افسانه پای ته ورسیده، هلته یو موږک منډی وهی، که څوک یې ونیسي، اجازه لری، چې دپوستکې نه یې ځانته خولۍ جوړه کړي.

## سپین مار

د اوس نه ډیر ډیر کلونه پخوا یوه باد شا باد شاهي کوله. دا باد شا دومره هوښیار و چې په هوښیارتیا په ټول هیواد کې مشهور و. دی له هرڅه نه خبرو او هیڅ شی ترې پټ نه پا تې کیده. داسې ښکاریده چې ګوندې د ټولو پټو شیانو راز هم د باد په واسطه ده ته ورسیږي. باد شاه یو عجیبه عادت درلود. کله چې به ډوډۍ وخوړل شوه او بل هیڅوک به په کوټه کې پاتې نه شول اویوازې به و، نو په دې وخت کې به یوه باوري نوکر یوه کاسه ور ته راوړه. دکاسې سر پټ و. هیڅوک په دې نه یوهیدل چې په کاسه کې به څه وي. د پاچا دا باوري نوکر هم په دې نه پوهیده. څکه چې باد شا یوازې هغه وخت د کا سې سرپوښ پورته کاوه او ډوډۍ یې ترې خوړه چې هیڅوک به نه و. په دې ډول ډیر وخت تیر شو. نوکر دې کاسې ته ډ یر په تشویش کې و. د ورځونه یوه ورځ، کله چې کاسه یې بیرته وړه، تشویش دومره په زورشو چې نور نه شو تم کیدی، هغه یې خپلې کوټې ته یوړه او ور یې ورو په ځان پسې پورې کړه. د کاسې سر پوښ یې پورته کړ او ویې لید چې سپین مار پکې پروت دی. په لومړي نظر یې د مار څکلو ته چندان زړه ونه شو، بیا یې هم یوه ټوټه ترې رابیله کړه او خولې ته یې واچوله. لا یې سمه ژبې ته نه وه رسید لې، چې بې سارې نري او خواږه اوازونه یې دکړکۍ له لارې غوږو ته ورسیدل. دی ورغی او غوږیې ورته ونیو، که ګورې چې چوغکې دی او یوې بلې ته په دې باره کې خبرې کوي چې په پټیو اوځنګل کې یې څه ولیدل. اوس نو دمار غوښې په خوړلو سره کولی شي چې د ژویو په خبرو پوه شي. دخدای کارونه وو چې په وخت کې دباد شا تر ټولو ښکلې ګوته ورکه شوه. دا چې د باد شاه باوري نوکر هرې خوا ازاد ګرځیدلی شو، نو دا ګمان په وشو چې دا ګوته به ده پټه کړې وي. باد شا هغه ځان ته را وغوښت، ویې شکنځه اوګواښ یې ورته وکړ، چې که ترسبا پورې دګوتې غل پیدا نه کړي، نو دی به تورن وګڼل شي. ده که هر څومره د بې ګناهۍ چیغې هم وکړې، څه ګټه یې ونه کړه او هیڅ ډول سند او ثبوت هم مرسته ور سره ونه کړه. ډیر نارامه وه، په ډار انګړ ته ښکته شو او په دې چرت کې و چې په څه ډول به ځان له دې جنجال نه خلاس کړي. په دې شیبه کې یې دوې مر غاوې ولیدې چې په روانو اوبو کې دیوبل تر څنګ ارامې ناستې وې، دمه یې کوله، په مښوکو یې خپلې ښکې پاکولې او په خپلو کې یې یوې بلې ته دزړه رازونه بیانول.

نوکر ود رید اوغوږ یې ورته ونیو. دوی ویل چې نن په کومو ځایو کې وګرځیدې او چرته یې ښه خوراکي شیان پیدا کړل. په دې وخت کې یوې مرغاوې په یو څه خواښینۍ سره وویل چې.« زما په ګیډه کې یو دروند شی پروت دی . ما یوه ګوته چې د ملکې دکړکي لاندې پرته وه د نورو خوراکي شیانو سره دبیړني خوراک په وخت کې تیره کړې ده. نوکر ور ټوپ کړ، مرغابې یې له غاړې ونیوله، پخلنځي ته یې یوړه او اشپز ته یې وول چې:« دا مرغابې ښه څربه ده، حلاله یې کړه.» اشپز وویل چې:« ښه.» بیایې مرغابې په لاسو کې پورته کړه ترڅو چې وزن یې ځان ته مالوم کړې، ورپسې یې وویل چې:« دې په خوراک کې تنبلي نه ده کړې اوله پخوا ورته په تمه وم چې لومړۍ درجه کباب ترې جوړکړم.» سر یې ترې غوڅ کړ او چې دګیډې منځپانګه یې را وایستله، دملکې کوته یې هم پکې پیدا کړه. اوس نو نوکر ته اسانه شوه چې بادشا ته خپله بې ګناهي ثابته کړي. باد شاه غوښتل چې په نوکر باندې دکړې بدګماني تلافي وکړي او ورته ویې ویل چې ته دبخښنې دغوښتلو اجازه لرې او وعده یې ورسره وکړه چې په خپل دربار کې به تر ټولوړ مقام، چې نوکر یې غواړي، ده ته ور کړي.

نوکر له نور هر څه نه تیر شو، یوازې یې د یوه آس او دسفر له پاره دیو څو پیسو غوښتنه وکړه. څکه ده غوښتل چې دنیا وګورې او یوه موده پکې وګرځې اوراوګرځې. کله چې د ده غوښتنه تر سره شوه، نو په سفر روان شو. یوه ورځ یوه ډنډ ته ورسید او هلته یې درې مایان ولیدل چې په یوه تونلګي کې بند پا تې دي او په اوبو پسې هڅه کوي. که څه هم ویل کیږي چې مایان ګونګ دي، خبرې نه شي کولی، خوسره له دې هم، دا نوکر دهغوی په ستونځې پوهیده او هغه داچې دمرګ سره مخامخ دي. نوکر چې ډیر مهربان سړی و، دآس نه راکوز شو، درې واړه مایان یې دتونل نه ازاد کړل او اوبو ته یې راوړل. مایان په

اوبو کې په لوبواو لامبو شول، له اوبو یې سرونه را پورته کړل او سړي ته غږ کړچې:« داچې موږ دې ازاد کړو، دا نیکي به دې هیکله هیر نه کړواو هرو مرو به موږ هم نیکي درسره و کړو.» ده خپل سفر ته دوام ور کړ. دیو څه مزل نه وروسته یې دآس تر پښو لاندې ریګ نه یو اواز تر غوږ شو. د اواز په اوریدو سره پوه چې دا دمیږیو دپاچا شکایت دی چې وایي:« کاشکې چې انسانانو او دهغوی وحشي ژویو موږ ارام پرېښودلي وای. دا احمق آس زما ولس په ډیره بې رحمۍ تر خپلو درندو پښو، لاندې کوي اووژنې یې،» لاروي آس دریګو نه دتېرو خواته را وګرځا وه او دمیږیو پاچا ور ناره کړه چې:« موږ به ستا دا نیکي هیره نه کړو او په بدل کې به نیکي درسره وکړو.» اوس نو د ده لار په یوه ځنګل ور برابره شوه او هلته یې دکارغانو یو پلار او یوه مور ولیدل چې په ځاله کې ولاړ دي او خپل بچیان یو په بل پسې له ځالې په مځکه غور ځوي او ورته وایي چې:« له دې ځایه ورک شی، تاسې جنایت کاروغلو، نور موږ تاسې نه شو مړولي، پوره لوی شوي یاست اوباید ځانو ته پخپله خوراک پیدا کړی.» د کارغانو دا بې وزله بچیان په مځکه پراته و، وزرې یې خوځولي اوسم الوتلی نه شول اوچیغې یې وهلې چې:« موږ بې وزله او بې وسه کوچنیان الوتلی نه شو اوځان ته خوراک هم پیدا کولی نه شو، بله چاره نه لرو بې له دې چې له لوږې مړه شو.» ځوان لار وی دآس نه کوز شو، هغه یې په چاړه حلا کړاو دکارغانو بچیانو ته یې پرېښود. دوی آس ته را وښوییدل، دومره وخوړ تر څو چې ښه ماړه شول. بیا یې لار وي ته وویل چې:« موږ ستا نیکي هیڅ نه هیروو او د دې نیکۍ ځواب به په نیکۍ درکوو.»

لاروی اوس مجبورشو چې دخپلو پښو نه کارواخلي. داوږده مزل نه ورسته یوه ښار ته و رسید. په ښار کې ډیر شور ماشور او په کوڅو کې یې ډیر بیربارو. یو په آس سپورسړی و رغي او ځان یې ور معرفي کړ. په دې وخت کې د پاچا لور دمیړه په لته کې وه. هر کاند ید مجبور و چې ډیره سخته چاره تر سره کړي او که بخت یې بد وي او دا چاره یې تر سره نه کړه، ژوند له لاسه ور کوي. ډیرو ځوانانو ځا نونه واز مویل، بخت یې ملګرتیا ورسره ونه کړه او ژوند یې له لاسه ور کړ. ځوان لار وي چې شهزاد ګۍ ولیده، دومره ډیره ښکلې وه چې داټول خطرونه یې ترې هیر کړل، دپادشا په مخکې ودرید او ځان یې کاندید وښود.

سم دلاسه یې د دریاب په لور روان کړ او کله چې دریاب ته ورسیدل، یوه ګو ته یې د ده په مخکې دریاب ته واچوله او پاچا ورته وویل چې اوس یې د دریاب له تل څخه راوباسه او زیاته یې کړه چې:« که بې ګوتې را پورته شوې نو بیرته ور ټیله کیږې اودا کار تر هغه وخت پورې تکراریږي، تر څو چې هلته په اوبو کې ساه له لاسه ور کړې.» ټول د دې ښکلي ځوان په حال خپه وو او د دریاب په غاړه یې ګوښی پرېښود. دی هلته ولاړ و او فکر یې کاوه چې څه باید وکړي. په دې شیبه کې یې و لیدل چې درې مایان د ده په لور لامبو وهي او د منځني مایي په خوله کې یو صد ف دی. دا نور څه نه وو، دا هغه درې مایا وو، چې د ده په مرسته ژوندي پا تې شوې وو. منځني مایي په خوله کې صد ف د دریاب په غاړه دځوان په پښو کې واچوه. ده چې واخیست، خلاص یې کړاو ویې لیده چې ګوته پکې وه. په ډیره خوشالي او هوس یې ګوته بادشا ته ورووړه او په تمه یې وه چې اوس به پاچا ده ته تر ټولو په زړه پورې انعام ورکړي. خو کله چې دا په ځان مغروره شهزادګۍ په دې پوه شوه چې دی یې په نسب سیال نه دی، نو ویې نه مانه اوترې ویې غوښتل چې یو بل شرط دې هم پوره کړي. شهزادګۍ په خپله باغ ته ور کښته شوه اولس بوجې ایږدن یې دوښو په منځ کې وشنل او ویې ویل چې:« سبا تر لمر ختو وړاندې باید دا ایږدن دانه په دانه راټول کړي او یوه دانه هم باید پا تې نه شي.» ځوان په باغ کي کیناست او په دې سوچ کې شو چې دادنده په څنګه سرته ورسوي. کومه لار یې پیدا نه کړه، خپه په ځای ناست پاتې شو او په دې انتظار کې و چې دشپې به تیریدو او دسهار دپیل سره به یې دمرګ په لور روان کړي، خو کله چې د لمر لومړۍ وړانګې په باغ را پریوتې، ویې لیدل چې لس دایږد نو نه ډ کې بوجۍ څنګ په څنګ په باغ کې ولاړې دي

او ایږد نو یوه دانه هم دباندې پاتې نه ده. د میږیو پاچا د زرګونو اوزرګونو میږیانوسره شپه په شپه دې ځای ته را رسیدلي وو اودې احسان منونکوژویو په پرله پسې او نه ستو مانیدونکو هڅو ټول ایږدن په بوجیو کې راټول کړي وو. شهزاد ګی په خپله باغ ته راکوزه شوه اوپه حیرانتیا یې ولید چې دې ځوان هغه دنده تر سره کړی ده چې ورکړ شوې وه. سره له دې هم شهزادګۍ مغروره پاتې شوه او ویې ویل چې:« که څه هم ده دواړه ورسپارل شوې چارې سرته ورسولې، خو بیاهم تر هغه وخت پورې زما میړه کیدای نه شي، ترڅو چې د ژوند مڼه راته را نه وړي.» دا ځوان په دې هم نه پوهیده چې د ژوند مڼه په چرته وي او تمه یې نه درلوده چې هغه به پیدا کړی شي. سره له دې هم روان شو اونیت یې وکړ چې تر هغو به ور پسې ګرځي تر څو چې په پښو تللی شي. ده درې پاچاهۍ ولټولې او ورپسې یوه ځنګل ته ورسیده او هلته تر یوې ونې لاندې کیناست، غوښتل یې چې ویده شي. په دې وخت کې یې دونو په شاخو کې څه اواز تر غوږ.و شو او یوه طلایي مڼه یې په لاس کې ولویده. ورسره سم درې کارغان را ولوتل، د ده په ورنو کینا ستل او ویې ویل چې:« موږ هغه درې ګوچنې کارغان یو چې تا د لوږې نه وساتلو. کله چې لوی شو، نوموږ.واورید ل چې ته طلایي مڼه لټوې. موږ د دریاب په سر ولوتو او د دنیا هغه بل سرته ورسید و. هلته دژوند مڼه ولاړه ده او تاته مو دا یوه طلایي مڼه ترې نه راوړه. دځوان زړه د خوشالۍ نه ډک شو ، دکور په لور روان شو او ښکلې شهزادګۍ ته یې طلایي مڼه ورکړه. شهزادګۍ ته بله بهانه پا تې نه شوه. دواړه په ګډه مڼه وخوړله او ورسره سم دشهزادګۍ زړه دځوان سره دمینې نه ډک شو اودواړو یو ځای اوږداو له مینې ډک ژوند وکړ.

## سورخولۍ

یووخت یوه و ړه، خوږه، ښکلې جلۍ وه، دا به هرچاچې لیده، ډیره یې خوښیده او وربانديډیره ګرانیده، خو تر هر چا زیاته په خپلې نیاګرانه وه. نیایې تل په دې فکر کې وه چې، خپلې لمسۍ ته یو څه ډالۍ کړي. یو ځل یې یوه سره اوبدل شوې خولۍ ورته ډالۍ کړه، چې دسر سره یې ښه ناسته وه اوښکلې ښکاریده، نوځکه دې جلۍ بل څه نه په سر کول، تل له همدې خولۍ سره ګرځیده، له همدې امله په سورخولۍ مشهوره شوه. یوه ورځ یې مور ور ته وویل چې:« سور خولۍ راشه، داد شربت بوتل او داکېک واخله او نیا ته یې یوسه: هغه ناروغه او کمزورې ده، له دې سره به یو څه تازه او ځواکمنه شي؟ ښه خد مت او پالنه یې وکړه او زما سلامونه هم وررسوه، په لاره سمه سیده ځه، له لویې لارې ایخوا یادیخوا مځه، او کنه وبه لویږې، دا بوتل او دکېک لوښی به مات شي او ناروغې نیا ته به څه په لاس ور نشي.»

سور خولۍ ورته وویل چې: «دا هر څه به سم سر ته ورسوم.» او ور پسې یې مور ته لاس ورکړ. نیا له کلي دباندې، نیمه ګړۍ لرې، په یوه ځنګل کې اوسیده. کله چې سور خولۍ ځنګل ته ورسیده، یو لیوه په مخه ورغی. سور خولۍ نه وه خبره چې دا لیوه څومره بد نیته اوغوسه ناک حیوان دی، او ترې ونه ډار شوه. لیوه ورناره کړه چې: « ورځ مو په خیر، سور خولۍ.» سور خولۍ ورته و ویل چې: « ډیره مننه،لیوه.» لیوه بیا وپوښتله چې:«دومره د وخته کومې خوا ته ځې، سورخولۍ ؟» سورخولۍ و ویل چې:« نیا ته مې ورځم.» لیوه بیا وپوښتله چې:« د ملا بند لاندې دې څه دي ؟» سور خولۍ و ویل چې: « شربت او کېک دي، کېک مو پرون پوخ کړ، دا زماد ناروغې او کمزورې نیا له پاره ښه دی، او په دې به قوي او ځواکمنه شي.» لیوه بیا وپوښتل چې:« سورخولۍ، ستا نیا چرته اوسیږي؟» سور خولۍ ورته وویل چې: « له دې ځایه یو پاو لرې په ځنګل کې، دڅېړې د درو لویو ونو لاندې، دهغې کور دی، هلته ښکته بیا دغوزانو ونې دي، ته یې پیدا کولی شې.» لیوه له ځان سره داسوچ وکړ چې:« دا ځوا نه تنکۍ جلۍ، داخو ستا لپاره یوه خوندوره ګوله ده: باید مکار واوسې، تر څو په لا س درشي او در نه خلاصه نشي.» لیوه لا یوه شیبه دسور خولۍ تر څنګ روان و، بیا یې ورته وویل چې: «سور خولۍ، ته دې ښکلو ګلانو ته وګوره، چې شاوخوا ولاړ دي، ته ولې دا خپل چاپیر یال ته نه ګورې؟ فکر کوم چې ته به دالوتونکو دا ښکلې نغمې هم نه اورې ؟داسې له ځان سره ګوښې روانه یې، لکه څوک چې ښوونځي ته ځي. په ځنګل کې خو دسیل او خوشالۍ بازار تود دی.» سورخولۍ سترګې وغړولې، ویې لید چې لمر دونو دڅانګو تر منځ ځلیږي، او هره خوا ښکلي ګلان ولاړ دي، نو له ځان سره یې فکر وکړ چې:« که نیا ته مې دګلانو تازه ګېډۍ له ځان سره یوسم، نو دې ته به هم خوشاله شي، لاوخت ډېر دی، دګلانو ګېډۍ دجوړولو سره سره به هم په خپل وخت نیا ته وروړسیږم.» ځنګل ته ور ننوته او دګلانو په لټه کې شوه. کله چې یې یو ګل راوشکاوه، هلته بل ورته تر دې ښکلې ښکاره شو، بیا په هغه پسې ځغاسته، په دې ډول په ځنګل کې دننه مخ په وړاندې تله. خو لیوه په سیخه او لنډه لارد نیا کور ته ورغی او دروازه یې وټکوله. نیا ناره کړه چې:« دباندې څوک دی؟» لیوه و ویل: « سورخولۍ، کېک او شربت یې درته راوړی دی، دروازه خلا صه که.» نیا ناره کړه چې:« دستګیر کښ کړه، زه کمزورې یم او نشم پورته کېدای.» لیوه دستګیر راکښ کړ، ورننوت، بیله دې چې څه ووایي، وړاندې تیرشو، سم دم د نیا کټ ته ورغی، اوهغه یې نس ته تیره کړه. بیایې د نیا جامې واغوستې، دهغې څپونی یې په سرکړاو دهغې په بستر کې پریوت، او دکړکۍ پرد ې یې راکښ کړې.

سورخولۍ په ګلانو پسې هرې خواته وګرځیده، کله چې یې دومره زیات ګلان راټول کړل، چې لا یې وړلی شول، نو نیا ور یاده شوه، او دهغې دکور په لور وخوځیده. کور ته چې راغله په دې حیرانه شوه چې دروازه برېنګه پرته وه، کور ته چې ننوته، هرڅه بل ډول ورته ښکاریدل، فکرېې وکړچې:« ای زما ربه، څومره ډار مې زړه ته را ننوت او کنه زه خو به دخپلې نیا سره هر وخت ډیره خوشاله وم!» ورپسې د نیا کټ ته ورغله، د کړکۍ پردې یې خلاصې کړې. نیا دلته پرته وه، څپونی یې ښه ښکته په مخ راکښ کړی واو ډیره حیرانید ونکې ښکاریده.« ای نیا، دا څرنګه لوی غوږونه لرې؟» « د دې لپاره چې غږ دې ښه واورم .»«ای نیا، دا سترګې دې ولې دومره غټې دي؟»« د دې لپاره چې تاښه ولیدلی شم .» «ای نیا، دا لاسونه دې ولې دومره لوی دي ؟»« د دې لپاره چې تا ټینګه ونیولی شم.»« خو، نیا دا خوله دې ولې دومره لویه اوډاروونکې ده ؟»« د دې لپاره چې تاښه وخوړلی شم .» لیوه چې څنګه داخبره وکړه، له بسترې یې په خوارکۍ سورخولۍ ور ودانګل، او هغه یې نس ته تیره کړه.

کله چې لیوه هغه څه وکړل چې غوښتل یې، بیرته په بسترې کې پریوت، ویده شو، او په خوب کې یې لوړ خور وپش کاوه. په دې وخت کې یو ښکاري د نیا کورته راورسید او په دې فکر کې شوچې « دا زړه ښځه ولې دومر خور وپش کوي، یو ځل ور وګرځه او وګوره چې څه ور پیښ شوی نه وی.» ښکاری کوټی ته ور ننوت، کله چې بسترې ته ورنږدې شو، ګوري چې لیوه پکې پروت دی. ښکاري ور ناره کړه چې: «داته یې؟ ډیر وخت کیږي چې زه در پسې ګرځم .» ټوپک یې ورته په نښه کړ، غوښتل یې چې ویې ولي، خو په دې فکر کې شو چې کیدای شي چې دې ظالم لیوه به نیا خوړلی وي، لا ددی امکان شته دی چې نجات ورکړم، نو ډ ز یې ونه کړ، د دی په ځای یې بیاتی را واخیسته اوغوښتل یې چې د ویده لیوه ګیډه څیرې کړي. د لیوه ګیډه یې چې یوڅه وڅیرله، سورخولۍ یې ولیدله چې ځلیدله، کله چې یې یو څه نوره هم څیرې کړه، نو سور خولۍ ترې راټوپ کړ اوناره یې کړه چې:«اخ! څومره وډار شوم، دلیوه په نس کې څومره توره تیاره وه!» ور پسې بوډۍ نیا هم ژوندۍ ترې را ووته او په سختې یې نفس ایسته. سورخولۍ په بیړه غټې غټې تیږی راټولې کړې او دلیوه نس یې ترې ډک کړ، کله چې هغه راویښ شو، غوښتل یې چې ټوپ واچوي، خو ډیر دروند واوبیرته ښکته په ځمکه ولوید او مړشو.

اوس درې واړه خوشاله وو، ښکاري دلیوه پوست له ځان سره واخیست، نیاکیک وخوړ اوهغه شربت یې وچیکه چې سورخولۍ ورته راوړی واودمه یې وکړه، سورخولۍ په دې سوچ کې وه چې: « بیا به دمور نصیحت له غوږ.و ونه باسم او هیڅکله به ګوښی له لارې په ځنګل ورګډه نشم.»

داسی هم ویل کیږی، چې سورخولۍ کله چې یې یوځل بیا خواږه خوراکې شیان نیا ته وروړل، دیوه بل لیوه سره مخامخ شوه، لیوه خبری ورسره پیل کړې او غوښتل یې چې له لاری یې دځنګل پخوا بوزی، خو سرخولۍ ځان وساته، سمه سیخه پخپله لار روانه وه، او نیا ته یې وویل چې په لاره بیا دیوه لیوه سره مخامخ شوه او لیوه ورته ـ ورځ مو نیک مرغه ـ وویل، خو له سترګو یې غوسه او بد نیتی ښکاریده:« که په لویه لاری نه وای روانه، نو خوړلی به یې وای.» نیاورته وویل چې:« راځه! دروازه به بنده کړو، چې دننه رانشی .» لږه شیبه وروسته لیوه دروازه وټکوله او ناره یې کړه چې:« نیا! دړه خلاصه که، زه سورخولۍ یم، کیک او کلچې می درته راوړي دي.» دوی دواړو هیڅ ونه ویل، غلی پاتی شول او دروازه یې خلاصه نه کړه. غو سه ناک لیوه څو ځله دکور چاپیره راتاو شواو بیا یې بام ته ټوپ کړ، ده دبام له سره سورخولۍ څارله چې کله به ماښام دکور په لور روانه شی، ترڅودی په پټه ورپسې راوان شي او په تیاره کې یې راونیسي او ویې خوری. نیا دده په نیت پوه وه. د هغې دکور په مخکې دتیږ.ی یولوی ډیګ ایښودل شوی و. نیا سورخولۍ ته وویل چې: « سور خولۍ، داسطل واخله، په دې کې مې پرون ساسچ پاخه کړې وو، سطل په دې لوی دیګ کې تش کړه.» سورخولۍ سطل په دیګ کې خالي کړ او تر هغویې نور داوبو ډک سطلونه پکې تشول، تر څوچې لوی دیګ ډک شو. دساسچو بوی پورته شواو دلیوه پزی ته ورسید، د بوی کولو سره سم یې له بامه ښکته وکتل او ورو ورو یې غاړه دومره ښکته اوږ.ده کړه چې نور یې ځان نشو ټینګولی او مخ په ښوئیدوشو، له بامه په لوی دیګ کې ولوید اوډوب شو. سورخولۍ نو نورخوشاله او ډاډه کور ته لاړه اوهیچا ونه ځوروله.

## شهزاد ګۍ د موږک پوست په جامه کې

یو وخت یوه پاچا درې لورګانې درلودې، ده غوښتل مالومه کړي چې په کومه لور یې ډېر ګران دی، ځان ته یې راوبللې او یې پوښتلې چې په کومه لور یې څومره ګران دی. مشرۍ لور یې ور ته و ویل چې د ټولې پاچا هۍ نه ډېر په ګران دی. دوهمې لور یې ورته و ویل چې د د نیا تر ټو جوهراتو او مرغلرو نه زیات په ګران دی او دریمې لور یې و ویل چې د مالګې نه زیات په ګران دی. باد شا په دې ډ یر په غوسه شو چې کشرۍ لور یې د یوه کم ارزښته شي سره پر تله کړ، یوه نوکر په لاس یې ورکړه او امر یې ورته وکړ چې ځنګل ته یې بوزي او هلته یې و وژني.

کله چې ځنګل ته ورسیدل، شهزاد ګۍ د نوکر نه هیله وکړه چې ویې نه وژني. نوکر شهزادګۍ ته ډېر وفا داروا‌و هغه به یې له سره نه وای وژلې. ده شهزاد ګۍ ته و ویل چې غواړي له هغې سره پاتې شي او ټول امرونه به یې مني. شهزاد ګۍ نور څه نه غوښتل او ورته ویې ویل چې یوازې د موږک له پوست نه جوړې شوې جامې مې په کار دي. نوکر دا جامې ورته راوړې، شهزاد ګۍ واغوستې او د واړه روان شول. هلته دیوه ګاونډي پاچا در بار ته ورغلل. شهزاد ګۍ بادشا ته ځان داسې ښکاره کړچې ګوندې نارینه دی او هیله یې ورنه وکړه چې په نوکرۍ یې ومني. باد شاه یې غوښتنه ومنله او ورته ویې ویل چې د ده د ځان خدمت به کوي، ماښامی به یې موزې له پښو باسي، خو هر ځل به یې دا موزې دهغې په سر ور ا چولې. یوه ورځ یې وپوښتله چې هغه له کوم ځایه راغلې ده. دې ځواب ورکړ چې:« له هغه هیواده، چرته چې څوک په موزو بل څوک په سر نه ولي.» له دې وروسته یې تر نظر لاندې ونیوله ترڅو چې یوه ورځ یې نورو نوکرانو ګوته ور وړه او ور ته ویې ویل چې دا ګوته د موږک پوست نه دلته ورکه شوې ده، د ډېرې لوږې بیې ګوته ده، موږک پوست به ارو مرو له چا غلا کړې وي. باد شاه موږک پوست ور وغوښت او ورته ویې ویل چې دا ګوته دې له کومه کړه. موږک پوست نور ځان نه شو پټولی، ځان یې د موږک پوست نه راوایست، تور اوږده ویښتان یې د تور ځنګل په شان په بارخو خواره واره شول، دومره ښکلې او دومره بې سارې ښکلې ښکاریده چې بادشا په همدې شیبه کې تاج د خپل سر نه ایسته کړ او دهغې په سریې کیښود او دخپلې میر منې په توګه یې اعلان کړه.

دواده مراسیمو ته دموږک پوست پلار را وبلل شو، هغه ګمان کاوه چې لور یې لا دوخته مړه شوې ده او ویې نه پیژندله. په د ستر خوان ډول ډول خواړه پراته وو، خو ټول بې مالګې وو. کله چې د موږک پوست پلار وڅکل، نو ډېر په غوسه شو او ویې ویل چې:« که له لوږې هم مړ شم داسې خواړه به ونه خورم.» دبادشا د دې خبرې سره سم ملکې ور ناره کړه چې:« اوس وایې چې که د لوږې ومرم هم داسې خواړه به ونه خورم، یوخت خو تاسې دنوکر په لاس په دې ګونا وژلم چې در ته مې و ویل چې دمالګې نه ډېر راباندې ګران یې.» بیا نو باد شا خپله لور وپیژندله، هغه یې ښکل کړله او بخنه یې ترې وغوښتله. اوس نو دخپلې لور میندل ورته د ټولې پاچاهۍ او د ټولې د نیا د مرغلرو او جواهراتو نه زیات ارزښت درلود.

Ein Märchen der Brüder Grimm

## شیطان او دهغه نیا

یو وخت یولوی پاچاو اودي بادشا ډ یر سپایان درلود ل، خو دومره لږه تنخوا یې ورکوله چې سپایانو په دې تنخوا ژوند نه شو کولی. درې سپایان په خپلو کې یوبل ته سره نږدې شول اوغوښتل یې چې وتښتي. یوه سپایي وبل ته وویل چې: « که ونیول شوو نو د زندئ کولو په ونه کې به مووځوړوي.» دې بل ورته وویل چې:« نو څه باید وکړو؟» هغه ورته وویل چې:« هغه دغنمو لوی پټی ګورې، که موږ هلته ځانونه پټ کړو، نو بیا مو نه شي پیدا کولی. دسپایانو لښکر اجازه نه لري چې په پټي ورګډ شي اوسبا له دې ځایه ځي.» دوی دغنمو پټي ته پټ په ګونډو ور وښوئید ل، خو لښکر ونه خوځید اوهلته چارچا پیرځای په ځای پاتې شو. دوی هلته دوې ورځې او دوې شپې ناست وو. ډیر وږي شول او نږدې و چې له لوږې مړه شي، خوکه چیرې دغنمو پټي نه راوتلي وای، نو دحتمي مرګ سره مخامخ کیدل. دوی له ځانو سره وویل چې:« څوک اوڅه شی به مرسته راسره وکړي چې له دې ځایه ووځو او کنه په ځورونکي مرګ به مړه شو.» په دې وخت کې داوراژدها چې په هوا کې الوتله، په دوی را ټیټه شوله او ترې ویې پوښتل چې ولې یې دلته ځانونه پټ کړي دي. دوی په ځواب کې ورته وویل چې:« موږ درې واړه سپایان یو، له نوکرئ راوتښتید و، ځکه چې تنخوا مو ډ یره کمه وه. اوس که دلته پاتې کیږو، نوله لوږې مړه کیږو او که له دې ځایه ووځو نو په دار ځوړول کیږو..» اژدها ورته وویل چې:« که غواړئ چې اوه کاله مې خد مت وکړئ، نوزه به تاسې د دې لښکر له منځه داسې تیروم چې هیڅوک به مو ونه نیسي.» دوی په ځواب کې ورته وویل چې موږ ستا غوښتنه منو، ځکه بله چاره نه لرو.» په دې وخت کې اژدها درې واړه په خپلو منګولو کې ټینګ ونیول، هوا ته یې پورته کړل ، د لښکر له سره یې تیر کړل او هلته په یوه لرې ځای کې یې بیا په ځمکه کښینول. دا اژدهابل څوک نه و، شیطان و، خوله ځان نه یې اژدها جوړکړی و. ده دوی ته یوه کوچنئ دوره ورکړه او ورته ویې ویل چې:« که په دې دوره مو په خپل ټول زور یوڅه ووهل، نو ترمخه به موله ځمکې تر هغه هم زیاتې پیسې را وخوټیږي ( را پورته شي ) چې تاسې یې په هیله وی. بیا نو کولی شی چې د لویو بادارا نو په شان ژوند وکړئ، أسونه به ولرئ او په ګاډیوکې به دې او هغې خواته چکرونه وهئ، خو له اوو کالو وروسته بیا زما مال یاست.» بیا یې دا هم ورته وویل چې:« لومړی درته دا یوه معما وایم، که چیرې مو دهغې مانا راته وویله، بیا درئ واړه زما له واک اوځواک نه ازاد یاست..» نور نو اژدها ترې والوتله او دوی خپل مزل ته دوام ورکړ، د دورې په برکت یې پریمانه پیسې درلودې، د بډایانوجامې یې ځانوته جوړولې، اغوستې یې او په ټوله نړئ کې یې چکرې وهلې. چې هر چیرې به وو، په خوشالۍ او پریمانئ کې یې ژوند کاوه، په آسانو سپریدل او په ګاډیو ( بګیو ) کې ګرځیدل، خوړل یې او چیکل یې خو بد کارونه یې نه کول. وخت په چټکئ تیریده ، دا اوه کاله زر تیر شول او ورسره سم دوه سپایان ډیر په ډار شول، خو دادریم یې چندان په فکر کې نه و، دې نورو دوو ته یې وویل چې:« ورونو ! مه ډار یږئ، زه لیونی نه یم، زه د معما په مانا پوهیږم.» بیا درې واړه دباندې پټیو ته را و وتل، هلته کښیناستل او د دوو په مخونو کې دخپګان نښې او نښانې لیدل کیدې. په دې وخت کې یوه زړه ښځه راغله او ترې ویې پوښتل چې ولې دومره خپه دي. دوی سوړ هوسیلی وکیښ او ویې ویل چې:« زموږ خپګان په تا پورې اړه نه لري او ته خو بې له هغې هم زموږسره کومه مرسته نه شې کولی.» زړې په ځواب کې ورته وویل چې:« هیڅوک نه شي ویلی چې مرسته نه شم در سره کولی، په ما با ور وکړی او دخپل خپګان لامل راته بیان کړی.» سپاهیانو ورته وویل چې:« موږاوه کاله د شیطان نوکران وو، هغه بې شمیره پیسې راکولې، موږ هم د ده خدمت ومانه او تر هغه به د ده نوکران پاتې شو، ترڅو چې دمعما مانا ورته پیدا کړو. زړې ورته وویل چې:« که غواړی چې مرسته درسره وشي، نو باید یو له تاسې څخه دې ځنګل ته ورننوځي، په

ځنګل کې به د پرخې یوه رانسکور شوي دیوال ته ورسیږي چې دیوه واړه کورګنکي په شان ښکا ري، دې کور ته باید ور ننوځي، هلته به مرسته تر لاسه کړي.» دا دوه اندیښمن په دې عقیده وو چې:« دا کار به هیڅ مرسته راسره ونه کړي.» دواړه کرار کیناستل، خودا دریم چې تل خوښ و او دڅه په غم کې نه و، را پا څید، دځنګل په لور روا شواو د رانسکوره شوې پرخې د دیوال نه جوړ شوي کور ته ورسید. په کور کې یوه ډیره زړه ښځه ناسته وه، دا د شیطان نیاوه او د سړي نه یې پوښتنه وکړه چې له کومه راغلې او دلته څه غواړې. سړي ټول هغه څه ورته بیان کړل چې په تیر شوې ول. دی د بوډۍ خوښ شو ، زړه یې په وسوزید او ورته ویې ویل چې مرسته ور سره کوي. بیا یې هغه لویه او پلنه تیږه چې دتکا وۍ په سر پرته وه، را پورته کړه او ویې ویل چې.« دلته په تکاوۍ کې ځان پټ کړه، هر څه چې دلته ویل کیږي، ته یې په تکا وۍ کې اورې، د لته کرار کینه

اوځان ونه خخوې، کله چې اژدها راشي، دمعما پوښتنه به ترې وکړم، هغه ماته هرڅه وایي، ته یې ځواب ته ښه غوږ ونیسه چې څه وایي.» اژدها د شپې په دوولس بجو په هوا کور ته راغی او ډوډۍ یې وغوښته. نیا یې خوراک او چیکاک په میز داسې ترتیب کړل چې اژدها ور ته خوښ شو او دواړو یو ځای ډوډۍ وخوړه. ور پسې بوډۍ د اژدها نه وپوښتل چې ورځ یې څنګه تیره شوه او څو اروا ګانې په لا س ورغلې. اژدها ورته و ویل چې:« نن مې بخت راسره مل نه و، یوازې درې سپایان مې راګیر کړل، ډاډه یم چې د رې واړه زما په واک کې دي.» بوډۍ و ویل چې:« هو ! درې سپایان، دوی له ځان سره یو څه لري، کیدای شي چې درنه وتښتي او ازاد شي.» شیطان په مسخره ور ته و ویل چې.« هغه بالکل زما په واک کې دي، زه دوی ته یوه داسې معما ور کوم چې هیڅکله به یې مانا پیدا نه کړای شي.» بوډۍ ترې وپوښتل چې دا څه ډول معماده؟» شیطان ورته و ویل چې:« درته وایم یې: په لویه شمالي بحیره کې یوه بحري پشه مړه پرته ده، دا به دهغوی کباب وي: او دیوه نهنګ پښتۍ، دا به دهغوی کاشغه وي: او د یوه آس پښه چې منځ یې خالي دی، دا به د دوی د چیکاک ګیلاس وي.» کله چې شیطان ویده شو، زړې نیا یې دتکاوې له سره ډبره پورته کړه او سپایي یې ترې را وبا سه او ویې پوښته چې :« هر څه دې په غور واوریدل؟» هغه وویل چې:« په هرڅه ښه پوه شوم او هیر به یې نه کړم.» تر دې وروسته دی په یوه بله لار پټ له کړکۍ و وت او په بیړه خپلو ملګرو ته ورغی. ده ملګرو ته دا کیسه وکړه چې د شیطان زړې نیا په شیطان څه چل وکړ، ترڅو د معما مانا ورته بیان کړي. اوس نو درې واړه ځوښ او خوشاله شول، دورې ته یې لاس کړ او ګوزارونه یې په وکړل، دومره پیسې را و وتې چې په ټوله مځکه یې هرې خوا ټوپونه وهل. کله چې پوره اوه کاله تیر شول، شیطان دخپل کتاب سره راغی او په کتاب کې یې سپایانو ته د دوی لاسلیکونه وروښود ل اوورته ویې ویل چې:«غواړم تاسې له ځان سره دوزخ ته بوزم، هلته به ډوډۍ خورئ: که راته ومو ویل چې څه ډول کباب به درکړ شي، نوازادي به مو په برخه شي او دوره به هم ستاسې مال پاتې شي. په دې وخت کې لومړی سپایي را پورته شو او ویې ویل چې:« په لویه شمالي بحیره کې یوه بحري پشه مړه پرته ده، دا به کباب وي.» شیطان په غوسه شو او:« هم هم» یې وکړل او بیایې وپوښتل چې:« څه شی به ستاسې کاشغه وي؟» دې بل ورته و ویل چې:« د نهنګ پښتۍ به زموږ دسپینو زرو کاشغې وي.» شیطان له ډیرې غوسې په خپل مخ منګولې ولګولې، درې واره یې « هم هم هم» رمباړې و وهلې او له دریم نه یې وپوښتل چې:« ایا په دې هم پوهیږۍ چې ستاسې ګیلاس به څه شی وي؟» هغه ورته ووی چې:« دآس پښه به زموږ ګیلاس وي.» له دې سره سم په سپایانو دشیطان واک او ځواک پای ته ورسید او په لوړو چیغو والوت. سپایانو ته دوره ور پاتې شوه، دهغې په ګوزارونو یې دومره پیسې پیدا کولې، څومره چې یې غوښتلې او ټول ژ وند یې په عیش اوعشرت تیر کړ.

Ein Märchen der Brüder Grimm

غرڅنی او برېښ

دیوه لوی اوګن ځنګل په منځ ګې یو زوړ قصر ولاړ و، په دې قصرکې یوه زړه ښځه یوازې اوسیده. دا بوډۍ ډېرولو جادوګرانو مشره وه، دې به دورځې په مخ له ځانه پیشو یا شپنی کونګ جوړاوه او دشپې له مخی به بیا دعادي ښځې په څېر شوه. بوډۍ کولی شو چې الوتونکي اونور ژوي په ځان راټول کړي، بیا یې حلالول، پخول اویا به یې کباب کول. څوک به چې تر سلو ګامو پورې قصر ته ورنږدې شو، نو ځای پر ځای به ارام ودرید اوله ځایه خوځیدلی نه شو، ترڅوبه چې بوډۍ ورناره کړه، چې ته ازاد یې. که یوه پاکه او ځوانه جلی به د ښخوا ته ورنږدې شوه، نو له هغې به یې الوتونکۍ جوړکړ، په قفس کې به یې ایساره کړه او په قصر کې به یې د زیرمې کوټې ته یوړه. بوډۍ په قصر کې ددې ډول بیساری الوتونکو اوه زره قفسونه درلودل.

په دې وخت کې یوه ځوانه جلی، چې تر ټولو نورو جونو ښکلی وه او غرڅنی نومیده او یو ترډې لا ښکلی ځوان هلک چې برېښ نومیده، سره کوژده شوی وو. دکوژدې وخت یې و، دواړه یو پربل ګران او یو له بل سره خوشال اونیکمرغه وو. دواړه پخپلو کې درازاو ناز لپاره ګوښې ځنګل ته په چکر لاړل. برېښ غرڅنی ته وویل چې، «پام کوه، قصر ته ډېره ورنږدې نه شې.» یو ښکلی مازدیګر و، دلمر وړانګی دشنه ځنګل په تیاروکې دونو دڅانګو تر منځ ښکاریدې، او کوترو دونو په څوکو دسوز نغمی غږولې.

غرڅنی په ژړا شوه، دلمر دوړانګو لاندې کښیناسته او فریا دونه یې کول. برېښ هم په فریادو شو: دواړه داسی شل شوڼ او حیران پاتې شول، لکه څوک چې دمرګ په حالت کې وی: دوی د ښخوا اوهغې خوا ته وکتل، ګنکس او پریشان ولاړوو، نه پوهیدل چې څرنګ به کور ته لاړشي. نیم لمر لویدلی واو نیم لا دغره په سر ځلیده. برېښ دبوټو ترمنځ وکتل، اوکله یې چې دقصر زاړه دېوالونه، چې ور ته نږدې ول ولیدل، نو په مرګ وډارشو. غرڅنی سندری پیل کړی

«زما الوتونکي دسرې ګوټې سره

دغم سندرې وایي،غم ،غم،غم:

دې خپلې کوترې ته د مرګ سندرې وایي

دغم سندرې وایي، غه ـــ څیکوت، څیکوت، څیکوت.»

بړیځ غرځنۍ ته وکتل. دغرځنی نه بلبله جوړه شوی وه، دې ځیکوت،ځیکوت، نغمی یې غږولې. یود شپې کونګ، دانګار په شان له سرو سترګو سره، د دوی په شاوخوا درې ځله والوت، او درې ځله یې چیغه کړه چې، شو، هو، هو. بړیځ ځان نه شو خوځولی،هلته د ډبرې په څیر ولاړ و، ژړا یې نه شوه کولی، خبرې یې نه شوی کولی، لاس او پښه یې نه شو خوځولی.اوس نو لمر ولوید، کونګ یوه بوټی ته ور والوت، او ور سره سم یوه زړه، په ملا کږه بوډۍ ترې راووته، په ځان خواره اومخ یې زیړو، سترګی یې سرې او غټې وې، پوزه یې دومره کږه وه چې سر یې ترزنې پورې رسیده. دې یوڅه زمزمه کوله، بلبله یې را ونیوله، او په لاس کې یې له دې ځایه یوړه. بړیځ هیڅ نشو ویلی، له ځایه نشو خوځیدلی، اوبوډۍ بلبله ترې یوړه. بالاخره دا بوډۍ بیرته راغله، اوپه بند اواز یې وویل، «سلام، فرښتې، که په ګل کې ملغلره ښکاره شي، فرښتې، دښې راتلونکې په هیله یې ازاد کړه: بړیځ د ښځې په پښو کې ولوید او هیله یې ترې وکړه چې، غرځنۍ یې بیر ته ورکړي، خو بوډۍ ورته وویل چې بیا به یې په سترګو ونه ویني. ده نارې سورې کړې، په ژړا شو، په زاریو شو، خو هیڅ ګټه یې ونه کړه.« آه، ماته به څه راپیښ شي؟» دا یې وویل او ولاړ، او یوه پردي کلي ته ورغی: هلته یې دډیر وخت لپاره دپسونورمه څړوله، ډیر ځله دقصر په شاوخوا راګرځیده، خو ورنږدې کېدای نشو، بالاخره یې یوه شپه خوب ولید چې داسی ګلاب ګل یې موندلی دی چې په منځ کې یې غټه او ښکلی ملغلره پرته ده، کل یې را وشکاوه، اوله ګل سره قصر ته ورغی اوهر شي ته به یې چې ګل ورنږدې کړ، له جادو ازادېده، په خوب یې دا هم ولیدل، چې په دې توګه به خپله غر ځنۍ هم تر لاسه کړی. په سبا یې، کله چې دخوبه رابیدار شو، په غرو اودرو دګل د میند لو په هیله دهغه په لټه کې شو. نه ورځی ورپسې وګرځیده، او دنهمې ورځی په سهار یې داښکلی سور ګل بیا موند، دګل په منځ کې سهارنۍ پرخه پرته وه، چې دملغلرې په شان غټه اوښا یسته وه. ګل یې له ځان سر ه واخیست، شپه او ورځ روان و، ترڅو چې قصر ته ورسید. کله چې قصر ته سل ګامه ورنږدې شو، په ځمکه ونه نښت، مخ په وړاندې تر دروازې پورې ورسید. بړیځ ډیر خوښ شو، ګل یې په دروازې ومښه، دروازه خلاصه شوه. دی قصرته ورننوت، هلته یې غوږکړ، ترڅو دالوتونکو اواز واوري، اواز یې واورید، ولاړاو هغه سالون یې پیدا کړ، چې الوتونکي پکې وو، د لته جادو ګره هم وه، او په دې اوه زره قفسونو کې یې الوتونکو ته دانه ورکوله. دا د بړیځ په لیدو ډیره، اوزښته ډیره په قار شوه، زهر یې په وروښندل، خوده ته ور ونه رسیدل. دې ترې را ونه ګرځید، وړاندې لاړاو دالوتونکو قفسونه یې ولیدل؛ خو په سلګونو بلبلې پکې وې، اوس دې ته حیران و چې څنګه خپله غر ځنۍ پکې پیداکړی؟ قفسونوته دکتو په وخت یې بوډۍ ته پام شو چې یو قفس یې دېوه الوتونکي سره په لاس کې واخیست او ددروازې په لور روانه شوه. بړیځ په ورودانګل، لومړی یې په قفس او ور پسی یې په بوډۍ پوری ګل ومښه. تر دې وروسته بوډۍ نور جادو نشو کولی.غرځنۍ را پاځیده او له بړیځ سره غاړه تر غاړه شوه، دپخواني وخت خوشالي بیرته راوګر ځیده. بړیځ بیا ټول الوتونکي بیرته په ځوانو جونو واړولی، او ور پسی دخپلې غر ځنۍ سره کورته لاړاو ډیر اوږد عمر یې په نیکمرغی کې یو ځای سره تیر کړ.

## ګیدړ او آس

په تیروزمانو کې یوه بزګر یو وفادارآس درلود، خوآس زوړشوی و او نور یې د بزګر خد مت نه شوکولی. بزګر هم نور وابښه نه ورکول او ویل یې چې اوس نوکومه اړتیا نه درته لرم، دا به ستا په ګټه وي، که په ځان کې دومره زور پیدا کړې چې یو مزری دلته راته را ولې. په دې صورت کې به دې له ځان سره و ساتم، اوس ورځه، زما د غوجلې نه و وزه. په دې توګه یې بې وزله آس لرې بیدیا ته وشړه. آس ډیر غمګین واودځنګل په لور روان شو، ترڅو هلته دخرابې هوا نه ځان وساتي. په ځنګل کې د یوه کیدړ سره مخامخ شو. ګیدړ تري وپوښتل چې ځنګه سرځوړند، غمګین او بې کسه دېخوا اوهغې خوا ته ګرځې؟ آس «آخ» کړل او ویې ویل چې حرص او وفا دواړه یو ځای په یوه کورکې نه شي اوسیدلی، ښښتن مې هیر کړل چې په کلونوکلونو مې دهغه خدمتونه وکړل اودا چې زوړشوم، زور مې اوبه شواونور یوې ( قلبه ) نه شم کولی، نو اوس یې وابښه او خواړه را باندې ودرول او له کوره یې وشړلم. ګید ړ ترې وپوښتل چې دراتلونکې په هکله یې هیڅ ډاد در نه کړ؟ آس ور ته و ویل چې ډادګیرنه یې لا بده وه. هغه را ته و ویل چې که په ځان کې دومره زور پیدا کړم چې ده ته یو مزری ورولم، نو بیا مې له ځان سره ساتي، خو دی په دې ښه پوهیږي چې زه دا کار نه شم کولی. ګید ړ ورته و ویل چې زه مرسته در سره کوم. اوس ته د لته پریوزه، پښې وغځوه، ځان مه ځوځوه او د مړي په شان ارام پاتې شه. آس هغه څه کول چې ګیدړ ورته ویل. ګیدړ مزري ته، چې غار یې له دې ځایه ډیر لرې نه و، ورغی او ورته ویې ویل چې هلته یو مړآس پروت دی، راځه را و وزه، هغه غوړاوستا له پاره مناسب خوراک دی. مزری ورسره روان شو او کله چې آس ته ور ورسیدل، ګید ړ مزري ته و ویل چې ته خو پو هیږې داځای ستا کور نه دی، ښه به دا وی چې آس دهغه په لکۍ در پسې وتړم، ته به هغه خپل غارته وځکوې او هلته به یې په ښه خوند او ارامۍ نوش جان کړې. مزري د ګېدړ مشوره خوښه شوه او آس ته داسې نږدې ودریده، ترڅو ګیدړ وکولی شي چې دآس دهغه په لکۍ ور پسې وتړي. مزری ارام ولاړو. ګید ړد آس په لکۍ دمزري پښې ټینګې وتړلې او داسې کلکې ګنډې یې ور وچولې چې مزري په خپل ټول زورهم نه شوې خلاسولی. کله چې ګیدړ خپل کار پای ته ورساوه، نو آس یې په اوږه وټپاوه او ورته ویې ویل چې اوس یې کش کړه، کش کړه. آس ناڅاپه په غورځنګ او په ترپکو شو اومزری یې په ځان پسې وځکا وه. مزری داسې په رمباړو شو چې له ډاره یې په ځنګل کې ټول الوتونکي والوتل. آس دمزري د رمباړو پروا نه کوله، هغه یې له ځنګله په پټیو وځکاوه او دخپل ښښتن کور ته ورساوه. بزګر چې دا ولیدل، دآس په هکله یې په فکرکې ښه بدلون راغی او ورته ویې ویل چې د ځان سره دې ساتم او ښه پالنه به دې کوم. بیایې په رښتیا دمرګ تر شیبې پورې ښه او موړ ساته.

Ein Märchen der Brüder Grimm

## د مــزري تحــفه

ډېر پخوا په يوه لرې پراته هيواد کې يو ډېر هوښيار پاچا حکومت کاوه. دې بادشا داعادت درلود چې هر سهار به يې هغه څوک در بار ته رابلل چې له ده څخه به يې کومه هيله درلوده، يا به يې کومه عريضه ور وړاندې کوله اويابه په کومه بله مامله ورسره غږېده. يوه ورځ په داسې حال کې چې ډېرخلک په دربار کې په رسمي توګه د بادشا په حضورکې سره ټول شوي وو، ناڅاپه يو چا چيغه کړه چې:« هله مرسته وکړئ! مــزری دی!!» ټول ډېر وډارشول، د باغ په لور دروازې ته يې وکتل او هلته يې يوه مزرۍ وليده. خلک له ډاره په زور او ټيله د سالون نه راووتل، يوازې باد شا په خپل تخت ناست پاتې شو او مزرۍ ته يې کتل. بادشا وليده چې مزرۍ يوازې په درو پښو په مځکه ولاړه وه او څلورمه پښه يې په هوا کې خوځوله. بادشا ورو ورو دخپل ځای نه را پورته شو او په ډېر احتياط يې د مزرۍ په لور يو ګام وچت کړ. مزرۍ سر ټيټ کړ اوبادشا پوه شو چې مزري په ده بريد نه کوي. ورو ورو ورنږدې شو، په ورمېږ يې لاس تير کړ او دهغې پښه يې وليده. مزرۍ په يوه اوږده اوتيره اغزي پښه ايښې وه، اغزی يې په پښه ننوتلی و اوبيله پردۍ مرستې يې نه شو را ايستلی. بادشا ورته و ويل چې :« تم شه! له تاسره هم بايد مرسته وشي.» بيايې خپل شخصي ډاکټر ته ناره کړه چې راشي او دمزرۍ دپښې نه اغزی وباسي. ډاکټر راغی، له ډاره يې ټول بدن لړزيد، خو بياهم مجبور وچې دمزرۍ د پښې نه اغزی راوباسي. دعملياتو په بهير کې بادشا دمزرۍ په غوږو کې څه پسپسک کاوه او هغې ته يې تسلي ورکوله. ور پسې ډاکټر په زخم باندې ملهم کېښود. په دې توګه دمزرۍ په زړه کې ورته د دوستۍ احساس پيدا شو. بادشا حپل تاريخ ليکونکی را وغوښت ترڅو دربار ته دمزرۍ راتګ دهيواد د تاريح په کتاب کې ثبت کړي. ځکه چې دا لومړی ځل و چې يوې مزرۍ په شاهانه دربار کې رسمي حضور درلود.

يوه اونۍ وروسته، کله چې دسهار له مخې درباربيا د خلکو نه ډک و، ناڅاپه چيغه شوه چې:« هله مرسته وکړئ! مــزری دی !!» په رښتيا بيا هم يوه مزرۍ د باغ په لور دروازې په وړاندې ولاړه وه. ټول په منډه دباندې وتښتيدل. يوازې بادشا ارام په خپل تخت ناست پاتې شو. ده مزرۍ و پيژندله. هغه دا ځل په څلورو پښو په مځکه ولاړه وه او يوه لويه پاڼه يې په خوله کې نيولې وه. پاڼه يې په مځکه واچوله اود تخم يو څو دانې په کې ښکاره شوي. مزرۍ په خپلو پښو مځکه وکيند له، دتخم دانې يې کتار پکې واچولې، بيايې درې لوړې رمباړې وکړې اوپه خوشالۍ لاړه.

بادشا و ويل چې:« مزرۍ موږ ته تحفه راوړه.» بيايې باغوانان را وغوښتل او ورته ويې ويل چې دا تخم راوباسي اوپه يوه ځانګړي پاليز کې يې وکري. په باغ کې ډېر زر بوټي رازرغونه شول. په لنډ وخت کې لوی شول، لويې پاڼې يې وکړې او ښکلي ګلان يې ونيول. خبره ميوې ته ورسيده، ميوه يې لومړی د آلو بالو د دانې په اندازه وه، بيا دشفتالو او ورپسې د منې په شان غټه شوه، ور پسې دکوچنيانو او لږ څه وروسته دلويانو دسر په اندازه غټه شوه او غټيده او لا پسې غټيده.

دملک ټول خلک وډار شول او پاچا ته ورغلل او ورته ويې ويل چې:« دې مزری موږ ته دا ميوه راوړې ده، دا دمزری ميوه ده، څوک پو هيږي چې په منځ کې يې څه دي؟ کيدای شي چې په منځ کې به يې واړه واړه مزريان وي اوکله چې ميوه پخه شي، مزريان به ترې را ووزي او موږ به ټول وخوري..» بادشا وخندل او ويې ويل چې:« زه گمان نه کوم چې د دې ميوو په منځ کې دې مزري وي.» خو په دې پو هيده چې خلک څوک يوازې په خبرو د ډارنه نه شي ساتلی، نو يې و ويل چې:« سره له دې هم بايد داحتياط نه کارواخلو. موږ به د دې ميوو چار چاپيره لوړ ديوال جوړ کړو. که څه هم زه په دې عقيده نه يم، خو بيا هم که د دې ميوو په منځ کې کوچني کوچني مزريان وي، موږ ته به زيان ونه شي رسولی. وروسته تر دې چې ديوال جوړشو او په هغه کې يې يوه دروازه هم جوړه کړه، بادشا په پټه د دروازې له لارې پاليزه ته ور ننوت. د ميوې نه يې يوه دانه راوشکوله او په خپل خنجر يې ترازې ترازې کړه. په منځ کې يې هيڅ مزری نه و، بلکې پوست يې د ميوې له خوندورې، اوبلنې او خوشبويه غوښنې ډ ک واوداسې زړې هم پکې ووچې د هغو تخمې زړو په شان ښکاريدل کوم چې مزری دځان سره راوړې وو.

باد شا د ميوې يوه ټوټه لومړی يوه خره ته ورکړه چې ويې خوري. خره وخوړه اووخوړه، خوند يې ورکړ اوښه په ولگيده. ورپسې بادشا يوې وزې ته يوڅه ورکړه. وزې هم خوړه ، خوړه اوله له سره نه په مړيده، ترڅو چې د پوست سره يې وخوړه. په پای کې بادشا په خپله وڅکله اوچې دهغې بې سارې مزه يې وليد له، نو له ډيره خونده يې « واو » کړ. بادشا تردې وخته پورې داسې خوندور شی نه وخوړلی. ده درسمي دربار په بله ورځ هر يوه ته چې دربار ته راغوښتل شوی او راغلی و، د دې ميوې يوه ټوټه ورکړه او ويې پوښتل چې:« خوند يې څنگه دی؟» ټولو په يوه خوله ځواب ورکړچې:« اعليحضرته، بې حده اوبې سارې خوندوردی! داڅه شی دی؟»

د دربار په پای کې بادشا يوه وينا وکړه او ويې ويل چې:« هغه څه چې نن مې دڅکلو له پاره درکړل، د( مزری ميوه ) ده، دا دهغې تحفه ده. اوس خو پوه شوو چې په منځ کې يې واړه مزريان نشته. موږ بايد دا ميوې وکرو چې ټول انسانان خوند ترې واخلي. همداسې وشول، په ټولو گرمو هيوادونوکې د دې ميوې کر رواج شو. په اوړې کې يې دلته هم اخيستلی شو.دا هيندوانه ده چې مزری راته راوړې ده.

- **Asien – Vorderasien – Afghanistan**

شاتو مچیو ملکه

یو وخت دوه شهزادگان په ماجرا پسي را و وتل او نا ځاپه په یوه وحشي، د ګډ وډ یو نه ډ کي او بي کلتوره سیمه کي داسي ګیر پاتي شول چي له سره بیا هیڅ کورته را نه غلل. په دي وخت کي تر ټولو کشر شهزاده چي نوم یي« نا پو هک » و، را پا څیده اود خپلو ورونو په لټه کي شوچي په پای کي یي پیداکړل، خو دوی دواړو په خپل کشر ورور ملنډي وهلي او ورته ویل یي چي موږ دواړه چي تر تا ډیر زیات هوښیاراود لوی عقل خاوندان یو، نه شوکولی چي د دي ګډوډۍ او وحشت نه ځانونه خلاس کړو نو ته به په دي کم عقل څه وکړی شي.

دري واړه له دي ځایه روان شول او د میږیو یوه ښارګوټي ته ورسید ل. دواړو مشرانو غوښتل چي دابښارګوټی را وسپړي او وګوري چي دا کوچني میږیان څه رنګه هري خوا ته خوځیږي او خپلي هګۍ له ځان سره وړي؛ خو دي کشر، نا پوهک، ورته و ویل چي:« دا کوچني ژوي مه ځوروی، زه دهغوی ځورول نه شم زغملی!»

بیا دوی له دي ځایه هم روان شول او یوه دریاب ته ورسید ل. په دریاب کي زښتو ډیرو مرغاویو لمبل. دوو مشرانو شهزاد ګانو غوښتل چي یو څو مرغاوی ونیسي او کباب یي کړي؛ خو ناپوهک دوی دي کار ته پری نه ښودل او ور ته ویې ویل چي:« داژوی ارام پریږدی، زه دا نه شم زغملی چي تاسي هغه و وژنی !»

په پای کي دري واړه شهزادګان له دي ځایه هم روان شول او د شاتو مچیو یوه ټمبوسکي سره مخامخ شول، په تمبوسکي کي دومره ډیر شات ول چي کښته د وني په تنه تري راڅڅیدل. دوو مشرانو شهزاد ګانو بیا هم غوښتل چي دوني لاندي اور بل کړي، ترڅو داور لوګی دمچیو سا ایستنه بنده کړي او په دي ډول شات تري تر لاسه کړي!» خو کشر شهزاده دوی بیا هم دي کارته پرې نه ښودل.او ویې ویل چي:« دا ژوي ارام پریږدی، زه دا نه شم زغملی چي څوک یي په اور وسوزه وي!»

بالا خره دري واړه ورونه یوه قصر ته ورسیدل. د قصر په غوجلو کي بې شمیره ډ برین آسان ولاړ وو، خوپه ټول قصر کي هیڅ انسان نه لیدل کیده. دوی په ټولو غوجلو کي وګرځیدل ترڅو چي د قصر په پای کي یوې دروازې ته ورسید ل. دروازې ته دري کولپونه ور اچول شوی وو. د دروازې په منځ کي یوه کوچنۍ کړکۍ وه، له کړکۍ یوه کوټه لیدل کیده، دوی ور وکتل

اویوخړسړوکی یې ولید چې یوه میز ته ناست دی. شهزادګانو یو ځل ورناري کړې، په دوهم ځل یې بیا ورناري کړې، خو هغه نه اوریدې. خو چې په دریم ځل یې ورناري کړې، سړوکی ولاړشو، کولپونه یې واز کړل او د باندې را ووت، هیڅ یې ونه ویل، درې واړه یې د یوه د سترخوان په لور روان کړل چې دخوراک او چیکاک له ډول ډول نعمتونو نه ډک و. د ډوډۍ دخوړلو نه ورسته یې هر یو د خوب ځانګړې کوټې ته ور وست. په بل سهار همدا خړ سړوکی دمشر شهزاده کوټې ته ورغی، اشاره یې ورته وکړه چې راځه! له ځان سره یې روان کړاو د ډبرې دیوې تختې په وړاندې یې ودراوه. په تختې درې دندې لیکل شوې وې چې که څوک درې واړه دندې په بري تر سره کړي نو دا قصر په له جادو ازاد شي. لومړۍ دنده په دې ډول وه: په ځنګل کې تر شینلي لاندې دشهزادګۍ مرغلرې خورې ورې پرتې دي او په شمیر زرداني دي. دا مرغلرې باید ولټول او را ټولې شي، که هغه څوک چې لټوي یې د لمر تر لویدو دمخه ټولې را ټولې نه کړي او له زرو یوه دانه هم کمه وي، نو ډبره به ترې جوړه شي. مشر شهزاده ځنګل ته و وت او ټوله ورځ یې مرغلرې ولټولې، خو یوازې سل دانې یې وموند لې. اوس نو هغه څه وشول چې په ډبرینه تخته لیکل شوي و، له شهزاده ډبره جوړه شوه. په دوهمه ورځ دوهم شهزاده په دې ماجرا لاس پورې کړ، ځو بخت له ده سره هم چندان ملګرتیا ونه کړ او په ټوله ورځ کې یې یوازې دوه سوه مرغلرې پیدا او را ټولې کړې چې په پایله کې له ده څخه هم ډبره جوړه شوه. په پای کې د نا پوهک وار راغی، ده هم په شینلي کې د مرغلرو لټول پیل کړ، خو پیدا کول یې ورته اسان کار نه و، په ډیر وخت کې یې ډ یر لږ پرمختګ کاوه، له کاره یې لاس واخیست، په یوه تیږه کیناست اوژړیده. په دې وخت کې د هغه میږیانو بادشاد پنځوزرو میږیانو سره راغی چې ده له مرګه بچ کړي وو او په لنډ وخت کې یې مرغلرې یوه په بله پسې پیدا او په یوه ځای کې را ټولې کړې.

دوهمه دنده دا وه چې د دریاب نه دشهزادګۍ د خوب کوټې د کولپ کیلي راوباسي. کله چې ناپوهک دریاب ته ورسید، هغه مرغابې په لامبو ورته راغلې چې ده له مرګه بچ کړې وې. مرغابۍ د دریاب تل ته په لا مبو شوې او له هغه ځای څخه یې کونجي ور ته را پورته کړه. دریمه او تر ټولو سخته دنده داوه چې: د بادشاپه دې دریو شهزادګیو کې دې ترټولو کشره او مینه ناکه شهزادګۍ وپیژندل او په نښه شي. درې واړه شهزاد ګۍ سره یو شان ښکاریدې، له یوې بلې سره برابرې وې اوپه دوی کې هیڅ توپیر نه لیدل کیده. یوازې دا توپیر و چې یوې خور یې له ویده کیده د مخه لږ څه شکره وخوړه، دوهمې یې یوڅه شربت وچیکه اوتر ټولو کشرې یې یوه کاشغه شات وخوړ. په دې وخت کې د شاتوهغه مچیو ملیکه راغله چې نا پوهک له اوره ساتلې وې. دا د درې واړو شهزادګیو په خولې وګرځیده او په پای کې د کشرې شهزاد ګۍ په خوله چې شات یې خوړلي وو کیناسته. کشر شهزاده په دې ډول کشره شهزادګۍ وپیژنده.

ورسره سم جادو هم مات شو او ټول د جادو له خوبه رابیدار شول. له هغه چا چې ډ برې جوړې شوې وې، بیرته یې خپل انساني صورت تر لاسه کړ. ناپوهک دکشرې او تر ټولو مینه ناکې شهزاد ګۍ سره واده وکړ او د بادشا د مرګ نه وروسته بادشاشو اودواړو ورونو یې د نورو دوو شهزاد ګیو سره وادونه وکړل.

Ein Märchen der Brüder Grimm

## ځلور ملګري

يو وخت په يوه واړه کلي کې ځلور ملګري اوسيد ل. دوی په خپلو کې له وړوکتوبه يوه بل ته نږدې او خواږه ملګري وو، نو ځکه يې ډير وخت يو ځای سره تيراوه. د دې ځلورو نه درې ملګري يې په خپله پوهه ډير مغرور وو. دوی په بيلابيلو پوهنيزو څانګو کې زده کړې کړې وې اوفکر يې کاوه چې په هر څه پوهيږي. ځلورم ملګري يې چې ګوپال نوميده، دومره ډير کتابونه وو لوستلي، خو هغه يو بل ځانګړی خصوصيت درلود. دی په ورځنيو چارو کې دښې پوهې خاوند و. يوه ورځ ځلور واړو ملګرو د خپلې راتلونکې په باره کې بحث او خبرې اترې کولې. لومړي ملګري يې و ويل چې:« موږ بايد نړۍ ته دخپلې پوهې او قابليت ارزښت ور ښکاره کړو تر څو چې له دې لارې يو څه پيسې وګټو.» دوهم ملګري يې وويل چې:« په دې وچ او ستومانوونکي کلي کې پاتې کيدل کومه ګټه نه لري، موږ بايد نورو هيوادونوته ولاړ شواو هلته هغه مشهور اومعتبر خلک وپيژنو چې، د دوی سختو او له معما ډکو پوښتنوته د ځواب ور کولو په صورت کې، ښې پيسې راکړي.» دريم يې د دوو نورو خبرې ومنلې او ويې ويل چې:« دا ښه فکر دې، کيدای شي چې بادشا به مو هم وپيژني.»

خو لومړي ملګري ګوپال ته مخ واړوه، ورته ويې کتل او بيايې و ويل چې:« تر هغه چې په دې ډول ناپوه او بې تعليمه انسان زموږ سره وې، نو څنګه کولی شو چې ځانونه هوښياران او د لوړو زده کړو خاوندان وښيو، زما وړانديز دادی چې هغه به په دې ځای کې پريږدو.» دوهم ملګري و ويل چې داسمه ده! هغه به زموږ چانس له ګواښ سره مخامخ کړي، له ځان سره بيول يې هيڅ ګټه نه لري.» خو دريم ملګري يې د نورو دوو په نيت نيوکه وکړه او ويې ويل چې:« موږ بايد دا کار ونه کړو، موږ خو په خپلو کې ښه ملګري يو، بايد هغه له ځان سره بوزو.» په بله ورځ ځلورواړه روان شول، دوی په ځنګل کې روان وو چې ناڅاپه د لومړي ملګري پښه دمړشوي ژوي د وچ هډ وکي په شان له يوه شي سره ولګيده اونږدې و چې په مځکه ولويږي. ده خپلو ملګرو ته په ډ ير غرور و ويل چې:« تم شی! دا زموږ د پوهې دازمويلو تر ټولو ښه چانس دی. راځی چې دا هډ وکی راژوندی کړو! زه د خپلې پراخې او ژورې پوهې له مخې په دې پوهيږم چې هډ وکي په څه ډول د بد ن په شان بند په بند ترتيب کيد لی شي.»

دوهم ملګري په بيړه و ويل چې:« زه به يې پوست ، غوښه او وينه ورته پيدا کړم.» او دريم وويل چې:« زه يوازې هغه څوک يم چې بدن ته يې سا ورکولی شم.» په دې ډول يې لومړي ملګري دهډ وکو نه سکليټ ( بد ن ) جوړ کړ، دوهم يې پوست، غوښه او وينه ورجوړ کړل، خو کله چې دريم ملګري يې ژوی را ژوندی کاوه، ګوپال ور ناره کړه چې:« ای هوښيارانو تم شی، ايا پوهيږی چې په څه لګيا ياست؟ دا ژوی چې تاسې يې را ژوندی کوی، يو مزری دی او مزری بايد را ژوندی نه کړی.» خو دريم ملګري ورته و ويل چې ولې نه، زه همدا مزری راژوندی کوم اوزه يې ژوندی کولی شم.» ده د ګوپال نظرته کوم ارزښت ورنه کړ. ګوپال ورته و ويل چې:« داسې وي نو لږ صبر وکړي.»دی يوې لويې ونې ته ور پورته شو. دريم ملګري جادو پيل کړ، « جنتر منتر،را پاڅيږه ای مزريه !» يې و ويل. مزری وخوځيد او دا ډاروونکۍ ژوی ژوندی شو. ملګرو دخوشالۍ چيغې پورته کړې ، په دې وخت کې مزری په رمباړو شواو په دوی يې ور ودانګل. ډار شوو ملګرو هيڅ فکر نه کاوه چې داسې پيښه به را منځ ته کيږي. مزري ور پسې منډې وهلې او دوی ترې په ترپکو تيت او پرک شول. ګوپال دا پيښه وليده، وډارشو او څه شيبه وروسته د ونې نه راکوز شو. دی هلته تم پاتې شو تر څو چې ملګري يې راشي. په دې بله ورځ يې ملګري ستړي ستومان بيرته راغلل، دګوپال نه يې بخنه وغوښته او ډاډ يې ورکړ چې په راتلونکې کې به د ده مشورې ته دراناوی کوي.

*Bina Ghosh, Kalkutta, Indien*

## ګیدړ اوپشه

د خدای کارونه وو چې یوه ورځ په یوه ځنګل کې یوه پشه د ښاغلي ګیدړ سره مخامخ شوه. پشې فکر کاوه چې:« ښاغلی ګیدړ خوډیر هوښیار دی، ښې تجروبې لري او په ټوله د نیا کې مشهور دی.» نو ځکه یې په ډ یر درانا وي ور ته وویل چې.« ګرانه ګیدړه سلام! ښنګه یاست؟ څه حال لری؟ تاسې دا خپل قیمتي وخت ښنګه تیروی؟ ګیدړ، په ډیر غرور اوتکبر، پشې ته له سره تر لکۍ پورې ولیدل او په دې فکر کې و چې ځواب ور کړي او که نه. خو اخر په خبرو راغی او ویې ویل چې:« ای ته بې وسه، بې وزله بریتورې، ته احمقه برګۍ، ته وږې موږک خورې، ستا په فکر کې څه ګرځي؟ ته څه کاره یې چې له ما پوښتنه کوې چې زه ښنګه یم؟ را ته ووایه چې تا څه زده کړي دي؟ په کومو هنرونو پوهیږې؟ پشې په عا جزې ورته وویل چې.« زه یوازې په یوه شي پوهیږم.» ګید ړ و پوښتل چې:« داکوم هنر دی چې ته په پوهیږې؟ پشې وویل چې یوازې دا هنر مې زده کړی دي چې:« کله چې سپي را پسې منډه کړې، نوزه ونې ته ټوپ اچولی شم او ځان ترې خلا صولی شم.» ګیدړ ترې وپوښتل چې.« دا ټول هغه څه دي چې تا زده کړي دي؟ ما ته وګوره چې په سلو هنرونو مسلط یم او سربیره پرد ې یو د چالاکیو نه ډ ک جوال هم لرم. زه ستا په حالت افسوس کوم. راځه چې زه یې در زده کړم چې یوه پشه باید دسپي نه ښنګه ځان ازاد کړي.» په دې شیبه کې یو ښکاري راغی چې څلور سپي ورسره وو. پشې په بیړه ونې ته ټاپ کړ، او دونې په سرکې یې ځان په شاخونو او پاڼو کې پټ کړ. دې په ګیدړغږ وکړچې:« ښالیه ګید ړه! دجوال خوله خلاصه کړه، دجوال خوله خلاصه کړه.» خو سپي ترې را چاپیر شول او ګید ړ یې په منځ کې بند پا تې شو. پشې بیا ورناره کړه چې:« ای ښاغلیه ګیدړه ! د دې سلو هنرونو سره سره بیا هم بند پا تې شوې. که چیرې زما په شان په ونه ختلی شوای، نو اوس به د دې برخلیک سره نه مخا مخ کیدې. پای

## وړوکی ګید ړ

یو وخت یو وړوکی کیدړ په یوه ځنګل کې اوسیده اود ځنګل نورو اوسیدونکو به دا کوچنی ګیدړ « وړوکی » باله. دوی د دې ګیدړ له پاره ځکه دا نوم خوښ کړچې په رښتیا ډیروړوکی و. د ده دښوونځي نورو زده کوونکو به تل په هغه پورې خند ل او ډیر به یې ځوراوه، ځکه چې نه یې د نورو په شان تیزې منډې وهلی شوې او نه یې لوړ ټا پونه وهلی شول. که څه هم ډ یرې هڅې او تمر ینونه یې کول، خوسره له دې یې هم په دې لنډ و لنګیواو ورنو نه تیزې منډې وهلی او نه یې لوړ ټو پونه اچولی شول. د دې له پاره چې « وړوکی » دنورود مسخرو او ځورونونه یو څه ځان وساتې، نو ډ یر وخت به یوازې په ځنګل کې ګرځیده او کتنې او پلټنې به یې کولې. یوه ورځ، کله چې وړوکی هسې په ځنګل کې په چکر لګیاو، ژویو یوه لویه ګله یې ولیده چې په یو څه را ټول شوي وو. وړوکی نه پو هیده چې دا ژوي دڅه دپاره هلته راټول شوي دي، نوغلی او په ارامې د ګلې په لور ور وخوځیده اود « ډبل کونګ مور» یې ولیده او ده ته دا نارې وهي چې:« وړوکیه دلته راشه! زما ډ بل بچی په ونه کې د ځالې نه په دې ټنګ اوژور سور ي کې را ولوید. اوس هلته بند پا تې دی ، ترې را وتلی نه شي، د ځنګل نورټول ژوي دومره لوی دي چې په سوري ور ننوتلی نه شي، ترڅو زما زوی را وباسي. وړوکی بېله دې چې غاښ څېلې بهانه کړي، سم دلاسه په هغه سوري ورننوت چې دکونګې ډ بلګنکی زوی په کې بند پا تې و. کله چې د کونګې زوی ته ور ورسیده، په ډیر احتیات یې له ښکو په خپله خوله کې ونیو او له هغه سره له سوري په شا راوخوځیده او ترې را ووت. کله چې وړوکی دکونګې زوی سره له سوري را ووت، دځنګل ټولو را ټول شوو ژویو یې په چک چکو هرکلی وکړ آو په دې ډیر خوښ شول چې د کونګې زوی وساتل او ازادشو. کونګې دوړوکي ګیدړ نه د زړه له کومې مننه وکړه اوبلنه یې ورکړه چې د دې د زوی سره یو ځای لوبې وکړي. له دې ورځې راپه دې خوا بیا دځنګل هیڅ ژوې کوچنی ګیډل ونه ځورا وه، ځکه ده په خپل همت وپوهول چې کوچني ژوي هم لویې چارې تر سره کولی شي.

verfasst und gestaltet von Franziska Bich

## مزری اوموږک

په ډ یرو پخوانیو وختو کې، په تیرو څنډ نو زمانو کې، هلته په ګڼ تیاره ځنګل کې، د د نګو هسکو غرونو په لمن کې یو عټ غونډې مزری اوسیده. د ځنګل په ټولو چارپایو، په کوچنیو اوغټانو، په پیلانو او پړانګانو، په لیوانو ګیدړانو، پیشوګانو موږکانو، په دې ټولو زور ور و، له هیچا نه ډاریده.

د ځنګل خو دا قانون او دا یې لار دی، چې زورور او په ټولو بر، هم حقدار دی، هم سردار دی. نو ځکه دا مزری هم په دې ځنګل کې د ټولو ځلور پښیو شهریار دی. دورځو نه یوه ورځ داشهریار په خپل دربار کې، د لوړغره تر څنګه په یوه غارکې، په خواږه خوب ویده پروت و، رنګا رنګ ښکلي خوبونه یې لیدل، خوشالۍ وې ترې چاپیره او غمونه یې هیرول.

د غار په شاوخوا کې یوه ګله مست موږکان هم اوسید ل، چې تل د یخوا او ایخواته ګرځیدل، هیڅ کرار نه کښیناستل، لوبې یې کولې منډې ترپې یې وهلې. یو موږک دغار تر څنګ په یوه پرخه وخاته، خو پښه یې وښوئید له، په مځکه ولویده او مزری پسې راویښ شو په منګول کې یې ونیوه.

موږک د مزري په منګول کې چې راګیرشو، په ژړاشواو په ویر شو، بیایې ناره کړه چې ای د دې ځنګل سرداره، د زور اوزړه خاونده شهریاره! زه یو بې وزله، کمزوری او کوچنی موږک یم، ستا رعیت یم، نه یاغي یم، نه باغي یم او نه زه دومره احمق یم چې به ستا سپکاوی وکړم. زه د لته په دې پرخه وختمه، پښه مې وښوئید له، ستا تر څنګه ولویدمه. زه پوهیږم چې ته زور لرې بې شانه، هم دې زړه دی مهربانه، بخښنه راته وکړه، ژوند مې مه اخله له مانه، په دې مهر مې زړه ښاد کړه، له منګولې مې ازاد کړه. موږک خپل خبرو ته د وام ورکړ او مزري ته یې وویل چې مرګ مې تاته هیڅ ډول ګټه نه د رسوي، خو که ژوندی پاتې شم نو تل به دې منتباروم، او تل به ستا خدمت اومرستې تیار وم.

مزري د موږک سره سمه ځوانمردي وکړه اوهغه یې ازاد کړ، خو له ځان سره یې وویل چې:« وبه ګورو چې په څه ډول یوکوچنی اوکمزوری موږک د یوه کلک او ځواکمن مزري منند وی کیدلی شي او د ځنګل له پاچا سره څنګه او کوم ډول مرسته کولی شي.» ډ یر وخت لا نه و تیر شوی کله چې موږک د ورځې په سهر کې، په همدې ګڼ او تور ځنګل کې دونو زړي او میوې لټولې راټولولې، له غمه ډکې لوړې رمباړې یې واوریدلې. موږک پوه شو چې دا خو هغه مزری دی چې له خوبه مې بیدار کړ، په منګول یې ونیولم، خو ځوانمرد و، زریې ازاد کړم او ویې بخښلم. اوس داسې راته ښکاري چې په کوم جنجال کې دی ښکیل شوی او ځان نه شي ترې ایستلی. په بیړه لاس په چار شو، روان په هغه لار شوچې رمباړې ترې راتللې، په ځغاسته او په ټا پو شو، منډې ترپې یې وهلې. کله چې دپیښې ځای ته ورسید، نو ګوري چې مزری په یوه جال کې راګیر شوی نغښتل شوی اودا سې بند پاتې شوی دی چې ځان ترې را ایستلی نه شي او د جال کلک اومحکم مزي په خپلو منګولوغوځولی نه شي اودا د زور ځواک پاچا اوس له ځان سره هیڅ مرسته کولی نه شي. موږک ور غږ کړ چې ای د دې تور او ګڼ ځنګل پاچا زما اشنا، ای د زور او ځواک خاونده شهریاره زمایاره، یم راغلی د دې پاره، چې د دې جال د جنجالونه دې ازاد کړم، دغمونو اورنځو نو نه د ې خلاص کړم او د ر ښکاره به خپل اخلاص کړم. بیا یې زر خپل کار پیل کړ، په وړو تیزو غا ښونو یې د جال مزي ژو ول او غوځول او په لنډ وخت کې یې د جال د یوې برخې مزي داسې غوڅ او ذ رې ذ رې کړل، چې د مزري مخکنۍ منګولې ازادې شوې. مزري بیا په خپلو منګولو جال څیري کړ او ترې را و وت. په دې توګه غټ او ځواکمن مزری د واړه او کمزوري موږک په مرسته ازاد شو.

## هغه پښ چې موزې يې په پښو وې

يوه ژرند يګړي درې زامن، يوه ژرنده، يو خر او يو پښ درلود؛ زامنو به يې ژرنده څرخوله، خره به غلې داني راوړې اواوړه به يې له ژرندې بيرته وړل او پښ به په ژرنده کې موږکان نيول. کله چې ژرند ېګړی مړ شو، نو مېراث يې درى واړوزامنوپه خپل منځکې سره وويش، مشرزوی ژرنده تر لاسه کړه، دوهم زوی يې خراو دريم ته نور څه پاتې نشول پښ يې په برخه ورسيد. نوځکه ډير خواشينى واو له ځان سره يې وويل چې،«ما ته خو ترټولو خراب شی را په برخه شو، مشر ورور به مې ژرنده څرخوي، دوهم ورور به مې په خره سپور ګرځي، اوزه به په دې پښ څه وکـړم؟ ښه به داوي چې ځان ته دده له پوسته يوه جوړه لاس مغان جوړکړم، نور نوخبره تروخت تيره ده.» پښ چې په ټول هغه څه پوه شو، چې دژرند يګړي کشر زوی وويل، نوناره يې کړه،« واوره! ته دې ته اړ نه يې، چې ما ووژنې او له پوسته مې ځان ته د پوستکې يوه جوړه خراب لاس مغان جوړکړې، ما ته د يوې جوړې موزو دجوړولو پته وکړه، تر څو دباندې ووتلى شم، او دخلکو په منځ کې ځان ښکاره کړم، دا کار به بيا په خپل وارله تا سره مرسته وکړي.» د ژرندېګړی زوی دې ته حيران شو، چې پښ داسې خبرى وکړې، خو داچې په دې وخت کې يو موچې پرلار تيريده، نو ور ناره يې کړه، له ځان سره يې ننباسه، او د پښ دپښو په اندازه يې يوه جوړې موزې په جوړې کړې. کله چې وزګار شول، پښ موزې په پښو کړې، يوجوال يې راواخيست، دهغه تل يې له دانو ډک کړ، او په سر يې د تار مزی ور پورې کړ، چې جوال په راکښ کېد لی شو، بيا يې جوال پر شا واچوه او په دوو پښو روا ن شو، دانسان په څير، له دروازی ووت. داوخت په هيواد کې يوه پاچا حکومت کاوه، چې د زرکو له غوښو سره ډيره جوړه وه: خو ستونځه داوه، چې هيڅ په لاس نه ورتللی، هسی خو ټول ځنګل تری ډک و، خو له خطره دومره ويريدې، چې دهيڅ ښکاری په لاس نه ورتلی. پښ په دې پو هيده او د ښه ـ چل ـ په فکر کې و؛ کله چې دی ځنګل ته لاړ شو، دجوال ـ خوله ـ يې خلاسه کړه، دانې يې خوری وری کړې، مزی يې په واښوکې واچوه او د کتاری تر شايې ايخوا وغځاوه، هلته يې ځان هم پټ کړ، غلچکې شواو کمېن يې ونيو. زرکوپه بيره ور منډی کړې، دانې يې بيامونديې اويو په بل پسې يې په جوال کې مښوکې وهل پيل کړل، کله چې يو ښه شمېر جوال ته ور دننه شوی، پښ مزی راکښ کړ، ور منډه يې کړه او ورمېږونه يې ورتاو کړل؛ بيا يې جوال په شا کړ او نيغ په نيغه دپاچا دقصر په لور روان شو.سا تونکې ناره کړه:«ودريږه! چړ ته ځې.» پښ لندځواب ورکړ،«پاچا ته.» ـ «ته ليونی يې، يوپښ وپاچاته ؟» يوه بل ورته وويل،«پريږده چې لاړ شی، ډير ځله د پاچا زړه له بيکاری تنګ وی، کېدای شی چې پښ يې په غوريدا او چټياتو خوشاله کړې.» کله چې پښ د پاچا حضور ته ورغی، په ډير درناوی يې وويل:«زما خاوند، نواب، دلته يې يواوړد او ددرناوی وړنوم واخيست، تاسی معظم پاچاته دزړه له کومې اطاعت او درناوی کوی، اودا زرکې يې درته رالېږلی دې، چې ده په لومه ـ دام ـ کې نيولی وی،»پاچا دې ښکلو او څربو زرکو ته حيران پا تی شو، له خوشالی په ځان نه پو هيده، او پښ ته يې امر وکړ چې له خزانی په جوال کې دومره سره زر واچوه چې وړلی يې شی:«دابه دې خاوند ته ور وړی او زما له خوا به دده دډالی له پاره ډيره مننه تر ی وکړې.»

دژرندېګړی زوی په کور کې د کړکی تر څنګ ناست و، سريې پر لاس تکېه کړی او په دې سوچ کې ډوب و، چې وروستی شته يې د پش په موزو ولګول، او هغه به ددې په بدل کې څه ورته راوړلی شی؟ په دې وخت کې پش را ننوت، جوال يې له شا را وغورځاوه، خوله يې خلاسه کړه او سره زر يې دژرندېګړی په وړاندې ترې راتوی کړل:«دادې دموزو په بدل کې دې يو څه تر لاسه کړل، پاچا هم سلا مونه درته وايي او ډېره مننه درنه کوی.» ژرندېګړی دې شتمنی ته خوښ و، بيله دې چې پوه شی، چې دا پيښه په څه ډول وشوه. خو پش د موزو دايستلو په وخت کې هر څه ورته بيان کړل، بيا يې وويل:«ته اوس پوره پيسی لری، خو دايې بايد پای نه وی، زه سبا ته بيا خپلی موزې په پښو کوم، ته بايد لا نورهم شتمن شی، ما پاچا ته وويل، چې ته يو نواب يې.»پش بله ورځ، لکه څنګه چې يې ويلی و، موزې په پښوکړې او بيا په ښکار پسی لاړشو، پاچا ته يې پريمانه ښکار راوړ، هره ورځ په دې ډول تيريده، او پش هره ورځ سره زر کور ته راوړل، دا پش يوازنی کس و چې پر پاچا دومره ګران شو، چې په قصرکې ازاد، هر چېرى يې چې زړه غوښتل، تلی ـ او راتلی شو. يو ځل پش دپاچا په پخلنځی کې دداش تر څنګ ولاړ واو ځان يې تودا وه، چې په دې وخت کې ګاډيوان راغی او کنځلی يې کولی، «خدای دې وکړې چې پاچا او شهزادګی دجلاد په لاس ورشی! ما غوښتل چې رستورانت ته لاړشم او يو ځل يوڅه وچښم او دېرو لوبه وکړم، خو مجبور يم چې دوی بحری ته په چکر بوزم.» کله چې پش دا واوريد، په چالاکې کورته لاړ او ښتن ته يې وويل: «که ته غواړی چې يو نواب او بډای شی، نو راځه زماسره له کوره بحری ته راووزه او پکې ولامبه.» ژرندېګړی نه پوهيده، چې په دې هکله څه ووايي، خو دپش يې ومنل او ور سره روان شو، جامې يې وايستلی، لوڅ لغړ شو او اوبو ته يې ور ودانګل. پش دده جامې راواخيستی، چرته لری يې يوړی او په پټ ځای کې يې کېښودې، له دې کاره لا سم نه و وزګار شوی، چې پاچا په ګاډی کې راغی؛ ورسره سم پش په لوړآواز زړه سوزونکې چېغی او زاری پيل کړې: « آخ! تر هر چا مهربانه پاچا! دا زما خاوند، دې په بحری کې لمبيده، چې يوغل راغی او د ده جامې يې چې، دوچې په څنډه يې کېښودلې وی، غلا کړې، اوس ښاغلې نواب په اوبو کې دی او نشي را وتلی، که ډېر پکې پا تی شی، نوساړه به يې ووهی اومړ به شی.» پاچاچې دا واوريد، د دريدو امر يې وکړ او دخپلو سړيوڅخه يې يو تن بيرته ولېږه، چې دپاچا له جامو نه يوجوړ راوړې. اوس نو ښاغلې نواب تر ټولو ښکلی جامې واغوستی، او داچې په پاچاپه دې سبب هم ګران و، چې په ګمان يې زرکې دده له خوا ورته ډالی کېدې، نو په ګاډی کې يې له ځان سره کښيناوه. شهزادګی هم په دې کار خوابدې نه شوه، ځکه نواب ځوان اوښکلی و، او د دې سم دم خوښ شو. پش تر دوی دمخه ولاړا ويوه څرځای ته ورسيد، چرته چې تر

سلو زياتو خلكو وابنه ريبل. پش تر ی وپوښتل چې:«ای خلکو ! دا دچا څرځای دې؟» دوی وويل، «د لوی جادوګر.» پش وويل: « واوری، اوس به دې ځای ته پاچا راشی، که يې وپوښتل، چې داد چا څرځای دې، نو ورته ووايې چې د نواب دې؛ که داسې ونه کړې نو پاچا به مو په وهلو وهلو ووژنی.» تر دې وروسته پش نور هم وړاندې لاړ او د کرنې پراخی ځمکې ته ورسيد، چې دهيچا له نظره نه وه وتلې، هلته تر دوو سوو زيات خلک لګيا وو او لو يې کاوه. پش بيا پوښتنه وکړه چې: « ای خلکو، داغلې دانې دچا دې؟» ــ خلکو ځواب ورکړه چې: « دجادوګر.» پش دوی ته هم وويل چې: «واوری، اوس پاچا له دې ځايه تيريږی، که وپوښتی چې دا دانې دچادې، نوتاسی ځواب ورکړې چې دنواب دې؛ او که داسې ونه کړی په وهلوبه ووژل شی.» ـ پش بلاخره يوه ښکلی ځنګل ته ورسيد، هلته تر درو سوو زيات خلک لګيا وو، دځيری لويې ونی يې ړنګولی او لرګي کولې. ــ پش وپوښتل چې: «ای خلکو، دا ځنګل دچا دې ؟» ــ دوی ورته وويل چې: « د جادوګر.» ــ پش دوی ته هم و ويل چې: « غوږ ونيسی، همدااوس پاچا دلته راځی، که وپوښتی چې دا ځنګل دچا دې، ځواب ورکړی: چې دنواب دې؛ او که داسې ونه کړی، نو ټول به ووژل شی.» پش نور هم وړاندې لاړ، خلکو ترشا پسی کتل، ځکه دې حيرانونکې ښکاريده، اودا چې موزې يې په پښو دانسان په شان روان و، خلک تری وډار شول. دی ژر د جادو ګر قصر ته ورسيد، په ډار ورننوت اوپه مخکې يې ودريد. جادوګر دحقارت په سترګه ور وکتل او ويې پوښته چې څه غواړی. پش دده احترم په ځای کړ او بيا يې وويل:« اوريدلی مې دي چې ته له ځانه هر هغه ژوی جوړولی شی چې زړه دې وغواړی، که سپی وی، ګيدړ اوکه ليوه وی، په دې زه هم باور لرم، خو له ځانه فيل جوړول راته له سره ناممکن ښکاری، نوځکه راغلم چې دا په ستر ګو ووينم او يقين تر لاسه کړم.» جادوګر په وياړ وويل چې:« دا راته يو کوچنی شی دې»، او په همدې شيبی کې فيل تری جوړشو. پش ورته و ويل چې: « دا خوډ يراوډ ير لوی کار دې، خو آيا يو زمری هم له ځانه جوړولی شې ؟» ــ جادو ګر وويل چې،« دا هم راته هيڅ نه دي »، ور سره سم دپش په وړاندې يوز مری ودريد. پش ځان په ډار واچوه او ناره يې کړه:« دا دباور او منلو وړ نه دې، داسې څه مې په خوب او خيال کې هم نه دې ليدلی.، خو تر ټولو او تر هر څه لويه ـ حيرانتيا ـ به داوي، چې که ته له ځانه يو کوچنی حيوان، لکه موږک، جوړکړای شی، ښکاره ده چې ته دنړی دبل هر جادو ګرپرتله ډير څه کولی شی، خو دا کار به ستا له وسه يوڅه لوړ وی.» جا دو ګر، چې خوږو ستاينو خوښ اونرم کړ، وويل چې:« هو ! ګرانه پشکه، داهم کولی شم.» او دموږک په څيريې په کوټه کې هره خوا ټوپونه پيل کړل. پش ور پسی شو په يوه ټوپ يې را ونيو او ويې خوړ. پاچاد نواب او شهزادګی سره چکر ته دوام ورکړ،اولوی څر ځای ته راورسيد، ده وپوښتل:«دا وابنه دچا دې ؟» لکه څنګه چې پش امر ورته کړې و، ټولو په يوه خوله وويل چې :« د ښاغلې نواب دې.» پاچا وويل چې:« تاسو،ښاغلې نواب، دلته يوه ښه ښکلی ټوټه ځمکه لری.» تردې وروسته دغلې پراخی ځمکې ته ورغلل.« ای خلکو ! داغلې دچا دې» ـ « دښاغلې نواب دې.» ــ « ای! ښاغلېه نوابه! پراخی،ښکلی ځمکې!» ور پسې ځنګل ته راورسيدل اوپاچا بيا وپوښتل: « ای خلکو! دا لرګي دچادي » ځلکو په يوه خوله وويل چې. « دنواب » پاچا نور هم حيران شو اوويې ويل:« ښاغلې نواب! تاسی يو ډير شتمن سړی ياست، باور نه کوم چې زه دې داسې ښکلی ځنګل ولرم.» بلاخره قصر ته را ور سيدل، پش پاس په زينه ولاړ و، کله چې ګاډۍ ښکته ودريده راټوپ يې کړ، دروازه يې خلاصه کړه او ويې ويل:« عاليقدر پاچا، تاسی زما د خاوند قصر ته راورسيدې، داوياړ به نواب دده په ټول ژوند کې نيکمرغه کړې.» پاچا را کوز شو او دې ښکلی ودانې ته، چې څه ناڅه دده تر قصر لويه او ښکلی وه، حيران پاتی شو.، نواب شهزاد ګی په زينه دسالون په لور روانه کړه، چې پکې سره زراو اصلی قيمتی ډبری ځليدې. شهزادګی نواب ته په نامه شوه، او کله چې پاچا مړشو، دې پاچا شو، او دموزو پش يې لومړی وزير.

## هوښيارخان دبخت په ځپو کې

هوښيارخان د خپل بادار سره ۷ کاله کار وکړ، نو يوه ورځ يې ورته وويل: « باداره! تاسره زماد نو کرۍ وخت پوره شوی دی، اوس غواړم چې بيرته خپل کور او مور ته ولاړشم. ما ته زمامعاش راکړه.» مالک ورته وويل چې:« تا زما سره په رښتيا او په اخلاص کار وکړ. ځنګه چې کار هغسې معاش.» بيايې نوکرته د سرو زرو يو غټ غونداری ورکړ، چې د هوښيارخان د سر په شان غټ و. هوښيارخان د جيب څخه دسمال راوايست او د زرو غونداری يې پکې وپيچې، پرا وږه يې کښيښود او د کور په لور روان شو. دې ګام په ګام روان و چې په مست آس سپور تازه او خوشال سړی يې تر نظر تيرشو .هوښيارخان په جګ اوازوويل:« آخ، دآس سپرلی څه ښه شی دی ، په آس سپور دسپرلۍ نه داسې خوند اخلي، لکه چې په چوکۍ ناست وي، پښې يې د ډبرو سره نه موښلي، بوټونه يې نه زړيږی او هيڅ نه پوهيږی چې ځنګه وړاندې روان دی.» پر آس سپاره چې دا خبره واوريده نو ودريداوور ږغ يې کړ:« ای هوښيارخانه! دا ته ولې پيا ده روان يې؟» هوښيارخان په ځواب کې ورته وويل، « آخ، زه مجبور يم چې دا غونداری ترکوره ورسوم، دا خو سره زر دي، زه د ده له لاسه خپل سرسم سيده نه شم نيولی اواوږې مې هم ترې خوږيږی.» پر آس سپور سړی ودريداو هوښيارخان ته يې وويل:« ته پوهيږې چې څه؟ موږ به دا خپل شته سره بدل کړو. زه به داخپل آس و تا ته درکړم اوته دې خپل غونداری ما ته راکړه.» هوښيارخان ورته وويل چې:« داکار به د زړه له کومې وکړم، خو داهم بايد تا ته ووايم چې ته بايد دغه د زروغونداری پرخپلوا وږو يوسې.» د آس ځغلونکی راکښته شو، سره زر يې واخيستل، او د هوښيارخان سره يې پر آس باندې د سپريدو په وخت کې مرسته وکړه، جلب يې ټينګ په لاس کې ورکړ او ورته ويې ويل چې:« که وغواړې چې ښې خوا ته وګرزې، نو ته بايد په ژبه په ټيټ اواز هوپ، هوپ وکړې.» د هوښيارخان روح خوشال اوتازه شو، دی په آس سپور او په ارامې ترې روان شو. خو څه وخت وروسته په دې فکر کې شوچې آس يې بايد يو څه نور هم چټک شی، نو دهوپ، هوپ ناره يې پورته کړه. آس دومره تيز شو، چې هوښيارخان يې، مخکې تردې چې خپلې تيروتنې ته يې پام شی، په هغه کنده کې راوغورځاوه، چې دسرک او پټيو تر منځ پرته وه. که چرې يو بزګر، چې خپله غوا يې تر مخه کړې وه، په دې وخت کې نه وای رارسيدلی ، دآس مخه يې نه وای نيولې، نوهغه به هم دې کندې ته لويدلی وای. هوښيارخان بيرته خپل ځان سره راټول کړ او پر پښو ودريد، خو ډير په غوسه اوبدحال واو بزګر ته يې وويل:« دادآس سپرلی خو يو ډير بدمزه شی دی، په تيره بيا چې څوک له يوه داسې ټټو سره ګير پاتی شی، داټټو څوک په دومره قوت له ځانه ليری غورځوی، چې نږدې وی مغزی يې مات شی، بيابه هيڅکله په داسې ټټو سپور نشم. ما دستا غوا خوښه ده، چې سړی ارام پسی روان وی او سربيره پردې هره ورځ شيدې، کوچ او پنير هم ترې تر لاسه کوی، را ته ووايه چې د څه په بدل کې به زه د يوی داسې غواڅښتن شم ؟»بزګر ورته وويل:« اوس نو چې ته غوا ته دومره ډير خوشاليږی، نو زه حاضر يم چې غوا مې ستا دآس په بدل کې درکړم.» هوښيارخان په زښته ډيره خوښې هوکړه ورسره وکړه؛ بزګر پر آس سپور شو او په بيړه ترې وځغاست. هوښيارخان خپله غوا تر مخه کړه، په دې بختوری سوداډيرخوښ او په دې سوچ کې وچې:« که اوس يوازی وچه ډوډی ولرم ــ اودا خو هيڅ نشی کېدای چې ډوډی به هم نه لرم ــ نو څومره مې چې زړه وغواړی دکوچو او پنير سره به يې خورم او که تږی شوم، نوغوا به ولويشم او شيدې به وڅښکم. ای زما زړګيه، نور نو ته څه غواړی ؟»کله چې پر لار يوه رستورانت ته ورسيد، هلته تم شو او په خوراک سرشو، دغرمې او ماښام ډوډی يې دومره وخوړه، چې څه يې په جيب کې لرل، ټول يې په ډوډی ورکړل او په وروستيو پاتی شوو مېده پيسو يې ځان ته شربت راو غوښته.تردې وروسته يې غوا د خپلې مور دکلی په لورروانه کړه

څونه چې غرمه رانيږدې کيد له، ورسره ګرمې هم ډيريدله.

هوښيارخان په يوه چمن کې روان واو يو ساعت لارنوره هم ور ته پاتی وه، ډيره ګرمې يې وشوه او له تندې يې ژبه په زامه پوری ونښته. هوښيارخان په دې سوچ کې وچې:« ددې تندې او ګرمې چاره کولې شم، غوا به ولويشم او په شيدو به يې ځان تازه او

ځواکمن کړم.»

غوایې پر یوه وچه ونه پوری وتړله، خپله خولې یی ترلاندې کړه، که هرڅومره هڅه یې هم وکړه ، غوایو ښاڅکئ شیدې هم ور نه کړې، ځکه چې دې دغوا دلویشلو په چل نه پوهیده، نوغوا بی حوصلې شوه، د شا په پښه یې د ده پر سر داسې سخته لګت ورکړه، چې پر ځمکه ولویداو ډیر وخت نه پو هیده چې چرته پروت دې. له نیکه مرغه په دې ترڅ کې یو قصاب پر دې لار راغی، چې یووړوکې وری یې په لاسی ګاډی کې اچولې واو ناره یې کړه چې: « دا څه بد حال دی!» او دهوښیارخان سره یې په را پور ته کېدو کې مرسته وکړه. هوښیارخان ټول هغه څه ورته بیان کړل چې ورته پیښ شوی ول. قصاب ورته خپل داوبو پیټکی ورکړ او ویې ویل چې: « لومړی یو څه وڅیښه او دمه وکړه. داغوا شیدې نه درکوی، ځکه چې زړه ده او یوازې د بوخه بار وړلو اویا دحلالولو لپاره ښه ده.» هوښیارخان دخپل سر ویښته راکښ کړل او ویې ویل چې: « هی هی، چا دا فکر کاوه!ښه به دا وای چې مې دا حیوا ن په کور کې حلال کړی وای، خو پوښتنه داده چې غوښه به یې څرنګه وی! ما خو دغوا غوښه نه خوښیږی،او خوند نه راکوی. هو! که څوک داسې یو ځوان وری ولری، نود هغه غوښه بیا بل ډول خوند لری اوساسیچ به هم ورسره وی.» قصاب ورته وویل چې:« واوره، هوښیارخانه، ستا د خوښې لپاره زه داوری دغوا په بدل کې درکوم.» هوښیارخان ورته وویل چې:« خدای دې تاته ددې دوستی په بدل کې اجر در کړی.» هوښیارخان بیا روان شواو په دې سوچ کې وچې تر اوسه هرڅه دده په خوشالی او ګټه تمام شول، خو د لته دبوی بلی ناراحتی سره مخامخ شوچې ډیر ډیر زر بیا هر څه سم شول. تردې وروسته یو هلک په مخه ورغی، ده یوه ښکلی سپینه هیلی تر ترخګ لاندې نیولې وه. دواړه دلاری پر سر سره ودریدل او یو بل ته یې یو څه وخت ورکړ.هوښیارخان دخپل بخت کیسه بیان کړه اوهلک ته یې دا وویل چې په څه ډول یې هر وار دځان په ګټه سودا وکړه. هلک ورته وویل چې دا هیلی یې دکوچنی دزږیدو ورځې د نمانځنې د ډوډئ له پاره را وړی ده. بیایې هیلی له وزرو ونیوله او هوښیارخان ته یې وویل چې:« یوځل یې پورته کړه،چې څومره درنده ده. اته او نی مې ښه خوراک ور کړی دې، که څوک ددې کباب وخورې، نوله ډیره خونده به یې دخولې د کونجو نه غوړی را وځاځی.» هوښیارخان هیلی په یوه لاس وتلله او ویې ویل، هو، دا ښه درنده ده، خو زما وری هم وړوکې وری نه دې.» په دې ځای کې هلک په پریشانی هری خوا ته وکتل، سر یې هم وخوځاوه او ویې ویل چې:« واوره، دا ستا دوری موضوع ماته سمه او پاکه نه ښکاری، په هغه کلی کې چې زه ترې راغلم، د یو چا وری غلا شوی و، زه ویریږم، چې دا ستا وری به همغه وری وی ؛دا به ستا لپاره ښه نه وی که چرې دې له دې وري سره ونیسی، ترټولو کمه جزا به دې داوی چې یوی تور ځا ته به دې وروغورځوی.» خوارکی هوښیارخان ډیر وډار شو او ویې ویل چې:« اخ خدایه ! ددغه موصیبت په وخت کې زما سره مرسته وکه!» د ه هلک ته وویل چې ته خو ښه خبرېې اوهم دلته بلد یې، زما څخه دغه وری واخله او خپله هیلی دې ما ته راکه.» هلک ورته وویل چې: « زه به دا خطر په ځان ومنم، خو ستا ددې بد بختی مسؤلیت په غاړه نشم اخیستلی.» ده رسی په لاس کې ونیوله اوپه بیړه یې وری دځان سره په یوه څنګځنې لا راکښ کړ. په دې توګه هوښیارخان ځان له غمه خلاص کړ، هیلی یې دتخرګ لاندې ونیوله او دکور په لور روان شو. ده له ځان سره ویل چې: « که سم فکر وکړم نو په دې راکړه ورکړه کې مې ګټه وکړه، لومړی خو کباب دې، وریسی دا یو عالم غوړچې دکباب کېدو په وخت کې به تر ی را وځاځی، چې دکال د یوی څلوریزی په اوږدو کې ــ دهیلی غوړو ډوډی ــ لپاره بس کیږی. په دې به مې مور څومره خوشاله شی.» کله چې وروستی کلی ته ورسید، چې ګوری هلته د بیاتیو تیره کوونکئ د کراچې سره ولاړ دې، څرخ یې ټیت نری اواز کاوه او ده ورسره سندری کولې:

ز ه بیاتی تیری کوم او تیز یی څرخوم
او زما بالا پوښ و باد ته ځوړوم

هوښیارخان ودرید او په مینه یې ورته کتل؛ بالاخره په خبرو راغی او ورته و یې ویل چې:« ته ښه اوسوکاله ژوند لرې، ځکه کله چې بیاتی تیری کوی، ورسره مست اوځوشال هم یې،» بیاتی تیری کوونکې په ځواب کې ورته وویل چې:« هو! دلاس کسب په حقیقت کې دسرو زرو ځمکه ده، دبیاتیود یوه تکړه تیره کوونکې جیب له پیسو خالی نه وی، هر وخت چې جیب ته لاس کړی پیسی پکې مومې. اوس راته ووایه چې تا دا ښکلی هیلی چرته راونیوله ؟» « دا مې را نیولې نه ده، دخپل وری په بدل کې مې تر لاسه کړه.» «او دا وری دې له کومه کړ ؟» «دوری په بدل کې مې غوا ورکړه.» «اوغوا ؟» «دغوا په بدل کې مې آس ورکړ.» « او آس ؟» « هغه مې دسرو زرو په غونډاری، چې زما دسر په شان غټ و، واخیست.» «او داسره زر ؟» « ای، دامې داوو کالونو دکار تنخوا وه.» دبیا تیو تیره کوونکې ورته وویل چې:« تاسی په هره سودا کې ښه ګټه کړی ده، خوداسې هم کولې شی چې دپیسو ترناوی لاندې

ودریږی او پیسی به په خپله په جیبو کې در تویېږی. هر سهار چې راپورته کېږی، بخت به درسره مل وی.» هوښیارخان ترې وپوښتل چې:« دا ځرنګه امکان لری ؟» «تاسی باید زما په څیر دبیاتیوتیره کونکۍ شی، ته د د ې کارله پاره یواز یوی تیره کوونکې ډبرې ته اړتیالری اونورهرڅه په خپله سمېږی، زه داډول د ډ بره لرم، که څه هم یوڅه زیانمنه شوی ده، خوزه یې هم په بدل کې له تا نورڅه نهِ غواړم، یوازی دا هیلی راکړه، آیا غواړی چې دا سودا وکړی ؟» هوښیار خان ورغبرګه کړه چې:« په دې کی خو پوښتنې ته کومه اړتیا نشته، په دې سودا به زه دځمکې پرسر تر ټولو نیکبخت انسان شم، ځکه پیسی به لرم او هر ځل چې جیب ته لاس کړم، خالی به نه وی، نور به دڅه لپاره ځور او اند ېښنه کوم ؟» هیلی یې ورکړه اوتیږه یې ترې واخیسته. دبیاتیو تیره کونکې یوه بله عادې ډبره چې تر څنګ یې په ځمکه پرته وه، راپورته کړه اوهوښیارخان ته یې ورکړه او ویې ویل چې:« دا ډېره دکار ډبره ده، ته په دې مېخونه ټکولې شې اوهم زاړه کاړه مېخونه سمولې شې. داهم درواخله، خوښه به یې ساتې.» هوښیارخان دواړه ډبری په ځان بار کړې اوپه خوشال زړه ترې روان شو، سترګې یې له ډېری خوشالی ځلیدلی اوناره یې کړه چې:« زه له بخت سره دې دنیا ته راغلی یم، د یوه نیکمرغه کوچنی په څیر مې ټولې هغه هیلی تر سره کېږی چې، لرم یې.» داچې سهار دوخته په پښو شوی و، نووروورو ستړی شواوله لوږی هم په تکلیف شو، ځکه څه یې چې در لودل، ټول یې دغوا درانیولو په خوشالی کې وخوړل .اوس نولا په ډېر  تکلیف پر لار تللی شواو مجبور و چې شیبه په شیبه ودریږی او دمه وکړی، تیږې هم په درندې شوې اوډېر یې ستومانه کړه. اوس نو په دې ارمان شو، چې کاشکې ددې ډبرو له بار نه ازاد شوی وی. له ډېری ستومانې دهلزون په شان ښویېده او ځان یې هلته د ېتیو په منځ کې یوې څا ته ورساوه، ترڅوچې دمه وکړی او دڅا په سړو اوبو یو څه ځان تازه او تنده ماته کړی. ددې لپاره چې ډبرو ته زیان ونه رسیږی، نوپه ډېراحتیاط یې دځان تر څنګ دڅا په غاړه کېښودې، بیا دی هم کښېناست او دڅښلو لپاره په اوبوور ټیټ شو، پام یې نه وچې څنګ یې په ډبره ولګید او دواړه ډبری ښکته په څاکې ولویدې. کله چې هوښیارخان ډبرې څا ته دلویدو په حال کې ولیدې، له خوشالی په غورځنګو شواو لوی خدای ته په سجده او په ګونډو شو، په سترګو کې یې له خوشالی اوښکې راغلی او په زړګونو شکرونه یې ادا کړل. دې خو له لوی پروردګار نه په دې ډېر راضی وچې، پخپل رحمت یې، بیله دې چې دې لاس اوپښه وخوځوی، ددې درندو ډبرو له باره ازاد کړ. هوښیار خان دبخت په ځپوکې لاهوو اوناره یې کړه چې: « دځمکې پر مخ ترما بل نیکبخت انسان نشته.» په خوشال زړه، د ډ برو له درانده بارنه په ازادو مټو، په ټوپونو او غور ځنګونو یې ځان کور او مور ته ورساوه. پای

## په لوګي تور د شیطان ورور

یوسرتیری د جګړې نه راستون شو اونوم یې جمرود و. اوس نو جمرود بیکاره و اود ژوند د پاره یې پیسې هم نه لرلې، نوځکه ډېر خپه اوغمګین و او په دې سوچ کې ډوب شو چې څه باید وکړي؟ جمرود یوه ځنګل ته ولاړ اوهلته دیوه کوچني سړوکي سره مخامخ شو. دا وړوکی سړوکی په حقیقت کې شیطلن و. شیطان د جمرود نه پوښتنه وکړه چې ولې دومره خپه دی؟ جمرود ورته و ویل چې وږی دی، پیسې نه لري، نو ځکه دخوړلو له پاره څه رانیولی هم نه شي. شیطان ورته و ویل چې ته کولی شې زما نوکر شې. ۷ کاله مې نوکري وکړه. تر هغه وروسته به بیا ازاد سړی وې. خو د دې ۷ کالونو په موده کې دځان مینځلو او ګمنځولو اجازه نه لرې. پزه به هم نه پاکوې. ویښته اونوکان به نه لنډوې او دسترګو د پاکولو اجازه هم نه لرې. جمرود د څه فکر کولو نه وروسته دشیطان غوښتنه ومنله او ور پسې دوزخ ته ورسره روان شو.

شیطان او جمرود دوزخ ته ورسیدل. په دوزخ کې ډېر غټ غټ دیکونه په نغریوبار دي. دیګونه سر پوښونه لري. دهر د یګ لاندې اور بل دی. شیطان جمرود ته و ویل: په دیګونو پورې اور بل کړه. پاک کاري وکړه. چټلی د باندې وغورځوه. د د یګ منځ ته ونه ګورې. او که نه جزا به در کړم. شطان داڅه جمرود ته و ویل او لاړ.

جمرود کار پیل کړ: جمرود دد یګونو لاندې اور ولګاوه. جمرود پاک کاري وکړه. جمرود خځلې دباندې وغورځولې. څه موده وروسته شیطان بیرته راوګرځیده. جمرود لګیا دی په کار کې زیار باسي. له دې امله شیطان ترې خوشاله دی اوبیرته ځي.

جمرود خپل کار سرته ورساوه. اوس نو جمرود ډېر په تلوسه کې دی: جمرود غواړي چې ارو مرو د د یګ منځ وګوري. خو شیطان له دې کار نه منه کړې دی. جمرود سره له دې هم په ډېر احتیاط د د یګ سر پورته کړا د د یګ د ننه یې وکتل. په دیګ کې یوسرتیری ناست دی. دا سرتیری یو بد انسان دی. جمرود دا سرتیری له پخوا پیژنده او ورته ویې ویل: پخوا زما برخلیک ستا په لاس کې و. اوس ستا برخلیک زما په لاس کې دی. جمرود سرپوښ بیرته په د یګ کیښود. او نور لرګي یې هم ور پسې کړل. اور زور واخیست.

اوس نو جمرود غواړي چې دنورو دیګونو منځونه هم وګوري. نوپه ډېراواري یې د دوهم دیګ سرپورته کړاو د د یګ منځ ته یې وکتل: په دې دیګ کې هم یو سرتیری ناست دی. دا سرتیری هم یو بد انسان دی. جمرود دا سرتیری هم له پخوا پیژنده او ورته ویې ویل: پخوا زما برخلیک ستا په لاس کې و. اوس ستا برخلیک زما به لاس کې دی. جمرود سرپوښ بیرته په د یګ کیښود. او یو غټ لرګی یې په اور کیښود. اور زور واخیست.

اوس نو جمرود غواړي چې د دریم دیګ منځ هم وګوري. نوپه ډېر اواري یې د دریم دیګ سر پورته کړاو د د یګ منځ ته یې وکتل: په دې دیګ کې هم یو سرتیری ناست دی. دا سرتیری هم یو بد انسان دی. جمرود دا سرتیری هم له پخوا پیژنده او ورته ویې ویل: پخوا زما برخلیک ستا په لاس کې و. اوس ستا برخلیک زما به لاس کې دی. جمرود سرپوښ بیرته په د یګ کیښود. او غټ غټ لرګي یې په اور کیښودل. اور زور واخیست.

جمرود اوه کاله په دې ډول دشیطان نوکري وکړه. جمرود ځان نه مینځي. جمرود ویښته نه ږمنځوي. جمرود پزه نه پاکوي. جمرود ویښته نه جوړوي. جمرود نوکان نه لنډوي. جمرود سترګې نه پاکوي.

اوه کاله تیرېږي. شیطان بیر ته راځي. شیطان دجمرود نه پوښتنه کوي: تا څه وکړل؟ جمرود وایي: اور مې بل کړ. پاک کاري مې وکړه. خځلې مې دباندې وغورځولې.

شیطان وایې: تا خو د د یګ منځ ته هم وکتل. ما خو ترې منه کړې وې! خوتا اورته لرګي هم ور واچول. دا سم کار و. نو ځکه جزا نه درکوم. اوس نو دلته ستا کار پای ته ورسید. ته کورته تللی شې. زه ستا دکار مزدوري در کوم: دایو دچټلې نه ډک دشا بکس. دا واخله او دځان سره یې کورته یوسه. خو ته دځان مینځلو اجازه نه لرې. ځان به نه ږمنځوې. ویښتان به نه جوړوې. نوکان به نه لنډوې. او اجازه نه لرې چې سترګې دې ومینځې. که څوک دې وپوښتی چې له کومه ځایه راغلی یې؟ ورته وایه چې: زه له دوزخه راغلی یم. که دې وپوښتي چې ته څوک یې؟ ورته وایه چې: زه په لوګي تور دشیطان ورور یم. زه یوازاد سړی یم.

جمرود خپل دشا بکس له چټلۍ ډک کړ او لاړ. جمرود خپلې مزدورۍ ته هک پک شو. جمرود ځنګل ته راغی. جمرود غواړي چې چټلي د بکس نه ایسته کړي. جمرود بکس خلاس کړ. خو په بکس کې چټلي نشته. په بکس کې سره زر دي: چټلي په طلا بدله شوه. اوس نو جمرود نیکبخت سړی دی.
جمرود ښار ته ځي. په ښار کې یو میلمستون شته. جمرود غواړي چې په دې میلمستون کې ویده شي. دمیلمستون خاوند دمیلمستون چلوونکی هم دی. دمیلمستون خاوند جمرود میلمستون ته نه ورپرېږدي. جمرود ویروونکی ښکاري: جمرود له سره چټل دی.
دجمرود نوکان اوږده دي. دجمرود ویښتان اوږده دي. نوځکه دمیلمستون چلوونکی ترې پوښتي چې ته له کوم ځایه راغلی يې؟
جمرود وایي چې: له دوزخه راغلی یم. دمیلمستون چلوونکی بیا پوښتنه کوې: ته څوک يې؟ جمرود وایي چې: زه په لوګي تور دشیطان ورورېم. اوزه یو ازاد سړی یم.
د میلمستون چلوونکی په دې خبرو وډارشو. جمرود خپل دشا بکس چې له سرو زرو ډک و، ورښکاره کړ. دمیلمستون چلوونکی حیران پاتې شواو جمرود یې په ډېره مهربانۍ خپل ملمستون ته راوغوښت. جمرود ته یې یوه کوټه ورکړه اوتر ټولو ښه ډوډۍ هم ورکړه. جمرود خوري اوڅیکي. خو جمرود ځان نه مینځي او نه ږمنځ کوي. تر دې وروسته جمرود ویده کېږي. نیمه شپه ده.
دمیلمستون چلوونکی ورو ورو دجمرود کوټې ته ور ننوزي او دهغه له سرو زرو ډک دشا بکس غلا کوي. جمرود ویده دی.
نوځکه دمیلمستون چلونکي په ور تګ خبر نه شو. په سبا جمرود راپاڅیده. جمرود غواړي چې دکوټې دکرایې پیسې ورکړي. خو د شا بکس یې دسرو زرو سره ورک دی. دمیلمستون چلوونکی هم ورک دی.
جمرود خواشینی دی. نو جمرود بیرته شیطان ته ورځي. جمرود شیطان ته وایي:
دملمستون چلوونکي زما دشا بکس دسرو زرو سره را څخه غلا کړ. ته مرسته راسره کولی شې؟
شیطان جمرود مینځي. شیطان دجمرود ویښتان ور جوړوي او نوکان یې ور لنډوي. شیطان دجمرود پزه پاکوي. او شیطان دجمرود سترګې ور مینځي. اوس نو جمرود بیرته دانسان په شان ښکاري.
شیطان جمرود ته بیادچټلۍ ډک دشا بکس ور کوي. بیا ورته وایي:
د میلمستون چلوونکی ته ورشه. دمیلمستون چلوونکی باید تاته خپل سره زر بیرته درکړي. او که نه نو زه ورځم. او دلته یې له ځان سره راوړم.
جمرود په ښار کې د ملمستون چلوونکي ته ورځي. او ورته وایي:
تا زما سره زر غلا کړي دي.
زما سره زر بیرته راکړه. او که نه شیطان دې له ځان سره وړي. او بیا به ته داسې ویروونکی ښکارې لکه زه چې ښکارید م.
د میلمستون چلوونکی ډارېږي.
د میلمستون چلوونکی جمرود ته سره زر بیرته ور کوي.
سربیره پر دې دملمستون چلوونکی نوره ډېرې پیسې هم ور کوي. او دا ځکه چې دمیلمستون چلوونکی ډیر ډارېږي.
اوس نو جمرود بډای دی. جمرود په لږو پیسو ځان ته یو کمیس رانیسي. او په ټول هیواد کې په سفر کرځي. جمرود دسفرپه بهیر کې ساز غږوي. دا هیواد یو پاچا لري. جمرود دخپل سفر په جریان کې حتی پاچا ته هم ساز غږوي. پاچا دجمرود ساز خوښیږي.
پاچا جمرود ته وایي:
ته کولی شې چې زما د مشرې لورسره واده وکړې. خو دپاچا مشره لور نه غواړي چې دجمرود سره واده وکړي. نوځکه پاچا جمرود ته وایي: ته کولی شې چې زما دکشرې لور سره واده وکړې. دپاچا کشره لور یې مني. او جمرود دپاچادکشرې لور سره واده کوي. لږ کالونه وروسته پاچا مري. جمرود یې په ځای کښیني. جمرود اوس نوی پاچا دی. جمرد دخپلې میرمنې سره یو ځای ډیر کالون نیکمرغه ژوند تیروي. پای

## تمساخ ( کروکوډ یل ) اوبیزو

وایي چې په یوه ونه کې چې د یوه سیند په غاړه ولاړه وه، یو بیزو په خوشالۍ ژوند کاوه. ونې به خوندورې میوې نیولې او بیزو به دا میوې په ډیره مینه خوړلې. په سیند کې یو تمساخ ( کروکوډ یل ) د خپلې میرمنې سره اوسیده. تمساخ یوه ورځ دسیند له اوبو را ووت اوپه مهربانۍ یې دبیزوسره سترې مشي وکړه او ورته ویې ویل چې:« ښالی بیزو سلام.» بیزو هم یو مهربان ژوی واو په حیرانتیا یې ځواب ورکړ چې:« سلام، ښاغلی تمساخ! په دې ښکلي سهار چرته روان یاست؟» تمساخ له د وه ورځو را په دې خوا څه نه و خوړلي، ځکه چې په سیند کې مایان نشته وو او ویې ویل چې:« ما سهارنی نه دی کړی او وږی یم. ایا ته پوهیږې چې چرته به یو څه خواړه تر لاسه کړم؟» بیزود سخاوت او د ښه نیت خاوند و، دخپلې ونې یې یو څه تازه میوه ورکړه چې ویې

خوري. کروکوډ یل له سره میوه نه خوري، خودا تمساخ ډیر وږی و اودا میوه ډیره خوندوره وه، نوځکه یې ټوله وخوړه. د دې خوندورې میوې سره د بیزو او تمساخ ترمنخ خوندوره ملګرتیا پیل شوه. په لمر او هم په باران کې یې هره ورځ سره لیدل، بحثونه یې کول او د مځکې او اسمان په هکله سره رږغیدل. دا یوه بې سارې اوډ یره ټینګه ملګرتیل وه.

په دي وخت کې د تمساخ میرمن په سند کې نور مایان نه میندل، نوځکه یې دخوړو له پاره څه نه لرل، لوږې واخیسته او میره ته یې و ویل چې:« زه غواړم چې دا بیزو وخورم، ځکه نور دلوږې زور نه لرم.» میره یې د مایي په شان غلی پاتې شو او دځان سره یې و ویل چې:« څنګه به دخپل ملګري سره خیانت وکړم؟» دی حیران او پریشان و، ځکه میرمنې یې له سره د بل څه په هکله فکر نه شو کولی، هغه ناروغه وه او ارو مرو یې غوښتل چې د بیزو زړه وخوري. په تمساخ خپله میرمن ډیره ګرانه وه، په ده بیزو هم ډیر کران و. هیڅ نه پوهیده چې څه وکړي.

په پای کې تمساخ خپل ملګري، بیزو، ته ورغی او ورته ویې ویل چې:« نن زما میرمنې ستا له پاره یو څه پاخه کړي دي، ماته یې و ویل چې له ځان سره یې کور ته راوله.» بیزو د دې خبرې په اوریدو حیران اوهم ډیر خوښ شو . ناڅاپه یې له ونې ټوپ وهل او د تمساخ په ملا کیناست. کله چې تمساخ دسیند منځ ته ورسید، خپل ملګري ته یې و ویل چې:« په دې ډ یر خواشینه یم چې زما میر من تا وژني، دا غواړي چې ستا زړه وخوري.» بیزو ډ یر هوښیار و. بیدرنګه یې ورته و ویل چې:« دا دې ولې پخوا راته ونه ویل؟ پوهیږې چې ما خپل زړه په ونه کې پرې ایښی دی. اوس مې باید خپلې ونې ته بیرته یوسې، ترڅو چې زړه مې له ځان سره راوړم.» احمق تمساخ نه پوهیده چې ملګری یې ډ یر هوښیار دی. دی بیرته دونې په لور په لامبوشو. کله چې ونې ته ورسیدل، بیزو ناڅاپه ونې ته ټوپ واچاوه او تمساخ ته یې و ویل چې:« اي احمقه تمساخه، دا څنګه کیدای شي چې زمازړه دې په ونه کې وي. نور په تا باور نه کوم. زه دې وغولولم اوزړه دې رامات کړ. نور نه غواړم چې دخپلې ونې خوږې میوې درکړم. ورځه ورک شه او بیا هیڅکله دلته را نه شې!» احمق تمساخ هرڅه له لاسه ورکړل. پای

Geschichten in Einfacher Sprache

بزګر او سلطان محمود

یو وخت او یا هیڅ وخت .....کله چې چا ټ لا په واښو کې پروت و...... په دې وخت کې یو پاچا ژوند کا وه او سلطان محمود نو میده. داسلطان محمود، کله چې داوړې په یوه ورځ په چکر وتلی و، په یوه پراخ میدان کې د ناک د یوې ونې لاندې وغزید. ده یو هغه ناک وخوړ چې دونې نه په مځکه را لویدلی و. بیا یې د ناک ونې خاوند راوغوښت او ورته ویې و یل چې: « ما ستا د ناکوڅخه یوه دانه ناک وخوړ، دا راته وبخښه..... که کوم وخت دڅه کار له پاره استانبول ته راغلې، نوزما لید و ته راشه.! کله چې دسلطان محمود پوښتنه وکړې، نو هر څوک به مې پته درته وښيي.»

وخت تیریده او راتیریده، د دې بزګر دیوه بل بزګر سره د مځکې په سر دعوه شوه. دعوه یې دهغه ځای په محکمه کې، چرته چې اوسیده، بایلوده. خو دی په دې عقیده وه چې حق د ده په پلو دی، نوځکه دمحکمې حکم ډ یر خواشینی کړ. هرې خوا یې ډیرې هلې ځلې وکړې ترڅوچې موضوع سمه حل کړي، خو خپل حق یې تر لاسه نه شو کړی. په دې وخت کې یې میرمنې ورته و ویل چې:« زه به یوه ټوکرۍ ناک راټول کړم، ته به یې سلطان محمود ته ورورې، هغه به زموږ حق ته پام لرنه وکړي.»

بزګر دخپلې میرمنې خبره ومنله، استانبول ته ولاړاو هلته یې له هر چا د سلطان محمود پوښتنه کوله او د پاچا د قصر پته یې ولګوله. سلطان محمود دبزګر تود هر کلی وکړ. تر هرکلي وروسته، بیا دیوه خواړه مجلس نه وروسته او ور پسې دخوندورې ډوډۍ د خوړلو نه وروسته د پاچا په امر بزګر ته یوه ښکلې کوټه او ارامه بستره ورکړ شوې.

په شپه کې بزګر مجبور شو چې یو ځل د بانې و وزي. په دې کې یې ډیرې دروازې خلاصې کړې او وترلې، د خپل ځای نه لرې لاړ، لار یې غلطه کړه..... اوبالاخره د ساتونکو سره مخامخ شو. ساتونکو ترې وپوښتل چې دی څوک دی او د لته څه غواړي. بزګر نه شو ویلی چې په څه پسې ګرځې. ساتونکو و ویل چې:« دا سړی ارو مرو یو جاسوس دی.» او دزندان یوې کوټې ته یې ور واچا وه. درې کلونه تیرشول چې یوه ورځ پاچا هغه بزګر بیرته په یاد شو چې ده ته یې یوه ټوکرۍ ناک راوړې وواو نوکرانو ته یې امر وکړ چې ویې لټوي. کله چې خبر شو چې بزګر په زندان کې پرت و، نوډیر خواشینی شواوویې پوښته چې:« څه شی غواړې؟»

بز ګر ورته و ویل چې:« ای زما پاچا ! زه له تا یو تبر غواړم ، یوه رسۍاو یو قرآن کریم.»پاچا غوښتل پوه شي چې بزګر دادرې شیان د څه له پاره غواړي.بزګر ورته و ویل چې:« په تبر هغه ونه غوڅوم چې ته ترې لاندې غځید لی وې، په رسۍ خپله میر من د دې له پاره زندۍ کوم چې د یوې ټوکرۍ ناکو سره تا ته را ولیږلم او په قرآن کریم قسم خورم چې بیا به دسلطان محمود په نامه د هیڅ انسان سره سترې مشې ونه کړم. د بزګر دا خبرې د پاچا ډ یرې خوښې شوې، د سرو زرو نه ډک یو بکس یې ورکړ او نیکمرغي یې ورته وغوښته.

Quelle: Pertev Naili Boratav

## دژباړونکي بیوګرافي

رڼاګل اریوبزی په ۱۹۴۶/۶/۱نیټه دافغانستان په پکتیا ولایت کې داریوب ځاځیو ولسوالی په شا محمد کلي کې دنیا ته راغلی دی. لومړنی، منځنی او ثانوزده کړې یې دکابل ښار درخمان بابا په لیسه کې سرته رسولي دي او په ۱۹۶۵م کال کې له یادې لیسې فارغ شوی دی. د۱۹۶۶ م کال په وروستیو کې دوخت د پوهنی وزارت د یوه تحصلي بورس نه په استفادې سره دلوړو زده کړو له پاره دالمان فدرالي جمهوریت ته تللی دی. دژبې کورس او د « شتودین کولیګ » نه تر فارغیدو وروسته، په ۱۹۶۸م کال کې د فرانکفورت ښار د یوهان ولفګنګ ګویتی پوهنتون کې شامل شوی. دلوړو زده کړو اصلي مضمون یې ښوون اوروزنه او ځنګځني ځانګې یې ټولنپوهنه او اروا پوهنه وې. په ۱۹۷۳م کال کې یې دماسترۍ ډیپلوم تر لاسه کړ. تر دې وروسته یوکال دهیسن ایالت دښوونې او روزنې وزارت په مربوطاتو کې په کار بوخت شو. د ۱۹۷۴ م کال په وروستې برخه کې خپل هیواد ته ستون شو او لومړی په کابل کې دسیدجمالدین دښوونکو روزنې مؤسسه کې استاد مقرر شو. څه موده وروسته دکابل پوهنتون دژبواوبشري علوموپوهنځي دښوون اوروزنې ډیپارتمنت په علمي کدرکې ومنل شو. له ۱۹۸۲م تر ۱۹۸۸م کال پوري دښوونې او روزنې پوهنځي دریاست دنده ور په غاړه وه. د۱۹۸۸ او ۱۹۸۹ تر منځ دبهرنیو چارو وزارت دعلمي څیړنو په ځانګه کې په کار بوخت شو او په ۱۹۸۹کې دافغانستان دعلومو اکاډمۍ دبشري علوموریاست په علمي کدر کې شامل شو. دلته یې څه موده کار وکړ، خو دخپل پوهنځي دادارې او استادانو دپرله پسې غوښتنو له امله، بیرته دکابل پوهنتون دښوونې او روزنې پوهنځي ته داستاد په توګه لاړ. د۱۹۹۱م کال په وروستیو میاشتو کې له هیواده پردیس او المان ته مهاجر شو. استاد اریوبزی اوس دجرمني په کسل ښار کې اوسیږي او کله ناکله لیکنې اوژباړنې هم کوي.